شهامت

د عالیقدر امیرالمؤمنین

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

د وفات د اعلان په اړه داسلامي امارت درهبري شورى او دمرحوم دکورنۍ اعلامیه

نهم کال دویمه گڼه، پرلپسې۵۲ ، شوال۱٤۳٦هق، جولای ۲۰۱۵م

د اسلامي امارت مؤسس عالیقدر أمیر المؤمنین

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ته ځانگړې گڼه

- دفقید الملة والدین[امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهدرَحِمَهُ اللهُ] دغم په یاد او ویر دزړه په وینو څو ټکي...!
- دتعزیت او بیعت پیغامونه
- د اسلامي امارت د نوي امیر له طرفه د ټولو بیعت کوونکوله بیعت کولو څخه دقبولیت او مننې پیغام
- هغه شخصیت چې ژوند او وفات یې دواړه د مسلمانانو لپاره د وحدت پیغام پرېښود!
- د اسلامي امارت د نوي امیر د لومړۍ غږیزې وینا ارزښتمن پیغامونه
- امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله مجدد قرن!
- دعالیقدر أمیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله ژوند لیک

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

نهم کال دویمه گڼه، پرلپسې۵۲ ، شوال۱٤۳٦هق، جولای ۲۰۱۵م

دامتیازخاوند :
دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیـر :
ابو ظهیر

کتـنـپـلاوی :
شاهد "حقاني " لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیــه :
یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :
تخنیکي څانګه

یــادونـــه
شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

لـــړلیـــک

ګـڼـه	عـــنـــوان	مخ
۱	دفقید الملة والدین امیرالمؤمنین ...دغم په یاد او ویر......	۱
۲	د امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد دوفات اعلامیه......	٦
۳	د اسلامي امارت د نوي امیر د ټاکلو په اړه اعلامیه..........	۸
٤	....د ټولو بیعت کوونکو له بیعت کولو څخه د قبولیت پیغام..	۹
۵	د بیعت پیغامونه..............	۱۰
٦	ملا محمد عمر مجاهد د مسلمانانو هغه رهبر چې دین او.....	٤٤
۷	هغه شخصیت چې ژوند او وفات دواړه یې مسلمانانو ته.....	۵۱
۸	ګلورینې پاڼې..............................	۵٤
۹	نوی قیادت ، نوي ازمیښتونه او مسؤلیتونه.............	۵٦
۱۰	د مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد ژوند لیک.....	٦۰
۱۱	د ملامحمد عمر په اړه د حامد میر لیکنه..................	٦۹
۱۲	د ملامحمد عمر تر ټولو ستره لاسته راوړنه................	۷۲
۱۳	ثاني بت شکن................................	۷۵
۱٤	ملامحمد عمر او جورج بش..........................	۷٦
۱۵	د یو ویشتمې پیړۍ امیرالمؤمنین وفات شو............	۷۸
۱٦	ریښتینی عمر..............................	۸۰
۱۷	امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد مجدد قرن.............	۸۲
۱۸	د ملامحمد عمر مجاهد د ستر شخصیت په اړه زمونږ.........	۸٤
۱۹	طالبانو مه ورخطا کیږئ..........................	۹۲
۲۰	وياړلی او ډاډمن ویر............................	۹٤
۲۱	با وقاره امیر...............................	۹٦
۲۲	ملامحمد عمر مجاهد ومړ خو........................	۹۸
۲۳	د داؤد جنبش سره د ملامحمد عمر څو خاطرې!.............	۱۰۰
۲٤	افتخار مو ومړ.............................	۱۰۱
۲۵	هغه امیر چې په وفات یې ټول امت......................	۱۰۲
۲٦	که ملامحمد عمر مجاهد نه وای را پاڅیدلی.................	۱۰۳

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بـریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

دفقید الملة والدین[امیر المؤمنین

ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ‌اللهُ د غم په یاد او ویر دزړه په وینو څو ټکي...!

د ۱۴۳٦ هق کال د شوال په ۱۴ [زمري ۷- جون ۳۰]مه نیټه د چهارشنبې په ورځ د افغانستان د اسلامي امارت رهبرۍ شورى او د مرحوم امیر المؤمنین رَحِمَهُ‌اللهُ کورنۍ په یوه ګډه اعلامیه کې اعلان وکړ چې: دافغانستان داسلامي امارت مؤسس او زعیم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د ورپیښې ناروغۍ له امله خپل روح ملک الارواح ته وسپاره او له فاني ژوند ه یې د تلپاتي ژوند په لور سفر وکړ. انا الله وانا الیه راجعون.

په دې غمګین خبر دهېواد دننه او بیرون دلکونو مسلمانانو ،علماوو، طالبانو او مجاهدینو زړونو ټکان وخوړ او په سترګو کې یې دغم اوښکې راغلې، یقیناً دامیر المؤمنین رَحِمَهُ‌اللهُ مړینه داسلامي امارت او مسلمانانو لپاره دروان تاریخ تر ټولو لویه صدمه اوغمېزه ده،ځکه نوموړي رَحِمَهُ‌اللهُ پخپلو مخلصانه کوښښونو ، سترو قربانیو او د لا مثال ایثار په برکت چې داسلامي نظام او اسلامي فکر کوم ګلبڼ سمسو ر اوپاللی نورهغه یې په وفات سره له برکتونو او مدبرانه لا رښوونو څخه محروم پاته شو ... فالی الله المشتکی!

له شک پرته داسلام او مسلمانانو ددې ستر خادم اوزعیم مړینه یو لوی ملي ماتم او لویه غمېزه ده!! ارواښاد دحق پالو نکو مشرانو اوپه شریعت دعمل لرونکو رهبرانو داوصافو اوخصایلو تر ټولو غوره نمونه و! چې د حقانیت ،للهیت اخلاص اوخدای پالنې په لار کې ګاللي زحمتونه او سترياوې به یې دمسلمانانو او افغانانو په تاریخ کې تل یادګار پاته وي، په خاصه توګه دامریکایانو او صلبیانو دوحشیانه یرغل وروسته پرلپسې دیارلس کاله ستونزې، مصایب مشکلات اوناخوالې په ځوانمردانه روحیه زغمل د اسلامي هېوادو دچارواکو په معاصر تاریخ کې بیلګه نلري ، داهرڅه ددې لپاره چې داسلام او مسلمانانو په اوسني مظلومانه اومحکومانه حالت یې خدای پال زړه صبرنه کاو، په دې وجه داسلام او افغانانو ددښمن د غوښتنو اوحکم نه په برملا انکار کولو سره یې داسلامي امت دسلفوعلماوو تاریخ ته ژوند وباښه او هم یې له ځان وروسته دخپل هېواد علماوو ،طالبانو او مجاهدینو لپاره د اسوه حسنه میراث پریښود، که نن ورځ هغه دطالبانو، مجاهدینو او علماوو ترمنځ نشته خو مبارک روح او سیرت یې، فکر او کردار یې شتون لري ځکه چې روح ته دجسم پشان مرګ نه رازي.

داسمه ده چې نوموړی اوس په جسماني لحاظ فناء دی، خو باور وکړئ! دنوموړي بشري فضایل او مجاهدانه کردار نه فناء کیدونکی دی! او تر څو چې دا جهان وي او پکې دحکومت او واکمنۍ چرچه تازه وي د یو خدای پال واکمن په توګه به دملامحمد عمر نوم او کارنامې هم ژوندۍ وي ! په فقیرانه او درویشانه ژوند به یې راتلونکي نسلونه ویاړي، یقین وکړئ! څو پیړۍ به تیرې شي ! دتاریخ ګڼ بابونه او ټوکونه به ولیکل شي! لسګونه انقلابونه او بدلونونه به راشې خو دملا محمد عمر دمیړانې او قهرمانۍ پاڼه به بدله نشي او نه به ددې ستر مسلمان امیر دقربانیو داستان بشپړ شي...!

ومـــــا دام ذکرالعبـــــد بالفضـــــل باقیـــــا
فــــذالک حی وهــــو فی الـــــتراب هالـــــک

دځښتن تعالی دقدرتونو او حکمتونو نظام هم زیات عجیبه دی، ځیني انسانان نړۍ ته وروسته راشي خو مرتبه او اجر دړومبنو صدیقینو په خواکې ورکوي امام بیهقي په دلایل النبوة کې درسول الله صَلَّى‌اللهُ‌عَلَيْهِ‌وَسَلَّمَ لاندې مبارک ارشاد نقل کړی دی.

انّه سيكون فی آخر هذه الامة قوم لهم مثل اجر اولهم، يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر ويقاتلون اهل الفتن (مشكوة ۵۸۴).

ددې امت په آخر کې به ځيني خلک وي چې هغوی ته به اجر درومبنو برابر ورکول کېږي هغوی به حکم په معروف کوي - منع به له بدو کوي او د فتنه اچونکو خلاف به جهاد کوي.

يعنې امر بالمعروف - د المنکر نه منع کول او دفتنه اچونکو پر ضد جهاد کول ـ دا درېواړه اوصاف داسې دي چې په لرلو يې وروستني درومبنو سره يوځای کيږي، بيشکه علم، تقوی زهد اونور لوړ ايماني او انساني اوصاف چې دهغو په لرلو سره يوتن دالله جَلَّجَلَالُهُ په نزد له خپلو همزولو اومعاصرو خلکو نه مخکې کېدای شي دخپلې زمانې ،امام او مقتدا گرځيدای شي ليکن اجر وثواب به هغوی ته په هغه پيمانه ورکول کېږي کومه چې د هغه زمانې لپاره ټاکل شوې!او کوم څه چې دوروستنيو زمانو او پيړيو وگړي دورومبني پير له خلکو سره يوځای کوي هغه امر بالمعروف ـ نهی عن المنکر او د اهل فتنه وو پرضد جهاد دی!!

هو! په کامل باور فقيد الملة والدين [امير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د همدې [الاخرون السابقون] له ډلې څخه و! چې درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مبارک ارشاد په مصداق د [لهم مثل اجر اولهم] له شرف او ستر و ياړ برخمن شو ، افغانستان کې دشراوفساد پرضد د نوموړي مجاهدانه کارنامې او پاڅون دلمر په څېر روښانه دی، دمفسدينو او ظالمانو له منگلو نه مظلومانو ته نجات ورکول ، په لنډه موده کې دشر اوفساد ځالې نړول د هېواد په ۹۵ سلنه اسلامي شريعت پلی کول او گام په گام دامربالمعروف نهی عن المنکر فريضه سرته رسول دصليبي يرغلگرو په خلاف بذات پخپله د جهاد ميدان ته تلل هغه اوصاف دي چې دپورتني حديث په استناد نوموړي ته الله جَلَّجَلَالُهُ دوراندينو صديقينو مرتبه ورکړه...

بله دپام وړ او عمده نيکمرغي ورته دا په برخه شوه چې مرحوم [امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ پخپل ژوند کې ديوې حق پالې اوپر حق باندې د سرفداء ډلې (طالبانو اسلامي تحريک) سرخيل او رهبر و ، د داسې ډلې او جماعت په اړه رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وړاندوينه کړې:

لاتزال من امتی ظاهرين علی الحق حتی ياتيهم امر الله وهم ظاهرون (متفق عليه).

زما په امت کې به يوه حق پالونکې ډله هميش په باطل پالونکو غالبه وي تردې چې قيامت راشي.

دا حديث بخاري اومسلم دمغيره په روايت راوړی ، خو هم دا حديث په تغير دالفاظو سره په مختلفو اسنادو مشهور شوی دی او له گڼو صحابه وو نه مروي دی په مسلم ترمذي او ابن ماجه کې دثوبان په روايت:

لاتزال طائفة من امتی ظاهرين علی الحق لايضرهم من خذلهم ، حتی ياتی امر الله وهم کذلک.

هميشه به زما په امت کې يوه ډله وي چې هغه به دحق او صداقت په اعلانولو کې بريالۍ وي باطل پالان به دهغې ډلې سره مخالفت کوي خو خدای جَلَّجَلَالُهُ به يې د هغوی له ضرر رسولو خوندي ساتي.

يعنې دحق دښمنان او کوم خلک چې ددې ډلې مخالفت کوي هغوی به ورته دنقصان په رسولو کې بری نه مومي.

په اوس وخت کې ديني علماء ،طالبان او مجاهدين هغه څوک دي چې دزمکې په مخ الله جَلَّجَلَالُهُ ته تري بل څوک گران نشته، دالله جَلَّجَلَالُهُ مقبول بنده گان هم دوی دي، اروابناد امير المؤ منين ددې دريواړو قشرونو داسې امير او لارښودو چې هغوی يې په امارت راضي او راټول ول دا داسې يوه ځانگړتيا او شرف دی چې په نيږدې شاخوا کې بل چاته تراوسه ندی په برخه .

دنړيوال ښکېلاک [امريکا] سره ډغره وهل او د هغه د اسلاميت او افغانيت ضد غوښتنو څخه په نره انکارکول ! په وړاندې يې دجهاد او مقاومت دريځ نيول ددې پيړۍ داسې کارنامه ده چې دنړيوال تاريخ لوری يې بدل کړ!! هغه امريکا چې دټولې نړۍ دنيولو په مغرورانه تکل په افغانستان يرغل راوړو،خو مرحوم دخپل ايماني ځواک په مټو داسې له پښو وغورځوله چې آن ټول هوسونه او ارمانونه يې نيمگړي پاته شول، پر ضد يې نړۍ کې نور محکوم ولسونه هم رابيدار شول! کنه ددينه وړاندې هر چاويل:

دامریکا سره جنګ کول ! دغره سره سر وهل دي! لیکن نومورِي پخپل عـزم نرِیوالوتـه وښـوده چې امریکـا یـومخ پـرزوال هېـواد دی امریکا هرڅه کولی شي خو له ځانه مرګ نشي ګرځولی! دا په حقیقت کې هم هغه تجدیدي کارنامـه ده! هـم هغـه ویـاړ او شرف دی چې په اړه یې مونږ ته رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبر راکړی ابوداود،حاکم او بیهقـي لـه ابـوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نـه روایـت کـړی چـې دالهي دین دتجدید او احیاء کولو لپاره همیشه الله جَلَّ جَلَالُهُ مصلحان ا و مجددان رااستوي، هغوی په هره پیړۍ کـې ظهـور کـوي او دکفر ي نارااوو استیصال کوي.

ان الله تعالی یبعث لهذه الامة علی راس کل مائة سنة من یجدد لها دینها.

الله تعالی په امت کې دهرې پیړۍ په پیل کې یو مجدد پیداکوي څوک چې دخپل روح په ځواک د اسلام مبارک دیـن تـه تـازه ګې اونوې روحیه ببښي.

که واقعبینانه نظر وکړو اروابناد امیر المـؤمنین رښـتیا ددې پیـړۍ لپـاره هغسـې تجدیـدي کارنامـه تـرسره کـړه څنګـه چـې دېورتني حدیث په مصداق وړاندې دامت سلفو علماوو ترسره کړیدي! هر کله چې هم پـه مسـلمانانو د انحطـاط او زوال سـیلۍ را الوتې،په تاریخ کې څو سپېڅلي او دقدسي نفوسو خاوندان وینو چې د هغوی سینې خدای جَلَّ جَلَالُهُ دخپل هدایت درڼـا خورولـو لپـاره پرانیستې او زړونه یې دحق پالنې للهیت او اخلاص لپاره مسکن ګرځـولي پـه اتمـه هجـري پیـړۍ کـې د مسـلمانانو دعلمـي زوال او انحطاط دوره پیل شوه دعلامه ابن تیمه پیدا کېدل په علومو کې مجتهدانه مقام ترلاسه کول امر بالمعروف نهی عن المنکر ته ملاتړل دچنګیزې یرغل په وړاندې خپله سینه سپر نیول او په مقابـل کـې یـې مسـلمانان بیـدارول ، پخپلـه جهـا دتـه ملاتـړل اوډول ډول ستونزې، شداید او مصایب ګالل او دمجاهدینو او علماوو یوه ډله پیدا کول یا دلته (په افغانستان، پاکسـتان، هنـد اوبنګـال کـې) داکبرپاچا دوره له دې پلوه دیادونې وړده چې د هغه دربار دهغو علماوو نه ډک وو کوم چې ددنیا په هوسونو اوژونـدون مینـان وو، هغوی د دینداری او تقدس په پردو کې نفساني تعصبات او مفسدانه اغراض پالل خو په عین همدې زمانه کې دحضرت شیخ احمـد سرهندي پیداکېدل چا چې له یوې بېرته پاته سیمې نه پخپل تندریزغږ لکونه زړونـه حـق پـالونکي ګرځـول او خپـل تـول ځـان یـې دشریعت دبیا احیاء کولو دحق وینا -امر بالمعروف اونهی عن المنکرلپاره یومخ وقف کول او بیا ددولسمې پیړۍ په پای کې دشاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ او دهغه دکورنۍ دامربالمعروف نهی عن المنکر او جهاد په لار کې کړیو جهادو نو اوشـهادتونو داستان راسپړللوته حاجت نشته...

غرض داچې دڅوارلسمې هجري پیړۍ په پیل کې چې په ټوله اسلامي نـړۍ دغـرب دپرمختللـې ټیکنـالوجۍ او وسـایلو دډار خپسه ختلې وه، دهیڅ یو اسلامي هېواد واکمن دامریکا په وړاندې سوې قدر نشو کولی ! امریکا دنړۍ دیوقطبي کولو ډنډوره غږوله ! او په نړۍ یې طوعاً اوکرهاً دګلوبلائزیشن خیالي فلسفه منله! امیر المؤمنین ملا محمـد عمـر مجاهـد رَحِمَهُ اللَّهُ دیـو ډېـر غریـب او بیرته پاته هېواد دزعیم په حیث دامریکا ټول غرور او دبدبه وننګوله او دهیڅ غوښتنې او حکم پـه وړانـدې یـې خپـل خـدای پـال سرټیت نکړ داسلامي او افغاني غرور شمله یې هسکه وساتله او دخپل ایماني ځواک په متو یې مسـلمانانو تـه وښـوده چـې پـه امریکـا زوال راتلای شي! پخپل ایماني فراست یې چې دامریکا دزوال اوشکست په اړه کومه وړاندوینه کړیوه ! نن لله الحمد مـونږ دامریکـا یې ښکېلاک دزوال شیبې څارو!دټولې نړۍ نه د ځواکونو را وستلو باوجود امریکا جنګ بایللی عسکر یـې لـه افغانسـتانه دوتلـو پـه حال کې دي! په دې توګه ویلای شو چې دامریکا په وړاندې جهاد ته دمسلمانانو راوېښول او بیدارول او دنړیوال کفر دمتحد یرغل په وړاندې په فولادې عزم دریدل دامیر المؤمنین رَحِمَهُ اللَّهُ داسې تجدیدي کارنامه ده چې پـه حقیقـت کـې دنومـوړي دننـه دکامـل فطرت او د مومنانه فیضان او الهامي فراست ښکارندوې کوي. ولې که ترشاه یـې دغیبـي تایـداتو اشـارې نـه وای د دومـره لـوی دښمن سره ډغره وهل اوپه حیرانوونکي ډول هغه ته شکست ورکول او په ټوله نړۍ کې دهغه پرضد مجاهدانه غورځنګونه او و لولې پارول دمعمولي انسان د وس کار ندی!!

دسیاسي ، اقتصادي او پوځي چارو درهبرۍ کولو لپاره څښتن تعالی ورته دصحیحه فطرت او هدایت هغسې ملکه بښلې وه کومه چې الله جَلَّجَلَالُهُ تل دامت هغو صلحاوو ته په نصیب کړیوه دچا پاکېزه نفوس چې الله جَلَّجَلَالُهُ دانسانانو د رهبرۍ او هدایت لپاره غوره کړي، ملاصاحب دهمدې روحاني ارتقاء په لرلو دخلکو په زړونو حکومت کاو، ځکه هر چاته منلی او ګران و، نه یواځې افغاني علماء طالبان اومجاهدین پرې راټول وو، بلکې عجمو او عربو خپل سیاسي مرشد او امام باله!! په اوسني عصر کې دا ویاړ ډېرو کمو مشرانو ته په برخه شوی چې په یوچا عرب او عجم دواړه وویاړي ! ذلک فضل الله یؤتیه من یشاء والله ذو الفضل العظیم !

څنګه چې وړاندې مو وویل چې دانسان جسم فنا کیدونکی دی خو دهغه بشري فضایل او کردار فناء نلري ارواښاد ملاصاحب نن که په جسماني لحاظ دمجاهدینو او طالبانو ترمنځ نشته خو سیرت اوکردار یې! مجاهدانه کارنامې او فقیرانه ژوند یې دهر طالب او هرمجاهد لپاره ډاډبښونکی دی! دخپلو قربانیو او فداکاریو پر مټو د سمسور بڼ (اسلامي امارت) د تروتازه ساتلو لپاره یې له ځان وروسته ښه باتجربه او روزل شوی قشر پریښو د چې هغوی به خامخا ددې بڼ صادقانه ساتنه او پالنه کوي او دنومړي د جهادي سیاسي او انقلابي مسیر پرلیکو به درومي او هم که خدای کول ټول دیني او ملي ارمانونه به یې پوره کوي...

هو! په رښتیا هم په داسې وخت کې دامیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ دوفات غمېزه رامنځته کېدل چې دامریکا او صلیبي ایتلاف پرضد دنومړي په مدبرانه قیادت پیل شوی جهاد دبري په وروستي پړاو کې دی، خارجي یرغلګر ځواکونه دوتلو په حال کې دي په ظاهري لحاظ یو ستر او نه جبرانیدونکی زیان دی! چې له امله یې دهر مجاهد او طالب که هغه مشر دی که کشر زړه ټکان خوړلی ! خو بیا هم الله جَلَّجَلَالُهُ حکیم ذات دی پخپلو حکمتونو ښه پوهیږي راځئ! دهرچا په ذمه چې کوم کار او خدمت دی په صادقانه توګه هغه پرمخ بوزو!خپلې حوصلې لوړې وساتو ژوند دجنګ تود ډګر دی دلته دخدمت او کار معنی داده چې په هرډول حالاتو کې ترې مخ په بله ونه ګرځوو

او بل اجازه راکړئ! چې داسلامي امارت رهبرۍ شوری او د اهل حل عقد مشرانو ته د دې ګام پورته کولو له امله مبارکې ووایم چې هغوی په ډېره هوښیارۍ، دقت او زیرکتیا د لویو فتنو مخه ونیوه، دصف دیو ساتلو په موخه یې دمرحوم امیر المؤمنین دوفات خبر دخپرولو وروسته سملاسي دنوي امیر په توګه [ملا اختر محمد منصور حفظه الله) غوره او ور سره بیعت وکړ! داهل حل وعقد له لوري داسلامي امیر غوره کېدل دصحابه وو منهج دی، ځکه هغوی دمسلمانانو مصالح ښه پیژني څنګه چې حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دفات وروسته دمسلمانانو خلیفه غوره شو، په ورته توګه دامیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد دوفات وروسته درهبرۍ شوری او دامارت دسیاسي او پوځي مسؤلینو اوزرګونه شمېر علماوو لخوا د ملا اختر محمد منصور سره دنوي امیر المؤمنین په حیث بیعت کول داسلامي امیر ټاکلو په اړه داسلام اومسلمانانو ښکاره او متواتر عمل دی، امید دی چې دنومړي شرعي انتخاب او بیعت به زمونږ جګړو ځپلې هېواد او ملت لپاره نیک پال ثابت شي .

داچې داسلامي شریعت له مخې بیعت خورا اهمیت لري درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لارښوونو ته په پام سره یو ډېر درونډ او نازک مسؤلیت دی ،هیڅکله دکومې عادي پیښې بڼه نلري اونه کوم تشریفاتي عمل دی ، دمسلمانانو لپاره دیو شرعي امیر سره بیعت کول داسلامي شریعت نه پټېدونکی حکم دی اسلام هغه ژوند اسلامي ژوند نه بولي کوم چې دیو امیر تابع نه وي! په هر وخت او هر ځای کې باید دمسلمانانو ډله دامیر او امام پرته ژوند تیر نکړي! تردې که یواځې درې مسلمانان هم پاته شي په هغوی لازمه ده چې یوتن دامیر په توګه ونیسي [اذاکان ثلاثة فی سفر فلیومروا احدهم] او په احادیثو کې داحقیقت ښکاره او څرګند دی چې کوم یوتن دجماعت له امیر څخه جلا شي دا داسې ده لکه داسلام څخه چې بیرون شو ، رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

من اطاعنی فقد اطاع الله ومن اطاع امیری فقد اطاعنی ومن عصی امیری فقد عصانی (صحیح عن ابی هریرة).

چاچې زما اطاعت وکړ هغه دالله جَلَّجَلَالُهُ اطاعت وکړ او څوک چې زما دامير (يعنې نايب) اطاعت وکړي هغه زما اطاعت وکړ او چاچې دامير څخه سرغړونه وکړه هغه زما د اطاعت کولو نه انکار وکړ، يعنې دامير المؤمنين اطاعت پخپله درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطاعت دی، دمسلم په يو روايت کې د[اميری] په ځای يواځې [الامير] راغلی يعنې هرتن چې دمسلمانانو امير غوره شو دهغه اطاعت پخپله درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطاعت دی.

دحجة الوداع عظيم الشاني وينا پرمهال (چې دوه درې مياشتې وروسته رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دنړۍ څخه رحلت کاوه او خپل وروستی پيغام يې نړيوالوته رساوه وفرمايل:

[ولواستعمل عليكم عبد يقود كم كتاب الله، فاسمعوا له واطيعوا](مسلم).

که يوغلام پرتاسې اميرشو او هغه دالله جَلَّجَلَالُهُ دکتاب دحکمونو سره سم پر تاسې حکومت کوي دهغه واورئ او اطاعت يې وکړئ.

بل حديث دی: من خرج من الطاعة وفارق الجماعة فمات ميتة جاهلية.

او چاچې دمسلمانانو ډله پريښوده او دامير داطاعت کولو څخه بيرون شو او په دې حالت کې ورته مرګ راغی نو هغه په جاهليت ومړ او دابن عمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په روايت کې راغلي:

من خلع يدا من طاعة لقى الله يوم القيامة ولاحجة له ومن مات وليس فى عنقه بيعة مات ميتة جاهلية.

او چاچې دامير داطاعت څخه لاس ونيو (يعنې دهغه اطاعت يې ونکړ) دقيامت په ورځ به هغه دالله جَلَّجَلَالُهُ په وړاندې راشي، دڅورنې لپاره به يې هيڅ نه وي اوکوم مسلمان چې دنړۍ څخه په داسې حالت کې لاړ چې دامير دبيعت له کړۍ يې غاړه وزګاره وه نو(باوروکړئ) چې هغه دجاهليت په مرګ مړشو.

[من فارق الجماعة شبراً فكانما خلع ربقة الاسلام من عنقه] (ترمذی).

يعنې څوک چې دجماعت څخه ديوې لويشت اومره هم بيرون شو دهغه حکم داسې دی لکه چې هغه داسلام داطاعت کړۍ له خپلې غاړې وايسته اوپه بل روايت کې دي:[دخل النار] (اخرجه الحاكم) يعنې څوک چې دجماعت څخه بيرون شو، دهغه ځای جهنم دی.

لنډه داچې دشرعي بيعت وروسته اسلام په رعيت او ولس باندې نه يواځې دهغه داطاعت کولو دومره تاکيد کوي بلکې دالله جَلَّجَلَالُهُ او دهغه درسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داطاعت وروسته يې دامير اطاعت فرض ګرځولی دی، ديته په کتو بايد داسلامي امارت ټول پوځي ، سياسي ،اقتصادي او اداري چاروګي په کلکه د اسلامي مقرراتو په پام کې نيولو سره دفقيد امير المؤ منين ملا محمد مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ له ځای ناستي امير المؤمنين ملا اخترمحمد منصور (حفظه الله) څخه هغسې اطاعت وکړي څنګه يې چې دمرحوم کاوه او الله جَلَّجَلَالُهُ دې نوی امير المؤمنين (منصور صاحب) دخپل سلف [فقيد الملة والدين امير المؤ منين ملامحمد عمر مجاهد] لپاره غوره خلف وګرځوي څو دهغه په پل – پل ايښودو دافغانانو دازادۍ هيلې او ارزوګانې سرته ورسوي او مونږ بشپړ باور لرو چې منصور صاحب به له خپلو خدای ورکړو صلاحيتونو څخه په ګټه دهېواد د علماوو طالبانو ، مجاهدينو اومسلمانانو درهبری د حق په اداء کولو کې يوه دقيقه ځنډ او سستې ونکړي او پخپل ټول توان به دګران هېواد دازادۍ او اسلامي نظام لپاره روا ن جهاد او مبارزه د بري تر منزله ورسوي او هم به په ځان دهېواد علماء، طالبان مجاهدين اومسلمانان هغسې راټول وساتي څنګه چې په ارواښاد امير المؤمنين رَحِمَهُ ٱللَّهُ راټول وو! چې هيڅ تن دځان په اړه کوم اجنبيت نه حسوه! په پای کې دعاء کوو چې خدای جَلَّجَلَالُهُ ددې دامارت دانوې دوره هم دصوري او معنوي ځانګړتياوو له پلوه د امارت د تېرې شانداري او نيکمرغه دورې تسلسل او دوام وګرځوي امين.

په همدې دعاء اوهيله ! ابوظهير ۱۴۳۶ دشوال ۲۹مه

د عالیقدر امیر المؤمنین

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

دوفات د اعلان په اړه داسلامي امارت د رهبري شورى اودمرحوم دکورنۍ اعلامیه

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله؛ نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله؛ فلا مضل له، ومن يضلل؛ فلا هادي له. ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً كثيرا.

أما بعد. فقد قال الله تبارك و تعالى:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلاَّ بِإِذْنِ الله كِتَابًا مُّؤَجَّلاً وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ{١٤٥} وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَاللّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ [١٤٦] وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلاَّ أَن قَالُواْ ربَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ [١٤٧ آل عمران].

ترجمه : او هيڅ يو کس لره دا واک نشته چې مړ شي مګر دالله تعالی په حکم سره په ليکل شوي ټاکلې نيټه به مري،او څوک چې ددنيا اجر غواړي نو له همدې يې برخه ورکوو او څوک چې داخرت اجراو ثواب غواړي نو له هماغه يعني اخرته يې ورکوو،او زر به شاکرينو ته ښه بدله ورکړو. او ډېر داسې نبيان دي چې په خوا کې يې ډېر خدای پالونکي جنګيدلي دي خو دالله په لاره کې د ور رسيدلو مصيبتونو له امله نه سست شول،نه کمزوري شول او نه يې سرټيټی وکړ او الله همداسې صابرين خوښوي.او ددوی له دې پرته بله خبره نه وه چې ويل به يې: اې زموږ ربه ګناهونه مو راوبخښه او په خپلو چارو کې زموږ تيری راوبخښه او پښې مو ټينګې کړه او پر کافرانو نصرت او بريا راکړه .

مرګ حق دی موږ پردې ايمان لرو چې له الله تعالی پرته هر موجود د مرګ سره مخ کيږي،حتی دالله تعالی تر ټولو محبوب مخلوق د دووجهانونو سردار حضرت رسول اکرم محمد صلی الله عليه وسلم هم د مرګ څکه کړې او له دنيا څخه يې رحلت کړی دی.

همدې حقيقت ته په پام سره د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه او د ملامحمد عمر مجاهد کورنۍ اعلانوي چې داسلامي امارت مؤسس او زعيم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د ورپيښې شوې ناروغۍ له امله خپل روح ملک الارواح ته وسپاره او له دې فاني جهان څخه يې د ابدي نړۍ په خوا سفر وکړ. انالله وانااليه راجعون .ورحمه الله تعالی رحمة واسعة

ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله عليه د اسلامي امت يو وياړلی او مخلص رهبر و،چې په ډېرو سختو شرايطو کې يې د اسلامي حاکميت لويدلی بيرغ راپورته کړ، د اسلامي امارت تر نامه لاندې يې يو بشپړ منظم او د اسلامي سياست په اصولو برابر شرعي نظام تأسيس کړ،الله تعالی دده په توسط نه يوازې دافغانستان په سطحه مؤمنانو ته د اسلامي نظام نعمت ورولیدبلکې درست جهان ته يې د واقعي اسلامي حاکميت نمونه وړاندې کړه.

دا څو کرښې شاید د نوموړي د ویاړمنو کارنامو د احتوا تاب ونلري،نوځکه اصلي خبرې ته ځو او هغه داچې عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله نور له دې دنیا رحلت کړی،په دې شرایطو کې زموږ دنده دا ده چې له نوموړي راپاتې امانت اسلامي امارت هماغسې وپالو لکه ده مرحوم چې پاللی و،هماغسې اسلامي شریعت ته التزام وکړو،هماغسې مخلص او په الله تعالی متوکل واوسو،هماغسې قرباني ته حاضر او د حق په لاره کې مؤمن، متعهد،متوکل،صابر،ثابت او له الله تعالی څخه ویریدونکي واوسو تر څو الله تعالی همداسې ددې ستر بار د پورته کولو او تر منزله رسولو توفیق راکړي،او همداسې مو د دنیا او اخرت په سرلوړۍ او بریا ونازوي .

مرحوم ملامحمدعمر مجاهد چې دامریکا په مشرۍ دنړیوال کفري یرغل له ټول فشار او تعقیب سره سره په هیواد کې اوسېده اوپه تیرو څوارلسو کلونو کې حتی د یوې ورځې لپاره هم له افغانستان څخه بهر پاکستان یا کوم بل هیواد ته نه دی تللی او له خپل میشت ځای څخه یې د اسلامي امارت چارې رهبرې کولې چې دنوموړي په دې ستر استقامت او له هیواده په نه وتلو کره شواهد او دلایل مو جود دي څه موده وړاندې د ورپیښې شوي ناروغۍ له امله چې دناجوړي په وروستیو دوه اونیو کې سختي زیاته شوه او په حق ورسید.

عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله که جسما یو شخص و مګر په معنوي لحاظ نوموړی یو خوځښت،یوه نظریه او د یوه مقدس ارمان حامل و،که څوک غواړي د هغه روح خوشاله کړي او له هغه سره د وفا ثبوت وړاندې کړي،نوبايد د نوموړي له میراث اسلامي امارت سره وفا وکړي،د اسلامي نظام د اعادې لپاره په دې شرایطو کې په حیث د مسلمان دازموږ د فرد فرد وظیفه ده چې د اسلامي امارت د قوت،وحدت ، پراختیا او بریا لپاره ټولې هڅې په کار واچوو، ددې ګډ کور بنیادونه لا پاخه کړو،څکه زموږ د مسلمان اولس او مجاهد قشر۔ عزت او سرلوړي یوازې د همدغه صف په قوت سره تضمیندلی شي .

مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله اسلامي امارت د یوه ستر خوځښت په حیث په داسې ډول ودان کړی او روان کړی چې ترشا یې جوړ او محکم بنیادونه ، مخلص او باتدبیره ملګري او منظم تشکیلات پرې ایښي دي لهذا مجاهدین او ټول مسلمانان دي مطمئن اوسي،چې دا کاروان به د اسلامي امارت ټول مسؤلین او افراد د الله تعالی په نصرت او دمسلمانانو په ملاتړ د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله له ارمانونو سره سم منزل مقصود ته رسوي ان شاءالله تعالی و ماذالک علی الله بعزیز

داسلامي امارت د مشرتابه ، رهبري شورا اود عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله دکورنۍ‌له پریکړې سره سم به سر له نن یعني د ۱۴۳٦ هـ ق کال د شوال له ۱۴ څخه تر دریو ورځو پورې په ټولو سیمو کې دعلماء کرامو ،د مساجدو د امامانو،قومي او جهادي شخصیتونو،داسلامي امارت د مسؤلینو، مجاهدینو او عام اولس لخوا د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله روح ته د دعاء په خاطر دقران کریم ختمونو ،فاتحو او دعاګانو مراسم ترسره کیږي،او له الله تعالی څخه به مرحوم امیرالمؤمنین ته د مغفرت او اسلامي امارت ته د استحکام او بریالیتوب دعاګانې کیږي .

په پای کې باید یادونه وکړو چې د مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد مورنی ورور ملا عبد المنان اخند او د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد مشر زوی مولوي محمد یعقوب له ټولومسلمانانو څخه خصوصي غوښتنه کوي چې دمرحوم ملا محمدعمر مجاهد په مشرۍ د اسلامي امارت په واکمنۍ کې که ددوی کوم ډول حقوق تلف شوي وي، نو ټول دې ورته عفو وکړي او په دعاګانو کې دې تل یاد ساتي،موږ په دې ستر غم کې ټول مسلمان امت او په خاص ډول دافغانستان مجاهد ولس له ځان سره شریک بو لو اوټولو ته له الله تعالی څخه دتصلیت او صبرجمیل غوښتونکي یو .

والســـــلام

دافغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری اودعالیقدر
مرحوم ملامحمدعمرمجاهدکورنۍ

۱۴۳٦ هـ ق کال د شوال المکرم ۱۴مه
۱۳۹۴هـ ش کال د اسد ۸ مه
۲۰۱۵میلادي کال د جولای ۳۰ مه

د اسلامي امارت د نوي امير د ټاکلو په اړه

د اسلامي امارت درهبري شورى اعلاميه

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على رسوله محمد و على آله وأصحابه أجمعين و بعد

مسلمانانو ورونړو!

لکه څنگه چې خبر ياست دافغانستان د اسلامي امارت مؤسس او زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله عليه څه موده وړاندې د ورپيښې شوې ناروغۍ له امله خپل روح الله تعالى ته وسپاره او له دې دنيا څخه يې رحلت وکړ.

د نوموړي له وفات وروسته د اسلامي امارت رهبري شورا او د هيواد جيدو علماء کرامو اومشائخو د زعامت دټاکلو په چاره لاس پورې کړ، د اسلامي امارت د رهبري شوراغړو، مشائخو او علماء کرامو چې داهل الحل والعقد له شرعي اعتبار څخه برخمن و د يوې غونډې په ترځ کې يې له اوږدو سلامشورو وروسته د ملامحمد عمر مجاهد نږدې او د اعتماد وړ ملگرى او داسلامي امارت پخوانى مرستيال ملا اخترمحمدمنصور د اسلامي امارت دامير په حيث وټاکه.

ملااختر محمد منصور چې د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله لخوا هم په خپل ژوند کې داعتماد وړ او د درانه مسئوليت د تحمل لپاره وړ کس بلل شوى وو او په کلونو د اسلامي امارت ټولې اجرايوي چارې ورسپارل شوې وې، داسلامي امارت رهبري شورا او علماء کرامو هم نوموړى د راتلونکي لپاره د افغانستان داسلامي امارت د رهبرۍ لپاره مناسب او مستعد شخص وباله او دشرعي امير په حيث يې غوره کړ.

د زعيم ټاکلو په غونډه کې د علماء کرامو، مشائخو او اسلامي امارت د مشرانو لخوا له ملااخترمحمد منصور سره داميرالمؤمنين په حيث على السمع و الطاعة بيعت ترسره شو او نوموړي هم د شرعي امير په حيث، شريعت ته دالتزام تعهد وکړ.

همدا راز د يادې غونډې په مشوره او تائيد هر يو د اسلامي امارت د محاکمو پخوانى عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي هيبت الله اخندزاده اود مشهورجهادي او علمي شخصيت مولوي جلال الدين حقاني حفظه الله زوى داسلامي امارت پيژندل شوى جهادي قومندان ملا سراج الدين حقاني د اسلامي امارت د مرستيالانو په حيث وټاکل شول .

د اسلامي امارت رهبر ي شورا د اسلامي امارت دغه تعين شوي زعامت ته دالله تعالى له دربار څخه د استقامت،امانت دارۍ او الهي شريعت ته د وفادارۍ خواست کوي، او مسلمان ملت په ځانگړي ډول د اسلامي امارت ټول مجاهدين يې د شرعي امير په حيث اطاعت ته رابولي.

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شورى

۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال المکرم ۱۴مه

۱۳۹۴هـ ش کال د اسد ۸ مه

د اسلامي امارت د نوي امير له طرفه د ټولو بيعت کوونکو

له بيعت کوونکو څخه دقبوليت او منني پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين ، والعاقبة للمتقين ، والصلاة والسلام علي خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه اجمعين وبعد!

يقول الله عزوجل:

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ (٥) القصص

وياړم چې په داسې حال کې لتاسي سره مخاطب يم چې په مجاهد افغانستان کې د امريکا په مشري کفري ايتلاف شکست خوړلی او ماتي خوړلي څواکونه يې په ذلت او شرمنده گي له افغانستان څخه په وتو دي.

لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِن بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (٤) الروم

مونږ په دې پوره باورلرو چې دا لويه بريا لومړی د الله په نصرت اوبيا د افغان مسلمان ولس په بيسارو قربانيو او د اسلامي امت د هر اړخيزه معنوي او مادي مرستو په برکت زمونږ په برخه شوې.

د بهرنيو يرغلگرو په مقابل کې زمونږ ۱۴ کلن مقدس جهاد چې اوس لله الحمد د موفقيت وروستی مرحلې ته رسيدلی د امير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله په قيادت کې تر سره شوی چې د ا افتخار او وياړ به دتل لپاره د مسلمانانو په تاريخ کې د ده په نوم ثبت وي.

اوس چې نوموړی د الله دتقدير او قضا له مخې وفات شوی او د زعامت او مسؤليت درونډ پيټی د علماوو، جهادي قومندانانو ، مجاهدينو او ټول مجاهد ولس لخوا زمونږ په غاړه را اچول شوی له الله تعالی څخه خانته په دې درانه مسؤليت حسن توفيق غواړم.

غواړم د خپل دې پيغام په وسيله له ټولو هغو قدرمنو ورونو څخه چې له مونږ سره يې د اسلامي امت په دغو حساسو او سختو شيبو کې خواخوږي او مواسات ښکاره کړی مونږ ته يې د امير المؤمنين د وفات له امله د تعزيت پيغامونه راليږلی ، او يايې هم له مونږ سره د اسلامي امارت د نوی امير او د مسلمانانو دخدمتگار په تو گه بيعت کړی له هغو ټولو محترمو څخه د زړه له کومې منته کوم.

د دغو محترمو ورونو له جملې څخه تر ټولو له مخه د نړيوال جهادي تنظيم (قاعدة الجهاد) محترم امير جناب ډاکټر صاحب ايمن الظواهري حفظه الله څخه دهغه بيعت قبلوم، ترې منته او شکرگذاري کوم چې دتعزيت او مواسات ترڅنگ يې دخپل خان او خپلو اړونده مجاهدينو بيعت هم مونږ ته راوليږه، همداراز د جهاد په سنگرونو کې د ناستو مجاهدينو ، دمدارسو ، پوهنتونو او علمي مراکزو استاذانو ، د هيواد ملي شخصيتونو او نورو ټولو هغو اسلامي او جهادي شخصيتونو ، جهادي تنظيمونو چې د نړی له گوټ گوټ څخه يې د خپلو ځانگړيو پيغامونو په وسيله له مونږ سره غمشريکي کړې او يايې هم له مونږ سره دجهادي امير په توگه بيعت کړی مقابلتا ورڅخه منته او شکر گذاري کوو او له الله تعالی څخه د ځان او ټولو ورونو لپاره د اسلام او مسلمانانو د ښه خدمت کولو توفيق غواړو.

والسلام

ستاسوددعاپه هيله

اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور

۲۹/۱۰/۱۴۳۶هـ ق

۲۳/۵/۱۳۹۴هـ ش ــ ۱۴/۸/۲۰۱۵م

داسلامي امارت دمؤسس امیر المؤمنین [ملا محمد عمر مجاهد] د وفات له امله دتعزیت او دنوي امیر المؤمنین [ملا اختر محمد منصور] سره

د بیعت پیغامونه

دعالیقدرامیرالمؤمنین رحمه الله دوفات اونوي زعیم دټاکلوپه اړه دسترجهادي شخصیت مولوي جلال الدین حقاني صاحب پیغام:

الحمد لله الذی جعل کل من علیها فان ویبقی وجه ربک ذوالجلال والاکرام والصلوة والسلام علی سیدنا امام المجاهدین المنعوت بشرح الصدر ورفع الذکر الذی حین ارتحل قام صاحبه وقال من کان یعبد محمدا فان محمداقدمات ومن کان یعبدالله فان الله حی لایموت وعلی اصحابه الذین هم مفتاتیح الرحمة ومصابیح الغرر رضی الله عنهم ورضواعنه -----

ددنیا ټولو خواخوږو، اسلامي ملکونو، اسلامي نهضتونو، دافغانستان اسلامي امارت اوخصوصا دعالیقدر امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله کورنۍ، خپلوانو اودوستانو ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

دیوسالم فکر اودیوې سالمي عقیدې په بنیاد باید دومره ووایو چې دعالیقدرامیرالمومنین رحلت دټولې اسلامي نړۍ، اسلامي امارت اوخصوصا داسلامي جهادي تحریکونولپاره لویه خالیګاه ګڼواودمرحوم مخلصانه خدمتونه په تمام اسلامي امت باندي نه هیریدونکی احسان بولو . متعال خدای دي عالیقدرمرحوم ته د فردوس جنت اعلی مقام اوکورنۍ ته صبرجمیل اواجرجزیل نصیب کړي.

مونږ پوره مطمئن یو چې منصور صاحب په پوره غور اوشرعي طریقه ټا کل شوی او دعالیقدرملامحمدعمر رحمه الله کماحقه جانشین دی، مونږ داسلامي امارت ټولولیو او وړو مسولینوته دنوموړي سره دبیعت اوپوره اطاعت کامله توصیه کوو، دخپل ځان اودخپل طرف دمجاهدینو لخواډاډدرکوو څنګه موچي دعالیقدرمرحوم اطاعت کړی همداراز به ستاسي ترقیادت لاندي داسلام د مبین دین هر حکم ته لبیک وایو.

داچي ددین دښمنانو په مسلمانانوکي همیشه ددا سي فرصت څخه بده استفاده کړې ده، لهذا داسلامي امارت ټولملګرو ته مي ځانګړې توصیه ده چي خپل منځي اتفاق او اتحاد مضبوط وساتئ، هوش چي ددښمنانو دمنفي تبلیغاتو ښکارنشئ! خدای مکړه دشلو کالوپه قربانیو اوخدمتو مو خاورې واوړي، - اعاذنا الله من ذلک - نه تنها داچي اختلاف به دافغانستان په مستضعف و لس باندي منفي اغیزولري ،بلکي دټولې نړۍ مسلمانان ددې اختلاف ښکارکیدلی شي، لهذاخپل صفونه منظم اوپه اتفاق سمبال وساتئ، خپله توجه دشکست خوړونکي دښمن پرطرف واړوئ ، په اخر کي درته درب لایزال څخه اتفاق ،یووالی، محبت، اطاعت اودمبیني فتحې غوښتونکی یم، خوشاله اوبریالي اوسئ !.

والسلام علیکم

الحاج مولوي جلال الدین حقاني

داسلامي امارت دمحترم مرستيال په لاس
په زرګونو مسلمانانو بيعت وکړ

تیره ورځ جمعه مبارکي ترلمانځه ورسته ديوې سترې غونډې په ترڅ کې زرګونه علماء کرامومشائخو، او نورو متدينو خلکو دختمو نو تر څنګ د اسلامي امارت د مرستيال په لاس داسلامي امارت له نوي زعيم محترملا اخترمحمد منصور سره بيعت وکړ

پرون له غرمې وروسته د عاليقدراميرالمؤمنين دفاتحې مراسم او له نوى اميرسره د بيعت په منظور دزرګونه هيوادوالولخوا يوه ستره غونډه جوړه شوه.

په غونډه کې په زرهاوو هيوادوالو، مشائخو، علماء کرامو، د مدارسو استادانو، د سنګرونو ګڼو مجاهدينو، دلګی مشرانو، نظامي مسئولينو، دګاونډي هيواد پاکستان انصارو مشائخو، علماء کرامو، د الحاج علامه عبدالغني رحمه الله د دارالعلوم مهتمم الحاج مولوی حافظ محمديوسف، نورو استادانو او په جنوبي ولاياتو کې د اسلامي امارت ګڼو مسئولينو، د اسلامي امارت مرستيال شيخ الحديث مولوی هيبت الله، د اسلامي امارت د رهبري شورا غړي الحاج مولوي عبدالکبيرصاحب ، او نورو ګڼو مسئولينو، برخه اخيستې وه.

غونډه د قرآن کريم په څو مبارکو آيتونو سره پيل شوه، وروسته د عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهدرحمه الله پسې دقرآن کريم ختمونه ترسره شوه، بيا داميرالمؤمنين پاک روح ته د مشائخو عظامو لخوا دعاګانې وشوې، د هغه جناب په جهادي مبارزو، د اسلام په لاره کې په سرښندنو، هلوځلو، قربانيو، توکل، صبر، استقامت او د اسلام د سرلوړۍ لپاره په حيرانوکونکو اقداماتو خبرې وشوې، توضيحات ورکړل شول، دخلکو لخوا د اميرالمؤمنين د وفات په اړه د اسلامي امارت مقام، رهبري شورا، د عاليقدراميرالمؤمنين کورنۍ، متعلقينو، ملګرو، مجاهدينو او ټولو مينه والوته دفاتحه خوانۍ او غمرازۍ مراتب ترسره شول.

په غونډه کې ګڼو ګډون کونکو شيخ الحديثانو، علماء کرامو هريوه په خپل نوبت لنډې خبرې وکړې او نوي قيادت سره يې دهرډول همکارۍ وعده وکړه دوى وويل لکه څنګه چې دمرحوم اميرالمومنين تر قيادت لاندې امارت همکاري مو په هر وخت کې کړې همداراز به دنوي امير ملا اختر محمد منصور تر قيادت لاندې امارت همکارۍ ته دوام ور کوو،ورسته ديو عالم لخوا دوينا په جريان کې وويل شول چې زه به داسلامي امارت مرستيال ته دبيعت لاس ور کړم تاسو به دلاسونو په پورته کولو سره دبيعت مظاهره وکړى چې بيا په ډير جوش اوخروش سره همداسې وشول ، ورسته د اسلامي امارت د رهبري شورا غړو او د اسلامي امارت نوى مرستيال شيخ الحديث هيبت الله اخندزاده په نوبت او تفصيل سره خبرې وکړې، خلکو ته يې د عاليقدر اميرالمؤمنين دوفات په اړه معلومات ورکړل، داهل الحل والعقد شورا لخوا دنوي زعيم د تعين او ورسره دبيعت په اړه يې په ترسره شوو اقداماتو رڼا واچوله، د اسلامي امارت دصف په يو والي يې ټينګار وکړ، د اسلامي امارت د راتلونکي په اړه يې ډاډ ورکړ، د دښمنانو د ټولو دسيسو د شنډولو لپاره د اسلامي امارت د رهبري، مسئولينو، مجاهدينو او مخلصو هيوادوالو په لا ډيره توجه کولوباندې تاکيد وشو.

په غونډه کې د اسلامي امارت درهبري شورا غړي محترم مولوي عبدالکبير په خپلو تفصيلي او عالمانه خبرو کې د عاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله د لارې او مبارزې په تعقيب باندې تاکيد وکړ او ژمنه يې ورکړه چې د اسلامي امارت راتلونکي مشران او مسئولين به په هيڅ قيمت هم له يرغلګرو او دهغو له غلامانو سره هيڅ ډول ناروا معاملو ته حاضر نشي او ترڅو چې د هيواد بشپړه آزادي ترلاسه شوي نه وي او دسوچه اسلامي نظام د راتګ لپاره زمينه نه وي مساعده شوې، ترهغو به دجهاد سپيڅلې لارې ته دوام ورکوي.

الحاج مولوي عبدالکبیر زیاته کړه:

کله چې د روسانو په مقابل کې د افغانستان دخلکو مبارزه اوجهاد بریالی شو، غرب او نورو کفري کړیو وغوښتل چې دافغانستان دخلکو دجهاد مسیر بدل کړي، د جهاد په نتیجه کې د اسلامي حکومت د رامنځته کیدو په لاره کې خنډونه واچوي او په هیواد کې د هرج اومرج، چور، تالان، ټوپکسالارۍ او خپل منځي جګړو په رامنځته کیدو سره دجهاد آرمانونه له خاورو سره خاورې کړي، او نړۍ ته وښیي چې د هرجهاد پای به دا ډول وي، خو دا مرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین وو چې په یواځې سر او په خورا سختو شرائطو کې یې د لږ ملګرو په درلودلو خو په عالی همت، دالله په ذات په فوق العاده توکل او خورا لوړ غیرت سره یې بیرته دجهاد ترخاورو لاندې کیدونکي سپیڅلي آرمان او نتیجې ته په پیچلو شرائطو کې نجات او تحقق ورکړ، اسلامي نظام یې رامنځته کړ او د جهاد په وړاندې د غربیانو او نورکفارو لخوا جوړې شوې دسیسې یې یوپه بل پسې شنډې کړې.

د اسلامي امارت رامنځته کیدل د پخواني جهاد محصول او آرمان وو، داچې بیا د امریکا او نړیوال کفري ائیتلاف لخوا اسلامي نظام د له منځه وړلو هڅه وشوه او په نتیجه کې یې زموږ هیواد اشغال شو، بیا هم عالیقدر امیرالمؤمنین د اسلامي نظام د حفاظت لپاره دهمت ملاوتړله، ترمرګه پورې یې داسلام له سنګرڅخه دفاع وکړه او د یوې ورځې حتی یوه ساعت لپاره هم دهیواد له حدودو څخه چیرې بهر نه ووت.

موږ د داسې لوړ همت خاوند امیرالمؤمنین پیروان یو، موږ به دهغه لاره تعقیبوو او داسلامي نظام تر تحقق او دکفارو د ټولو دسیسو د له منځه وړلو لپاره به دجهاد سپیڅلې لار په خپلو ونیو او قربانیو سره پالو، اوس موږ ډاډه یو چې اسلامي امارت ته هیڅوک هم ستونزې نشي۔ جوړولای، امارت خورا باتدبیره رهبري لري، دهیواد دخورا سترې کچې علمي او دیني هستۍ یې ترشاولاړې دي، د خورا عالی مورال مجاهدین او سرښندونکي فدایان یې د دفاع لپاره قربانۍ ورکوي، زه په خپل نوبت ټولو هیوادوالو، د اسلامي امارت مجاهدینو او د نړۍ مسلمانانو او خواخوږو ته ډاډ ورکوم، چې موږ به د عالیقدرامیرالمؤمنین لاره پالو، جهاد ته به د اسلامي نظام تر راتګه پورې ادامه ورکوو، له هیڅ کفري او دسیسه ګر جهت سره د اسلام او اسلامي نظام په سرمعامله نه کوو، دهیچا غلامۍ او هیچاته سرټیټې نه کوو، دجهاد د دوام لپاره په لوی الله جل جلاله توکل لرو، له هغه څخه د نصرت او مرستې غوښتنه کوو، دخپلو هیوادوالو څخه د اسلامي امارت لا ډیر ملاتړ هیله او تمه لرو او دا هم واضح کوو چې نړیوال مطبوعات دخاصو موخو لپاره د اسلامي امارت په ضد پروپاګند کوي، زموږ نظر نه نشر کوي، نو هیوادوال به زموږ په اړه یواځې د اسلامي امارت د انټرنیټي سایټ، ویندویانو او چاپي خپرونو څخه معلومات ترلاسه کوي او زموږ په دریځ به ځان له همدې لارې خبروي. ورسته بیا دمازیګر لمونځ اداشو دهغه نه ورسته دیو خاص تر تیب لمخې په نوبت داسلامي امارت دمرستیال هیبت الله آخند زاده سره لاس په لاس دغونډې دګډون والو لخوا دبیعت مراسم تر سره شول .

ورپسې د اسلامي امارت مرستیال محترم شیخ الحدیث مولوي هیبت الله اخندزاده دعالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله په ژوند او کارګردګیو باندې رڼا واچوله او ژمنه یې وکړه چې د امارت راتلونکي رهبري به هم د هغه لاره تعقیبوي، خلکوته یې د اسلامي امارت دوحدت ساتلو، دجهادي پرمختګونو د دوام ډاډ ورکړ او له هغو څخه یې د لاملاتړ او نګې غوښتنه وکړه.

شیخ هیبت الله اخندزاده صاحب دخپلو خبرو په ترڅ کې وویل، عالیقدر امیرالمؤمنین موږ ته جوړ امارت راپریښی دی، موږ ټول امارتي تشکیلات لرو، په هیڅ برخه کې ستونزه نه لرو، صرف دنده به مو داوي چې دیوالي په ساتلو سره به ددغه جوړ کور (اسلامي امارت) ساتنه کوواو په دې لاره کې به له هیڅ ډول قربانۍ او سرښندنې څخه سر نه غړوو.

غونډه دمشائخو او علماء کرامو لخوا د دعایو په لوستلوسره پای ته ورسیده.

دافغانستان داسلامي امارت

درهبري شورى دغړي محترم ملاعبدالقيوم ذاکر وضاحت ليک

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته:

محترمو مسلمانانو وروڼو او درنو مجاهدينو! ما واوريدل چې ملا محمد حسن رحماني، ملا عبدالرزاق او ملا محمد رسول او ځينو نورو کسانو په راډيوګانو او ځينې مجالسو کې ويلي چې ملا عبدالقيوم ذاکر له ملا اختر محمد منصور صاحب سره مخالف دی.

دا ډول خبرې هيڅ حقيقت نه لري، زه تاسو ټولو ته اطمنان درکوم چې په اسلامي امارت کې به په خپل ټول توان سره خدمت کوم او الله تعالى ته اميد لرم چې تر بل هرچا به ښه اطاعت کوم.

تاسو ټول دعاګاني راته کوئ او مطمئن اوسئ.

والسلام

ستاسو کشر ورور ملا عبدالقيوم ذاکر

د نړيوال جهادي تنظيم قاعدة الجهاد دامير لخوا د مرحوم اميرالمؤمنين د وفات دتعزيت او له نوي امير سره دبيعت پيغام

د نړيوال ستر جهادي تنظيم قاعدة الجهاد امير الشيخ الفاضل دکتور ايمن الظواهري په خپل غږ يز پيغام کې د اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات په اړه خپله ژوره خواشيني څرګنده کړې.

او د اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله په ژوند او دهغه ميړانه يې ستايلې چې دژوند ترپايه د مسلمانانو ترمنځ ديووالي او اتحاد لپاره کاروکړ دهيڅ کفري دښمن په وړاندې يې سرتيټ نکړ اوپه خورا زړورتيا يې سره دصليبي کفر په مقابل کې دجهاد مسير نيولی و.

ښاغلي شيخ ايمن الظواهري حفظه الله وايي لکه څرنګه چې مو له مرحوم اميرالمؤمنين ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله سره يې بيعت کړی وو، په ورته توګه د اسلامي امارت له نوي شرعي زعيم اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور حفظه الله سره هم دخپل بيعت تجديد او اعلان کوو. او به ټولو شرعي امورو کې تري په کلکه اطاعت کوو.

دګونتانامو اسیر اورهبري شورا غړي شهید مولوي امین الله امین دکورنۍ اوملګرو دتعزیت اوبیعت پیغام

داسلامي امارت درهبري شورى غړي دشهيد مولوي امين الله امين چي داسلامي امارت په وخت کي دبادغيس ،سمنگان ، او سرپل والي او نظامي مسول دهرات ولايت دنظامي کميسيون مسؤول مولوي عبدالصمداسير ،مولوى ادم' مولوى حسين احمد مدنى ' عبدالوهاب'مولوى علاوالدين' او ددوى اړوند د ۱۰ دلګۍ مشرانو چې په کندهار، هرات ، فراه ، فارياب او روزګان کې په جهادي فعاليت بوخت دي دعاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله دوفات له امله دنوموړي درنې کورنۍ اوټولو مجاهدينوته دتسليت اوتعزيت مراتب وړاندي کوي

نوموړوداسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امير محترم ملا اخترمحمدمنصور حفظه الله سره بيعت اعلان کړ اود پوره اطاعت وعده يې وکړه

تمیز دعالي مقام رئس شیخ القران والحدیث مولوی محمدشریف حقانی تعزیت او بیعت

داسلامي امارت له نوي زعيم اولارښود محترم ملااخترمحمدمنصورسره دبيعتونوپه سلسله کې په دې ورستيوکي دهيواددشمال دلسوولايتونو بدخشان. تخار. کندوز.بغلان.سمنگان.مزار.جوزجان.سرپل.باميان. پنجشير امارتي مسولينو علماوو.مشايخو مجاهدينو اودميشتو بيلابيلو قومونو(تاجک.ازبک.ترکمن.هزاره.اومغلو) فه استازيتوب ستره ناسته ترسره اوپه يوه اواز يې له نوي اميرسره دخپل شرعي بيعت اووفادارۍ تعهداعلان کړ.دغې تاريخي ناستي ته دهيواد زبده اونومیالي عالم داسلامی امارت دتميز ريس شيخ القران والحديث مولوي محمدشريف حقاني وينا وکړه.

الحاج محمد ګل، مشهور په (حاجي بابا ناصري) د تعزیت او بیعت پیغام

نحمده و نصلي على رسوله الكريم

اما بعد:

بسم الله الرحمن الرحيم

زه د اسلامي امارت دپخواني زعيم او مؤسس، مجاهد، اتل غازي عاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله د وفات د المناکې واقعې په مناسبت د ناصرو د قوم په نمايندګۍ د جناب عاليقدر امير المؤمنين قدرمنې کورنۍ، د اسلامي امارت مسؤلينو، دسنګر غازيانو، د افغانستان مجاهد ملت او ټول اسلامي امت ته د زړه له کومې تسليت وړاندې کوم، له الله جل جلاله څخه ټولو ته د جميل صبر او جزيل اجر غوښتنه کوم.

همدا ډول نوي امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور سره د خپلې کورنۍ او قوم په استازيتوب على السمع والطاعة بيعت اعلانوم. دعاء کوم چې الله جل جلاله اميرالمؤمنين او نائبينو ته يې د شريعت او د جهاد په لار ثبات او استقامت په برخه کړي. امين

په درنښت

(حاجي بابا ناصري) د ناصرو د قوم مشر، او د اسلامي امارت د اقتدار په مهال د ترانسپورت وزارت معين

دشهید شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب دکورنۍ دتعزیت اوبیعت پیغام

زه مولوی نعمت الله مخلص دشهيدشيخ الحديث مولوی عبدالسلام تقبله الله زوی دخپلي کورنۍ او ملګرو په نمايندګي دامارت اسلامی ټولومشرانو خصوصا داميرالمئومنين رحمه الله کورنی ته داميرالمئنين دوفات له امله تعزيت اوتسليت وړاندی کوم او له الله ج سخه ورته صبر جميل غواړم اوله نوی اميرالمئومنين ملا اختر محمد منصور حفظه الله سره بيعت کوم.

دهـرات ولايــت جهــادي مســؤولينو دتعزيــت اوبيعت پيغام

دهـرات ولايـت جهـادي مسؤولين هريـو لکـه الحـاج ملااخترمحمدهلال، حاجي ملادستگير، ملاعبدالرؤف مخلص ، دشـــهيد مـــلا عبدالحميـــد ورور مـــلا محمدحســـن ، دشـهيدمولوي بـور زوی ملاعزيـز الله، مولـوي نثـار احمـد، مولوي نسيم ، اودشهيد حـاجي اخترمحمـد زوی ملارازمحمـد دهـرات ولايـت دگلـران ، ربـاط سنگي،کشـک کهنـه ، اوبـې ، چشــت شريــف ، زنــده جــان اوشــينډنډ ولســواليو دټولــو مجاهدينو په نمايندگي دعاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمـدعمر مجاهـد رحمــه الله درنــې کــورنۍ اوټولــو مجاهــدينو تــه داميرالمؤمنين رحمه الله دوفات له امله تعزيت وړاندي کوو

اوهم داسلامي امارت لپاره ټاکل شوي نوي امير محـترم ملااخترمحمدمنصـور حفظـه الله سره بيعـت کـوو اوهرشرعـي امربه يې په کلکه اطاعت کوو.

د کابل ولايت جهادي مسؤل محترم حافظ محب الله صاحب داسلامي امــارت لــه نــوي امير(منصــور صاحب) بيعت اعلان کړ

د کابــل ولايــت والي محــترم حــافظ محــب الله صـاحب داسلامي امـارت لـه نـوي اميـر (ملا اخـتر محمـد منصور صـاحب)سره بيعـت اعـلان کـړ، حـافظ صـاحب وايـې چي: اميرالمؤمنين رحمه الله په خپل ژونـد کـي اوسـنی اميـر (منصو رصاحب) خپل نائـب ټـاکلی ؤ ، داسي نـه ؤ چـي قحط الرجال ؤ بلکي واقعيت دادی چي منصـور صـاحب ددې کـار لپـاره ډيـر مناسـب او لايـق شخصـيت ؤ او لـه همـدې املـه عاليقـدر اميـر المـؤمنين غـوره کـړی ؤ،نـو لهـذا مـوږ اوس د منصور صاحب په امارت راضي او خوښ يو او دکابل ولايت د مجاهدينو په نمايندگي بيعت ورسره کوو .

پکتيکا ولايت جهادي مسؤل محترم بـلال فــاتح دتعزيت او بيعت اعلان

دپکتيکا ولايت اوسنی جهادي مسؤل دنوميـالي مجاهـد شـهيدمولوي سـنگين فـاتح ورور محمـد بـلال فـاتح داميـر المـؤمنين مـلا محمـد عمـر مجاهـد رحمـه الله کـورنۍ او ټولـو مجاهدينو ته تسليت وړاندي کـړی ،د مرحـوم کـورنۍ اوټولـو خواخوږ ته يې د صبر او اجر غوښتنه کړې، نومـوړی وايـې چي موږ لکه څرنگه چي دعاليقدر امير المؤمنين ملا محمـد عمـر مجاهد سره بيعت کړی ؤ، هماغه شـان مـو داهـل حـل والعقـد شورى له لوري داسلامي امـارت دنـوي ټاکـل شـوي اميـر مـلا اختر محمد منصور (حفظـه الله) سره بيعـت دی او دنومـوړي په قيادت کي به خپلي رواني سپېڅلې مبارزې ته دوام ورکوو.

د جهـــادي شخصـــيت د اســـلامي امـــارت د مشرـتابه دفــتر مســئول او د رهــبري شــورا د منشي محترم مــلا عبــد اللطيــف منصــور لــه خوادامير المؤمنين دوفات پــه اړه د تعزيــت او له نــوي امير سره دبيعت ليک

د پياوړي جهادي شخصيت د اسلامي امـارت د مشرـتابه د فــتر مســئول او د رهــبري شــورا د منشيــ محــترم مــلا عبداللطيف منصور لـه خوادامير المـؤمنين دوفـات پـه اړه د تعزيت او له نوي امير سره دبيعت ليک

مــوږ د اســلامي امــارت دپخــواني زعــيم او د امــارت دمؤســس، مجاهــد ، اتــل غــازي اود اسلامي امــت د محســن عاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله د وفات د المناکې واقعـې پـه مناسبت ټولو دسـنگر غازيـانو، درهـبري شـورى ټولـو غـړو، د جناب اميرالمـؤمنين قـدرمنې کـورنۍ او ټولـو خوريـدلو، خپـه شويو او درديدلو مسلمانانو ته د زړه له کومې تسليت وړانـدې کوو.

له الله جل جلاله څخه ټولو ته د جميل صبر او جزيل اجـر غوښتنه کوو، هوډ کوو چې د مرحوم تگ لاره به تعقيبوو، او د

اسلامي امارت نوي قيادت ته دخپل بيعت په وړاندې کولو سره په پوره توګه دنوی مسئولیت د ترسره کولو دعا کوو.

له دوی څخه مو غوښتنه ده چې د مرحوم عاليقدر اميرالمؤمنين او زموږ د مظلوم او مجاهد ولس د زړه آرمان اسلامي نظام د حاکميت لپاره خپلې ټولې هلې ځلې په کار واچوي، موږ يې ترشاولاړيو، په سر او مال يې په اخلاص سره خدمت کوو او هر زار قرباني ورکولوته چمتو يو. والسلام

د اسلامي امارت د مشرتابه دفتر مسئول، درهبري شورا منشي ملا عبداللطيف منصور

دروزګان والي الحاج ملامحمديوسف امين دمجاهد او غيور ملت په نمايندګي خپل بيعت اعلان کړ

له روزګان ولايت څخه په رارسيدلي خبرکې مسؤول مجاهدين وايې چې : تېره ورځ دروزګان ولايت دمرکز ترينکوټ په شمول ددي ولايت په ټولو ولسواليو کې دعلماء کرامو، مشايخو، روحانيونو ، مجاهدينو اوعامه مسلمانانوله لوري په پراخه کچه دعاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد(رحمه الله) لپاره ختمونه دعاګاني او له نوي امير منصور صاحب حفظه الله سره دبيعت مراسم ترسره شول

نن سهار هم ددي ولايت دمرکز اوولسواليو په مربوطاتوکې دقرآن کريم ختمونه اودعاګاني ترسره شوي او دهمدي ولايت لپاره داسلامي امارت والي محترم الحاج ملامحمديوسف أمين صاحب دروزګان ولايت دغيورو قهرمانو اومجاهدپرور ملت ، مجاهدينو اوعلماء کراموپه نمايندګي نن سهار له نوي ټاکل شوي امير ملااخترمحمد منصور حفظه الله سره دبيعت اعلان وکړ

نوموړي داسلامي امارت له رهبري شورا اومخلصينو څخه مننه وکړه چې په ډېرحساس وخت کې يې دمجاهدينولپاره يوښه اميرانتخاب کړ

دهلمند ولايت جهادي مسؤل الحاج ملا عبدالمنان داسلامي امارت له نوي زعيم عاليقدر ملا اختر محمد منصور صاحب سره بيعت وکړ

دهلمند ولايت جهادي مسؤل الحاج ملا عبدالمنان داسلامي امارت له نوي زعيم عاليقدر ملا اختر محمد منصور صاحب سره بيعت وکړ .

دهلمند ولا يت جهادي مسؤل الحاج ملا عبدالمنان په يوه مخابروي پيغام کي داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امير ملا اخترمحمد منصور (حفظه الله) سره بيعت اعلان کړ، نوموړي وايي چي لکه څنګه يې چي د عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) سره بيعت کړی ؤ او دهغه مرحوم په قيادت کي يې جهاد کاوه اوس به د نوي ټاکل شوي امير منصور صاحب تر قيادت لاندي خپل جهاد ته دوام ورکوي او نوي مشرتابه داوامرو مطابق به خپل خدمت جاري ساتي .نوموړي پرټولو مجاهدينو ږغ وکړچي داختلاف له مهلکي ناروغۍ څخه ځانونه وساتي ، ځکه داختلاف ټوله ګټه دښمن ته رسيږي

دمحترم حاجي امان الله شبير دتعزيت اوبيعت پيغام

داميرالمؤمنين رحمه الله دخاص دفتر دمخابراتو دڅانګي دمخابرو دترميم چاري ورپه غاړه حاجي امان الله شبير دخپلي کورنۍ اودخپلي دلګۍ دنظامي ملګرو اوناصر قوم دډېری مشرانو په نمايندګي دعاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله دوفات له امله دنوموړي قدرمني کورنۍ اوټولو مسلمانانوته دتسليت مراتب وړاندي کوم

او موږ داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعيم اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور صاحب حفظه الله سره دبيعت اعلان کوو او دپوره اطاعت اوهمکارۍ وعده ورسره کوو. والسلام حاجي امان الله شبير

د کاپیسا ولایت والي قاري بریـال صـاحب دتسلیت او بیعت اعلان

دکاپیسا ولایت جهادي مسؤل [قاري احسان الله بریـال صاحب) دعالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله له کورنۍ اوټولـو مجاهدینو سره دمرحوم امیر امیر المومنین دمړیني لـه املـه غمشریکي وړانـدي کـړ ه ، بریـال صـاحب داهـل حـل والعقـد شوری له لوري دنومـول شـوي امیـر مـلا اخـتر محمـد منصـور صاحب سره بیعت اعـلان کـړ او هـوډ یې وښـود چې د نـوي مشرتابه تر قیـادت لانـدي بـه خپـل سپېڅلي جهاد تـه ادامـه ورکوي

پیـام تسـلیت وبیعـت مسـؤل عمـومی مجاهدین ولایت بدخشان

بسم الله الرحمن الرحیم. كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الآیه.

الحمد لله الذی جعل کل من علیها فان ویبقی وجه ربـک ذوالجـلال والاکـرام والصـلوة والسـلام علـی سـیدنا امـام المجاهـدین سیدالانصاروالمهاجرین الـذی حـین ارتحـل قـام صاحبه وقال من کان یعبد محمدا فان محمداقدمات ومن کان یعبدالله فان الله حی لایموت وعلی اله واصحابه اجمعین.

رحلـت عـالی قـدر امیرالمـؤمنین ملامحمدعمرمجاهـد رحمه الله را ضایعهء بـزرگ وجـبران ناپـذیر بـرای جهـان اسلام بخصـــوص بـــرای امـــارت اســـلامی و ملـــت متـــدین ومجاهدافغانسـتان دانسـته وخـدمات مخلصـانه مرحـوم امیرالمـؤمینین رحمـه الله را بـرای تمـام امـت مسلمه احسـان فراموش ناشدنی میدانم،ازخداوند متعـال بـرای مرحوم مقام اعلی جنت الفردوس وبـرای خـانواده ایشـان صـبرجمیل واجـر جزیل استدعا دارم،ما خود را دراین غم شریک میدانیم.

مـا کـاملاً مطمـئن هسـتیم کـه ملااخترمحمـد منصـور صاحب بسیار بـه غـور وطریقـه شرعـی بحیث امیرالمـؤمنین منتخب گردیده وکماحقـه جاینشـین عالیقـدر ملامحمـد عمـر رحمه میباشند،لذا من به نماینـدگی ازمجاهـدین،علماء،طلباء ومـــردم متـــدین ومخلـــص ولایـــت بدخشـــان بـــا محترمامیرالمؤمنین ملااخترمحمدمنصورزعیم امارت اسلامی بیعت خویش را ابراز نمـوده ودرچوکـات شریعـت غـرّا محمـد صلی الله علیه وسلم خود را مکلف بـه اطاعـت ایشـان دانسـته وبرای ایشان ازبارگاه الهی درپیشبرد امورجهادی توفیق مزیـد استدعادارم .وتحت قیادت امیرالمـؤمنین بـه هـرحکم شرعـی لبیک میگویم.

والسلام .مسؤل مجاهدین ولایت بدخشان مولـوی فصیح الدین صائب

د میـــدان وردگ ولایـــت والي مولـــوي احمدالله منصور داسلامي امارت له نـوي امیر سره بیعت اعلان کړ

د میـــدان وردگ ولایـــت والي مولـــوي احمـــدالله منصـور داسلامي امـارت لـه نـوي امیـر سره د خپـل ځـان ،مجاهدینو،علماوو اوولس په نمایندګي بیعت اعلان کړ

د میـــدان وردگ ولایـــت والي مولـــوي احمـــدالله منصور داسلامي امارت له نوي امیر (ملا اختر محمد منصور صـاحب) سره د خپـل ځـان ،مجاهـدینو،علماوو اوولـس پـه نمایندګي بیعت اعـلان کـړ، نومـوړي وایـې چـي لـه تېـرو دووو ورځو راهیسي ددغه ولا یت په مختلفو ولسوالیو او سیمو کـي داسلامي امـارت لـه نـوي ټاکـل شـوي امیـر سره علـماء کرامـو ،مجاهدینو اوولس خپل بیعت وکړ

د سرپـــل ولایـــت والي مـــلا عطـــاء الله عمر صاحب دتعزیت او بیعت پیغام

دسرپـــل ولایـــت لپـــاره داســـلامي امـــارت جهـــادي مســـؤل صـــاحب دعالیقـــدر امیرالمـــؤمنین رحمـــه الله کـورنۍ اوټولـو مجاهـدینو تـه تعزیـت وړانـدي کـړ، نوموړي وویـل چـي دنـوي امیـر منصـور صـاحب سره د خپلـو مجاهـدینو پـه نماینـدګي بیعـت اعلانـوي او دمحـترم مشرـ منصور صاحب په رهبري کي به دیرغلګرو اودهغو ی دغلامانو په خلا ف جهاد روان ساتي

د پنجشـــیر ولایـــت والي مولـــوي قـــدرت الله صاحب دتعزیت او بیعت پیغام

دپنجشیر ولایت لپاره داسلامي امارت جهادي مسؤل مولـوي قـدرت الله صـاحب دعالیقـدر امیرالمـؤمنین رحمـه الله کـورنۍ اوټـول مسـلمه امـت تـه تسـلیت وړانـدي کـړ، نوموړي په یو ږغیز پیغام کي داهل حل والعقد شورى لـه خـوا داسلامي امارت دنوي ټاکل شوي امیر ملا اختر محمد منصـور (حفظـه الله) سره بیعـت وکـړ اوهـوډ یـې وښـود چـي داسـلام اوهیواد څخه د دفاع په لار کي به د محترم منصور صاحب په مشري جهاد جاري ساتي

د فـــراه ولایـــت جهـــادي مســـؤل مولـــوي بازمحمد صاحب دتعزیت او بیعت پیغام

دفـــراه ولایـــت لپـــاره داســـلامي امـــارت جهـــادي مسؤل مولوي بازمحمد صاحب داسلامي امارت دنـوي ټاکـل شوي امیر ملا اخـتر محمـد منصـور (حفظـه الله) سره بیعـت وکړ، نوموړي وایې چي داسلامي امارت دنوي ټاکل شوي زعیم ملا اختر محمد منصور صاحب (حفظه الله) تـر امـارت لانـدي به خپل جهـاد تـه دوام ورکـوي او ددیـن او وطـن خـدمت بـه جاري ساتي .

اســـلامي امـــارت داستشـــهادي کنـــډک دمسؤل ملاتاج میـر جـواد صـاحب دتعزیـت اوبیعت اعلان

دافغانستان داسلامي امارت داستشهادي کنډک مسؤل ملا تاج میر جواد صاحب دعالیقدر امیرالمـؤمنین مـلا محمـد عمـر مجاهدرحمـه الله روح تـه دددعـا ء تـر څنـګ دمرحـوم کورنۍ او ټولو مجاهدینوته تسلیت وړاندي کوي .

جـواد صـاحب د خپلـو ملګـرو، دشـهیدانو د کورنیـو، او اسـیرانو پـه نماینـدګي داهـل حـل والعقـد شورى لـه لـوري د نومول شوي امیـر املا اخـتر محمـد منصـور حفظـه الله سره بیعت اعلان کړ،نوموړي ټول مجاهدین اتحاد اواتفاق ته رابللي او ورته توصیه کوي چي داختلا ف دمهلکي نـاروغۍ څخـه ې دځانونه و ساتي ، جواد صاحب نـوي امیـر تـه پـه خطـاب کـي وایې: چي لکه څنګه چي مو دامیر المؤمنین په قیادت او امـر داسلام پر دښمنانو ګوزارونـه کـول همـدا راز بـه ستاسـو(مـلا اختر محمد منصور)پـه قیـادت کـي داسـلام او افغـان ولـس دښمنانانو ته دعبرت درس ورکوو اودخپلو ارزښـتونو څخـه بـه دفاع کوو.

دبـادغیس ولایـت مسـؤول الحـاج مولـوي عبـــدالقیوم روحـــاني دټولـــو مجاهدینوپـــه نمـایندګي خپل بیعت اعلان کړ

دبـادغیس ولایـت مسـؤول الحـا ج مولـوي عبـدالقیوم روحاني پـرون ورځ دهمـدي ولایـت پـه مرغـاب ولسـوالۍ کـې دبادغیس ولایت له مختلفو ولسوالیو څخـه زرګونـه علـماء ، مجاهدین اوعامه مسلمانان راغوښتي وو اودیوې پراخي غونډې په ترڅ کې یې دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمـدعمر مجاهـد(رحمه الله تعالی) لپاره دقرآن کـریم خـتم ، دعاګـاني اوفاتحـه ترسره کړل.

وروسته ټولو علماء کرامو ، مجاهدینو اوعامـه مسـلمانانو داسـلامي امـارت لـه نـوي ټاکـل شـوي امیـر ملااخترمحمـد منصور) حفظه الله) سره په یوه غږ بیعت اعلان کړ او داوعـده یې وکړه چي د نوي ټاکل شوي امیر (محترم منصـور صـاحب) په قیادت کي به جهاد ته ادامه ورکوي

پروان ولایـت د جهـادي مسـؤل ملامحمـد نسیم دتسلیت او بیعت پیغام

دپـروان ولایـت جهـاد ي مسـؤل مـلا محمـد نسـیم ،مرسـتیال یـې مـلا عبـدالکبیر او دکمیسـیون مسـؤل قـاري صاحب نظر ګل دامیر المؤمنین رحمه الله دوفـات لـه املـه د مرحوم کورنۍ او ټولو مجاهدینو تـه تسـلیت وړانـدي کـړى او دنوي زعیم ملا اخترمحمـد منصـور صـاحب سره خپـل بیعـت اعلان کړى ، دوى وایې چي داسلامي امارت د نوي زعیم ملا

اختر محمد منصور صاحب په قيادت کي به خپل جهاد ته دوام ورکوي

د بلخ ولايت جهادي مسؤل محترم ملا محمد يونس مخلص دتسليت او بيعت پيغام

دبلخ ولايت جهاد ي مسؤل ملا محمد يونس مخلص دامير المؤمنين رحمه الله دوفات له امله د مرحوم کورنۍ او ټولو مجاهدينو ته تسليت وړاندي کوي او دنوي زعيم ملا اخترمحمد منصور صاحب سره خپل بيعت اعلانوي ، مخلص صاحب وايې چي دنوي زعامت په مشرتوب کي به خپلي رواني سپېڅلې مبارزې ته دوام ورکوي او ددين او وطن د حفاظت په هدف به خپل خدمت جاري ساتي

د باميانو ولايت جهادي مسؤل مولوي احمد طه داسلامي امارت له زعيم سره بيعت اعلان کړ

دباميان ولايت لپاره داسلامي امارت جهادي مسؤل مولوي صاحب احمد طه داسلامي امارت دنوي ټاکل شوي امير ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) سره بيعت وکړ، نوموړی وايې چي داسلامي امارت دنوي ټاکل شوي زعيم ملا اختر محمد منصور صاحب (حفظه الله) تر امارت لاندي به خپل جهاد ته دوام ورکوي او ددين او وطن خدمت به جاري ساتي

د څلور و ولايتونو د نظامي حلقې مسؤل مولوي ندا محمد نديم داسلامي امارت له زعيم سره بيعت اعلان کړ

دفارياب ، بادغيس،سرپل او غور ولايتونو د نظامي حلقې مسؤل مولوي ندا محمد نديم صاحب داسلامي امارت دنوي ټاکل شوي امير ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) سره بيعت اعلان کړ، او ويې وويل چي داسلامي امارت دزعيم ملا اختر محمد منصور صاحب سره بيعت کوي او په قيادت يې فخر کوي

د کونړ ولايت جهادي مسؤل مولوي محمد عمر مخلص داسلامي امارت له زعيم سره بيعت اعلان

دکونړ ولايت لپاره داسلامي امارت والي محترم مولوي محمد عمر مخلص دامير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله کورنۍ او ټولو مجاهدينو ته تسليت وړاندي کړ ،نوموړي وايې چي د کونړ ولايت د مجاهدينو او ولس په نمايندګي داسلامي امارت دنوي ټاکل شوي امير ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) سره د بيعت اعلان کوي او دنوموړي په قيادت کي به خپلي رواني سپېڅلې مبارزې ته دوام ورکوي

داسلامی امارت دکار او امور اجتماعی سابق وزيرمحترم مخدوم مولوی عبدالسلام سعادت تعزيت او بيعت

داسلامی امارت له نوی زعيم اولارشود محترم ملااخترمحمدمنصورسره دبيعتونوفه سلسله کی په دی ورستی وکی دهيواددشمال دلسوولايتونو بدخشان .تخار.کندوز . بغلان. سمنگان.مزار.جوزجان.سرپل.باميان. پنجشيرامارتی مسولينو علماوو.مشايخو مجاهدينو اودميشتوبيلابيلوقومونو (تاجک. ازبک.ترکمن.هزاره .اومغلو) فه استازيتوب ستره ناسته ترسره اوفه يوه اواز يی له نوی اميرسره دخفل شرعی بيعت اووفاداری تعهداعلان کړ.دغی تاريخی ناستی ته داسلامی امارت دکاراواموراجتماعی سابق وزيرمحترم مخدوم مولوی عبدالسلام سعادت ويناوکړه

دملکي تلفاتو دمخنيوي اداري د مسؤل دتعزيت او بيعت پيغام

دافغانستان د اسلامي امارت دملکي تلفاتو دمخنيوي اداري د مسؤل او پخواني جهادي قوماندان الحاج ملا عبدالقهار د عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمد عمر (رحمة الله عليه) کورنۍ اوټولو مجاهدينو ته د دغه لوی غم په اړه

تسلیت وړانـدي کـړی او تـر څنـګ يې لـه نـوي مشرـ امیـر المـؤمنین مـلا اخـتر محمـد منصـور (حفظـه الله) سره د يـادې اداري او د زابل ولايت د دايي چوپان ولسـوالۍ دعلـماء کرامـو په نمائندګي د بيعت اعلان وکړ

دمؤسســـواوشرکتونو دکنـــترول اوتنظـــیم کمیسیون دریـس الحـاج مولـوی عبـدالرحمن صـــاحب، دکمېســـیون داعضـــاؤاو ولایتـــی نمایندګانو دتعزیت اوبیعت اعلان

دافغانستان اسلامی امارت دمؤسسواوشرکتونو دکنـترول اوتنظیم کمیسیون دریس الحـاج مولـوی عبـدالرحمن صاحب ،دکمېسـیون داعضـاؤاو ولایتـی نمایـندګانودتعزیت اوبیعـت اعلان:دافغانسـتان داسـلامی امـارت دبـانی مرحـوم حضرـت امیرالمـومنین ملامحمدعمرمجاهـد نـورالله مرقـده دتعزیـت اوتســـلیت مراتـــب دده مرحـــوم کورنی،دمشرـــتابه مقام،ټولومجاهدینو اوټولومسلمانوورونوته وړانـدی کوو.دنوی امیرالمـومنین مـلا اخترمحمدمنصـور حفظـه الله سره دخپـل بیعت اعلان کوو ،الله تعـالی دی ددې درانـه مسؤلیت دسرتـه رسولو توفیق ورکړی.آمین

کندهارولا یت د سپین بولدک اوشـوراوک د ولسوالو مشهورمشرانو مجاهدینو د تعزیت او بیعت لیک

د کنــدهارولا یــت د ســپین بولــدک د ولســـوالۍ مشهورمشرـان مجاهـدین هریولکـه حـاجی ملامحمـد عیسـی اخنددمعدن او صنائع وزیر، حاجی ملا امین الله یوسف حـاجی دارزګان ولایت جهادی عمومی مسؤل ،ملانیک محمـد حـاجی ملنـك دشـوراوک اوريکسـتان مسـؤل، ملاعبـدالجبارحکمت دولایتی کمیسون پخوانی غـړی اوتکـړه مجاهـد،حاجی مولـوی عبدالشکور داوقـافو عمـومی مسؤل اوبیادکابـل کمـرک رئـس ، مو لوی اخترمحمد صاحب دبولدک پخوانی ولسوال،حاجی ملاعطـاؤ الله، حـاجی قـاری حمـد الله دبـرق وزارت مرستیال، ملاشـــیخ محمـــد دبولـــدک پخـــوانی ولســـوال، ملاحمـــدا لله ،ملاعبـدالغنی، حـاجی ملارحمـت الله د قـاری خیـرالله ملګـری، ملامحمـدمیر، ملاعبـدالحی، دامیرالمـومنین مـلا اخترمحمدمنصورسره بیعت اعلانوی اوپه ټولوشرعی امـوروکی به دنوی مشرمکمل اطاعت کوی.

همـدراز دکنـدهارولایت دشـوراوک دولسـوالی مسـئول حاجی ملنـګ اونظـامی کمیسـیون اوشرعـي ابتدائیـه محکمـي مسؤل اوټول مجاهـدین دامیرالمـؤمنین رحمـہ اللـہ دوفـات لـہ املہ دمرحوم کورنی اوټولو مسلمانانوتہ تسلیت وړانـدی کـوی، داســـلامی امـــارت لـــہ نـــوی زعـــیم عالیقـــدر ملااخترمحمدمنصورصـاحب سره دمجاهـدینواوعام ولـس پـه نمایندګی بیعت اعلانوی

جوزجان ولایت والي مولـوي عبـدالرحمن دتسلیت اوبیعت اعلان

دجوزجان ولایت لپاره داسلامي امارت جهادي مسؤل مولـوي عبـدالرحمن د ټولـو مجاهـدینو،او عـامو ولـس پـه نمایـندګي دامیـر المـؤمنین رحمـه الله دوفـات لـه املـه دتعزیـت مراتـب وړانـدي کـړل ،نومـوړي داهـل حـل والعقـد شوری له خواداسلامي امارت له زعیم ملا اختر محمد منصور سره په سمع او طاعت سره بیعت اعلان کړ

دغزني نومیالي قوماندان ملا جان محمد اودهلمندپخواني امنیه قومندان ملاعبـدالحق دتسلیت اوبیعت پیغام

دهلمنـد ولایـت پخـواني امنیـه قومانـدان او غـزني کـې دجهـــادي محـــاذ اوســـنی قومانـــدان مـــلا جـــان محمددامیر المؤمنین رحمه الله دوفات په اړه تسلیت وړاندي کړاو داسلامي امارت له زعیم ملا اختر محمد منصور سره یې بیعت اعلان کړ نوموړی ژمنه وکړه چي د منصـور صـاحب پـه قیـادت کـي بـه خپـل جهـاد تـه دوام ورکـوي اود صـلیبي یرغلګرواو داخلي مزدورانو پرضـد بـه يې نـه سـتړي کیـدونکي هلي ځلي کوي

د دایکنډي جهادي مسؤل ملا سلیمان اغـا دتسلیت اوبیعت پیغام

دډایکندي والي ملا سلیمان اغادامیر المؤمنین رحمه الله دوفات پـه اړه تسلیت وړانـدي کـړاو داسلامي امارت لـه زعـیم ملا اخـتر محمـد منصـور سره یـې بیعـت اعـلان کړ نوموړی ژمنه وکړه چي د منصور صاحب په قیادت کي بـه خپلي سپېڅلې مبارزې ته داوم ورکوي

د نیمروز ولایـت جهـادي مسـؤل مولـوي عبدالعزیز دتسلیت او بیعت اعلان

د نیمـروز ولایـت لپـاره داسـلامي امـارت والي مولـوي عبدالعزیز د مرحوم امیـر المـومنین رحمـه الله کورنۍ اوټولـو مسلمانانو ته تعزیت وړاندي کـړ ،نومـوړی وایـې چـي پـه یـوه لویه غونډه کي چي علـماء ، مجاهـدین اوعـام مسـلمانان پکـي موجود وو ټو لو په یوه اوازداسلامي امارت لـه زعـیم مـلا اخـتر محمد منصور سره بیعت اعلان کړ او منصـور پـه قیـادت کـي یې دجهادي جاري ساتلو وعده وکړه

د شیخ القران والحدیث عنایت الله برهاني دتسلیت او بیعت اعلان

د شیخ الحـدیث والقـران عنایـت الله برهـاني د مرحـوم امیر المومنین رحمه الله کورنۍ اوټولو مسلمانانو ته د تعزیت مراتـب وړانـدي کـړل ،برهـاني صـاحب داسـلامي امـارت لـه زعیم ملا اختر محمد منصور سره بیعـت اعـلان کـړ او وویـې ویل چي لکه څرنګه چـي منصـور صـاحب داهـل حـل والعقـد شورى له خوا ټاکل شوی موږ ته هم پـه سراو سـترګو قبـول دی او اطاعت یې کوو

د ملا اخترمحمد منصور حفظـه الله سره دنورستان ولایت علماوو او مجاهدینو بیعـت اعلان کړ:

د نورستان ولایت مرستیال والي مولـوي صـاحب منیـب الله په لاس باندي علماء او مجاهـدین داسـلامي امـارت دزعـیم عالیقدر منصور صاحب سره و بیعت کړ او ژمنه یې و کړه چـي د منصور صاحب په قیادت کي به پـه سـختۍ او سـانۍ کـي خپل جهاد ته ادامه ورکوي

داسلامي امارت د معسکر مسؤل نومیالی قوماندان سید علاوالدین اغا دتعزیت اوبیعت پیغام

د اسلامي امارت دمعسکر مسؤل نومیالی قوماندان سید علاوالـدین اغـا د مرحـوم امیـر المـومنین رحمـه الله کـورنۍ اوټولو مسلمانانو ته دتعزیت مراتب وړاندي کړل ،محـترم اغـا صاحب د عالیقدر ملا اختر محمد منصور سره بیعـت اعـلان کړ او زیاته یې کړه چي نور بایـد دمنصـور صـاحب سره بیعت کي غفلت او ځنډ ونه شي ، ځکه دښمنانان داسلامي امارت پر ضد بده استفاده ورنه کوي

دکندهارولایت دپخـواني جهـادي مسـؤول ملامحمدعیسی اخند دتعزیت اوبیعت پیغام

دکنـدهارولایت پخـواني جهـادي مسـؤول محـترم مـلا محمد عیسی اخند: دعالیقـدر امیرالمـؤمنین مـلا محمـدعمر مجاهد رحمه الله د وفات لـه املـه دنومـوړي کـورنۍ اوټولـو مسلمانانوته تسلیت وړاندي کوم

داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعیم عالیقدر محترم ملااخترمحمدمنصور صاحب حفظـه الله سره بیعـت اعلانـوم او دنوموړي په قیادت کې به دجهاد سـپیڅلي فریضي تـه ادامـه ورکوم . ان شاء الله العزیز

د تخار ولا یت والي مولوي امین الله طیـب د تعزیت اوبیعت اعلان

د تخار ولا یت جهادي مسـؤل مولـوي امـین الله طیـب د مرحوم امیر المومنین رحمـه الله لـه کـورنۍ اوټولـو مسـلمانانو ته دتعزیت مراتب وړاندي کوي ،د عالیقدر مـلا اخـتر محمـد منصـور سره بیعـت اعلانـوي او ډاډ ورکـوي چـي دمنصـور

صاحب حفظه الله په مشرۍ کې به خپل جهادي خدمت جاري ساتي

د خوست ولايت مرستيال والي مولوي احمد علي جان احمددتسليت اوبيعت پيغام

دخوست مرستيال والي مولو ي احمد علي جان احمد دامير المؤمنين رحمه الله د وفات له امله د مرحوم کورنۍ اوټولو مسلمانانو ته تسليت وړاندي کړی، داسلامي امارت له نوي زعيم عاليقدر ملا اختر محمد منصور د مجاهدينو او عام ولس په نمايندگي بيعت اعلان کړی اوپرمجاهدينو يې ږغ کړی چې له نوموړي امير سره بيعت وکړي ، دخپل صف متحد والی ته ډيره پام وکړي ځکه ددغه پاک صف بيلوالي ددښمن لويه ارزو ده

دهيواد جهادي شخصيت مولوي عبدالستار (صديقي) صاحب د تسليت او حمايت پيغام

د هيواد دنوميالي عالم او جهادي شخصيت او دحرکت انقلاب اسلامي افغانستان پخوانی مرستيال مولوي عبدالستار (صديقي)صاحب د مرحوم عالقيدر اميرالمؤمنين کورنۍ ته دتعزيت مراتب وړاندي کړي، له نوي ټاکل شوي امير ملا اختر محمد منصور حفظه الله څخه يې دحمايت اظهار کړی ،او دافغانستان له ټولو مجاهدينو،اوعامو مسلمانانو څخه يې کلکه غوښتنه کړې چې د اسلامي امارت لپاره د ټاکل شوي امير اطاعت،ملاتړ او لاسنيوی وکړي

د بغلان ولايت والي ملا محمد اسماعيل صاحب دتسليت او بيعت پيغام

دبغلان ولايت جهادي مسؤل ملا محمد اسماعيل صاحب دعاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله له کورنۍ اوافغان ولس سره دمرحوم امير المومنين دوفات په وير کي ځان شريک گڼي ،داسلامي امارت مشرتابه اوټولومجاهدينو ته تسليت وايې اود نوي زعيم ملا اختر محمد منصور صاحب سره يې بيعت اعلان کړ،نوموړي وويل چې دمنصور صاحب په مشرتوب کي به خپل جهاد ته دوام ورکوي .

د ننگرهار ولايت مرستيال والي شيخ زر محمدصاحب دتسليت او بيعت اعلان

دننگرهار ولايت مرستيال والي شيخ زرمحمد صاحب دعاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله له کورنۍ اوټولو مجاهدينو سره دمرحوم امير المومنين دمړينې له امله غمرازي وښوده، نوموړي د ننگرهار دمجاهدينو او ولس په نمايندگي داهل حل والعقد شورى له لوري دغوره شوي امير ملا اختر محمد منصور صاحب سره بيعت اعلان کړ او همدا راز يې هوډ وښودچې د نوي امير منصور صاحب په امارت کي به دخپلې برحقې داعيې څخه دفاع کوي اوخپل جهادته به دوام ورکوي

د نظامي کميسيون دغړي حافظ نورالله صاحب د تعزيت او بيعت پيغام

دحيرتان د ۷۰ فرقې پخواني قوماندان او اوس مهال دافغانستان اسلامي امارت دنظامي کميسيون غړي حافظ نور الله صاحب د عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمد عمر (رحمة الله عليه) کورنۍ اوټولو مجاهدينو ته تسليت وړاندي کړی او ورسره يې له نوي مشر امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) سره د علماء کرامو په نمائندگي د بيعت اعلان وکړ

دکابل جلال آباد لويي لاري د مسؤل مولوي عبدالله دواډ گېرني او بيعت پيغام

له پلازمېنې تر جلال آباد پوري دلويې لاري مسؤل مولوي عبدالله دمرحوم عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد(رحمه الله) کورنۍ او ټولومجاهدينو ته تسليت وړاندي کړ ، او ورسره يې له نوي مشر اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) سره يې بيعت وکړ

د لغمان ولایت مرستیال والي د تسلیت او بیعت پیغام

دافغانستان اسلامي امارت دبغلان ولایت مرستیال والي ملا محمد نظر صاحب دمرحوم عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد(رحمة الله علیه) کورنۍ او مجاهدینو ته دتعزیت او ډاډ مراتب وړاندي کوي او ترځنګ یې له امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) سره د نوي مشر په حیث بیعت وکړ

د زابل ولایت دنظامي کمیسیون دمشر دتسلیت او بیعت پیغام

د افغانستان اسلامي امارت دزابل ولایت دنظامي کمیسیون مشر مولوي محمد فرید صاحب دعالیقدرامیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد(رحمة الله علیه) دوفات په مناسبت دهغه کورنۍ او ټولومجاهدینو ته تسلیت وړاندي کړ او له نوي مشر امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) سره یې دبیعت اعلان وکړ

دفراه ولایت ولایتي کمیسیون مشر حاجي ملا عبدالسلام اخند دتعزیت او بیعت پیغام

دفراه ولایت ولایتي کمیسیون مشر حاجي ملا عبدالسلام اخند دیوه را لیږلي پیغام په ترڅ کې دافغانستان داسلامي امارت دمرحوم مشر امیرالمؤمنین دمړیني له امله داسلامي امارت نوي مشرتابه او دامیرالمؤمنین کورنۍ ته تعزیت وړاندي کړی دی

دوی دامیر المؤمنین مړینه دامت په سطحه یوه ستره ضائعه بللې داسلامي امارت مشرتابه او دامیرالمؤمنین کورنۍ ته یې تسلیت ویلی دی

دوی دخپلو ملګرو په استازیتوب داسلامي امارت له نوي مشرتابه سره دبیعت تر څنګ دژوند تر پایه دخدمت کولو ډاډ ور کړی دی

د قاري صاحب احمدالله ورور ملا محمد نبي مجروح دتعزیت او بیعت پیغام

دافغانستان داسلامي امارت دشرعي امر علیقدرامرالمؤمنین رحمة الله درني کورني اود افغانستان د اسلامي امارت نوی زعیم ته دقاري صاحب احمدالله دي ورور ملا محمد نبي مجروح دي تعزیې او خوا خوږی پیغام

دافغانستان داسلامي امارت د جهادي کاروان او قا فلي ستر مشر علیقدر أمیرالمؤمنین (رحمت الله)دوفات تعزیت دده درني جهادي کورنۍ او دهغه رحمه الله ځایناستي محترم منصور صاحب او ټولو مجاهدینو ته وړاندي کوم ، الله جل جلاله دي دهغه رحمه الله ټول جهادي خدمتونه قبول او دهغه د لاري ملګرو ته جمیل صبر ورکړي.

زه محمد نبي مجروح د قاري صاحب احمدالله د ټولو مجاهدینو په نمایندګي دعلیقدرامیرالمؤمنین پر ځای نوي منتخب زعیم محترم ملا اختر محمد منصور حفظه الله ته خپل بیعت او أطاعت اعلانوم

داسلامي امارت دترانسپورت دپخواني وزیر مرحوم الحاج ملاحبیب الله آخند دکورنۍ اوملګرو دتعزیت اوبیعت پیغام

دعالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهدرحمه الله دوفات له امله دنوموړي کورنۍ اوټولو مسلمانانوته تسلیت وړاندي کوو داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعیم قابل قدرمحترم ملااخترمحمد منصور صاحب حفظه الله سره بیعت اعلانوو دالله تعالی له درباره ورته توفیق غواړو

داسلامي امارت دحج او اوقافو دوزات پخواني مرستیال مولوي محمد مسلم حقاني دتعزیت او بیعت پیغام

محترم مولوي محمد مسلم حقاني په ژغ کې الاماره ویب پاڼي ته دتعزیت او له نوي امیر صاحب ملا اخترمحمد

منصورسره دبیعت پیغام را لیږ لی دعالیقدرامیرالمؤمنین رحمه الله کورني او ټولو مجاهدینو ته یې دتعزیت اوتسلیت ترویلو وروسته له امیرالمؤمنین ملا اخترمحمدمنصور سره بیعت کړی او ټول مجاهدین او عام مسلمانان یې یو والي اوایثار ته را بللي او هیله یې کړې چې الله تعالی دي ټول مسلما نان په منصور صاحب باندې دا سې را ټول کړي لکه په مرحوم ملا صاحب مبارک باندې چې را ټول شوي وو

دکابل د پخواني والي مولوي محمد داوود جلالي دتعزیت او بیعت پیغام

د افغانستان اسلامي امارت دکابل ولایت پخواني والي مولوي محمد داوود (جلالي) په خپل یوه ږغیز پیغام کې دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله درنې کورنۍ او ملګرو ته دهغه و فات له امله دتعزیت مراتب وړاندې کړي او له نوي ټاکل شوي امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور حفظه الله سره یې دبیعت اعلان کړی

دهیواد د نامتو عالم شیخ الحدیث مولوي سلطان محمد ثاقب دبیعت او تعزیت پیغام

د ننګرهار ولایت جید عالم شیخ الحدیث مولوي سلطان محمد(ثاقب) په یوه ږغیز پیغا م کې دمرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد کورنۍ ،مجاهدینواو عام ولس ته د مرحوم امیر دوفات له امله تسلیت وړاندې کړی او د الله عزوجل له درباره یې دجمیل صبر غوښتنه کړې ،د نوي ټاکل شوي امیر ملااخترمحمد(منصور)حفظه الله سره یې بیعت کړی دی او په ټولو شرعي امورو کې ورته دموفقیت دعاء کوي

دهیواد د نومیالي لیکوال،مورخ اوعالم استاد زاهدي احمدزي دتعزیت او بیعت پیغام

د هیواد نوموتی لیکوال ،مورخ او علمي شخصیت استاد زاهدي احمدزی په یوه ږغیز پیغام کې دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات له امله دهغه کورنۍ ،ملګرو او ټول مسلمه امت ته دتعزیت او غمرازۍ مراتب وړاندې کوي اود نوي ټاکل شوي امیرالمؤمنین ملااخترمحمد (منصور)حفظه الله سره دبیعت اعلان کوي.

داستشهادي ګروفونو قومندان قاري عبدالرؤف (ذاکر) دتعزیت او بیعت پیغام

دافغانستان اسلامي امارت د استشهادي ګروفونو تګړه پوځي قومندان قاري عبدالرؤف(ذاکر)دیوه رالیږل شوي پیغام په ترڅ کې دعالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله کورنۍ،هم سنګرو او عامو افغانانو ته دمرحوم امیر د وفات له امله دتعزیت مراتب وړاندې کوي او د اسلامي امارت له نوي ټاکل زعیم ملااخترمحمد(منصور)حفظه الله سره دبیعت اعلان کوي او ډاډ څرګندوي چې په خوښي او ناخوښي به دده ټولو شرعي اوامرو ته لبیک وایي .

دروزګان ولایت دجلب اوجذب کمیسیون درئیس، معاونینو اونمایندګانو دتعزیت اوبیعت پیغام

دروزګان ولایت دجلب اوجذب کمیسیون عمومي رئیس ملاسخي داد سعادت ، اودهغه معاونین هریو مولوي عصمت الله عاصم اوملااحمدالله په همدي ولایت کې دجلب اوجذب کمیسیون دټولو نمایندګانو په نمایندګي داسلامي امارت دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله درنې کورنۍ اوټولو مجاهدینوته دامیرالمؤمنین رحمه الله دوفات له امله دتعزیت مراتب وړاندې کړل

وروسته نوموړودخپلوټولو همکارانوپه نمایندګي داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امیر محترم ملا اخترمحمدمنصور حفظه الله سره بیعت ترسره کړ او زیاته یې کړه لکه څرنګه چې مو له مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله سره بیعت کړی ؤ همداشان موله منصورصاحب حفظه الله سره بیعت دی اوپه ټولو شرعي امورو کې به یې بشپړملاتړکوو

دهجرت په ديار کي دمرحوم اميرالمومنين دتعزيت او له نوي امير منصور صاحب سره دبيعت په مناسبت دزرگونوعلما اومخورو او عوامو غونډه وشوه

د بلوچستان ايالت د مرکز کوټي ښار په هزار گنجي سيمه کي په زرهاوو عامو مسلمانانو اودهيواد مشهورو علماء کرامو دمرحوم امير المؤمنين دتعزيت او له نوي امير سره دبيعت په مناسبت يوه لويه غونډه وکړه ،دمشهورشيخ الحديث اودامارت په مهال دستري محکمې دريس مرحوم مولوي عنايت الله غبرگي مشرصاحبزاده شيخ الحديث خليفه مولوي محمدعمرجان اخنزاده صاحب، استادالعلماء اودغزني دمرافعه محکمي مفتي شيخ الحديث مولوي عبدالله گل صاحب اومشهورعالم اومقررمولوي احسان الله صاحب په گډون په زرهاوو عامو مسلمانانو په دغه غونډه کي شرکت کړی ؤ ،يادشوو علماء کرامو اوعامو مسلمانانود مرحوم اميرالمومنين روح ته دعاء وکړه اوله نوي اميرالمومنين منصور صاحب سره يې بيعت وکړ .

د امير المؤمنين رحمه الله د خاص دفتر دمخابراتو دڅانگي دمشر۔ او ملگرو دتعزيت اوبيعت پيغام

دامير المؤمنين رحمه الله د خاص دفتر د مخابراتو دڅانگي مسؤل ملا عبدالقيوم زاهد او ملا نور گل اخنددخپلو ټولو ملگرو په نمايندگي د مرحوم امير المؤمنين دوفات له امله دنوموړي کورنۍ اوټولو مسلمانانو ته دتسليت مراتب وړاندي کوي،دوی وايي چي موږ داسلامي امارت د نوي امير منصو رصاحب سره بيعت اعلا نوو او دپوره اطاعت او همکارۍ وعده ورسره کوو.

والسلام ملا عبدالقيوم زاهدنصرت په نامه د اروابنادمشر ملا صاحب د دفتر دمخابراتو مسؤل

د بنديانو چارو کمېسيون د رئيس، مرکزي اعضاوو او ولايتي مسئولينو د تعزيت او بيعت پيغام

نحمده و نصلي على رسوله الكريم امابعد !

د اسلامي امارت د بنديانو د تنظيم او خلاصون د چارو کمېسيون عمومي مسئول ، مرستيال ، اداري او مالي مسئول ، د عمومي ارتباطاتو مسئول ، د تحقيق او تفتيش د څانگي مسئول او ټول ولايتي مسئولين لومړی د اسلامي امارت د مؤسس او د اسلامي نړۍ د سترشخصيت عاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات له امله ټول اسلامي امت ، د افغانستان اسلامي امارت او په ځانگړي ډول د مرحوم اميرالمؤمنين رحمه الله درنې کورنۍ ته د تسليت او تعزيت مراتب وړاندي کوي ، أميرالمومنين رحمه الله واقعاً د مسلمانانو په غم غمجمن مشر وو او ټول عمر يې د اعلاء کلمة الله په لاره کې ډول ډول تکاليف او ستړياوي وگاللې ، له الله تعالي څخه غواړو چې مرحوم أميرالمؤمنين رحمه الله ته د امت د خدمت په لاره کې د ټولو ستړياوو عوضونه په جنت کي ورکړي .

او بيا د اسلامي امارت د نوي زعيم محترم الحاج ملااخترمحمد منصور صاحب حفظه الله سره خپل بيعت اعلانوو او ژمنه کوو چي د محترم امير حفظه الله هر شرعي امر به د يُسر او عُسر او د خوښۍ او ناخوښۍ په ټولو صورتونو کي عملي کوو ، الله تعالي دي د اسلامي امارت د زعيم حفظه الله په قيادت کي د ښو خدمتونو توفيق رانصيب کړي . آمين

د نظامي کميسيون غړي او حلقوي مسؤل قاري سيف الله (فاتح)دتعزيت او بيعت پيغام

دافغانستان داسلامي امارت دنظامي کميسيون غړی او دحلقي مسؤل قاري سيف الله (فاتح) دخپلو ټولو ملگرو په نمائندگي دمرحوم عاليقدراميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله کورنۍ ته دتسليت مراتب وړاندي کړل او

داسلامي امارت د زعامت لپاره دټاکل شوي اميرالمؤمنين ملا اختر محمد (منصور)حفظه الله سره دبيعت اعلان وکړ.

د هرات اوغزني دپخواني والي شهيد ملا يار محمد اخند دکورنۍ او ملګرو دتسليت اوبيعت اعلان

دهرات او فراه ولايتونو دنظامي کميسيون د غړي ا وشهيد ملا يار محمد اخند د ملګرو مشر ملا محمد يونس اخند د خپلو ټولو ملګرو او دشهيد ملا يار محمد اخند دکورنۍ په نمايندګي ټولو مسلمانانوته داميرالمؤمنين رحمه الله دوفات له امله دتعزيت وړاندي کړ ،اواداسلامي امارت له زعيم ملا اختر محمد منصور سره په سمع او طاعت سره بيعت اعلان کړ .

د مولوي داود جلالي او ياسين اغا دتعزيت اوبيعت پيغام

دلوګر ولايت دسوونو مجاهدينو مشر مولوي داود جلالي دمرحوم اميرالمومنين روح ته ددعا او درناوي ترڅنګ داسلامي امارت له نوي زعيم ملا اخترمحمد منصور سره دخپل ځان او سوونو مجاهدينوپه استازيتوب بيعت اعلان کړ،همدا راز دمرکزي نظامي کميسون د شمال د۷ولاياتودحلقې مسول ياسين اغادمرحوم اميرالمومنين دوفات تعزيت داسلامي امارت ټولو مجاهدينو اودمرحوم درنې کورنۍ ته وړاندي کړ، اودنوی امير ملااخترمحمدمنصورصاحب سره يې بيعت اعلان کړ .

د شهداء، يتيمانو اومعيوبينو د سميزو چارو کميسيون دتعزيت او بيعت اعلان

د شهداء، يتيمانو اومعيوبينو د سميزو چارو کميسيون مرکزی اعضاؤاود ولايتی نمايندګانو دمرحوم اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات له امله د ټولو مسلمانانو، مجاهدينو او بالخصوص د ملا صاحب رحمه الله کورنۍ ته دزړه له تل نه تسليت وړاندی کوي .

زه د شهداء، يتيمانواومعيوبينو دسميزو چارو دکميسيون مسئول په حيث د ټولو مرکزی اعضاؤ، ولايتی نمايندګانو په نمايندګي لکه څنګه چې مو د مخکنی مرحوم امير رح سره بيعت کړی ؤهمدا شان مود اوسني نوی امير ملا اختر محمد منصور بيعت دی او په ټولو شرعي چارو کي يې بشپړ ملا تړ کوو.

د شهداءاو يتيمانو دسميزو چارو مسئول مولوی عبد الحکيم حقاني

بادغيس : قادس ديوې پراخي غونډې په ترځ کې دفاتحې اوبيعت مراسم ترسره شول

دبادغيس ولايت له قادس ولسوالۍ نه په رارسيدلي خبرکې مسؤول مجاهدين وايي چې : نن سهار ۸ بجې ديادي ولسوالۍ په مربوطاتوکې دهمدي ولسوالۍ دولسوال محترم ملا محمدعيسی په سرپرستي ديادي ولسوالۍ اوشاوخوا سيمو په سلهاؤ علماء کرامو، مجاهدينو ، قومي مشرانو او عامه مسلمانانو ديوې پراخي غونډې په ترځ کې د عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله روح ته دثواب بخښلو په موخه دقرآن کريم ختم اودفاتحې مراسم ترسره شول

غونډه چې دسهار په ۸ بجوپيل شوه دغرمي تر ۱۱ بجوپوري يې دوام وکړ

دغونډې په پای کې ټولو ګډونوالو په يوه خوله داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعيم ملااخترمحمدمنصور حفظه الله سره بيعت او داسلامي امارت دکاميابي لپاره يې دعاګاني وکړي

دملامشرمرحوم دمحاذ مسؤول او دعالي کميسيون دغړي محترم ملاعبدالسلام (حيدر) تعزيت اوبيعت

دشهيد ملامشر اخند دمحاذ مسؤول اودبادغيس اوفارياب دعالي کميسيون غړی ملاعبدالسلام (حيدر)

د اميرالمؤمنين رحمه الله کورنۍ،اوټولو مسلمانانوته تعزيت وايم،

زه دخپلو ټولو ملګرو چې په ۲۹ دلګيو کې دکندهار، روزګان : دايکندي ، فارياب اوبادغيس کې په جهاد بوخت دي او همدارازدخپلي سيمي دعلماء کرامو، قومي مشرانو اوعام ولس چي ۱۰۰۰۰الس زره کورنۍ يې په بادغيس او فارياب کي او ۷۰۰کورنۍ دهجرت په ديار مسلم باغ کمپ کي ميشت دی په نمايندګي داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امير ملا اخترمحمد منصور حفظه الله سره بيعت اعلانوم، موږ خپل نوی امير منصور صاحب ته ډاډ ورکووچي لکه څنګه چي اميرالمؤمنين رحمه الله پرتا اعتماد کړی ؤ ، زموږ هم پرتاسو اعتماد دی اوستاسو ترامرلاندي به جهاد ته ادامه ورکوو.

دملکي تلفاتو دمخنيوي اداري دمعاون اودهمدي اداري دټولوکارمندانو دتسليت اوبيعت پيغام

داسلامي امارت دملکي تلفاتو دمخنيوي اداري دمعاون منيب مولوي صيب او دهمدي اداري ټول کارمندان دعاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله دوفات په اړه دنوموړي کورنۍ اوټولو مجاهدينوته دغمرازي ، فاتحي اوتسليت مراتب وړاندي کوو الله تعالی دي نوموړي ته جنت الفردوس ورپه برخه کړي

ورپسې داسلامي امارت داهل الحل والعقد له لوري دټاکل شوي امير محترم ملااخترمحمدمنصور حفظه الله سره دبيعت اعلان کؤو اوترخپله وسه به يې په ټولو شرعي اموروکې اطاعت کوو

دکندهارولايت دپخواني جهادي مسؤول ملامحمدعيسی اخند دتعزيت اوبيعت پيغام

دکندهارولايت پخواني جهادي مسؤول محترم ملا محمد عيسی اخند: دعاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله د وفات له امله دنوموړي کورنۍ اوټولو مسلمانانوته تسليت وړاندي کوم

داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعيم عاليقدر محترم ملااخترمحمدمنصور صاحب حفظه الله سره بيعت اعلانوم او دنوموړي په قيادت کې به دجهاد سپيڅلي فريضي ته ادامه ورکوم . ان شاء الله العزيز

په قطر کي داسلامي امارت د سياسي دفتر دغړو لخوا دتعزيت پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبی بعده. اما بعد،

قال الله تعالی: کل نفس ذائقة الموت. الآية

زه او د افغانستان د اسلامي امارت سياسي دفتر ټول اعضاء د عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی د مړيني له امله د هغه مجاهدې کورنۍ، د اسلامي امارت مشرتابه، ټولو مشرانو، اعضاوو، مجاهدينو، افغان مجاهد ولس او اسلامي امت ته د زړه له کومي تسليت وايو، الله تعالی دي هغوی ته مغفرت وکړي، او جنت الفردوس دي نصيب کړي.

د عاليقدر امير المومنين رحمه الله مړينه د اسلامي امارت، د افغانستان مجاهد ولس، او اسلامي امت لپاره يوه ستره او نه جبيره کيدونکې ضايعه بولو، الله تعالی دي ددې ستري غميزې د زغملو لپاره زمونږ ټولو په تيره بيا د هغه کورنۍ ته صبر جميل ورکړي. د اسلام په لاره کې د هغه ژوند او هلي ځلې د اسلام او افغانستان د تاريخ وياړمن او زرين باب دی. الله تبارک وتعالی ته لاس په دعا يو چې د هغه لاري د پاللو، همدا شان د شهيدانو د قربانيو او مجاهدينو د ستړياوو د ثمراتو د حاصلولو په لاره کې مو توفيق نصيب کړي. ان شاء الله په دې لاره کې به د پخوا په شان د خپلو اسلامي او ملي مصالحو په پام کې نيولو سره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوو. والسلام، شير محمد عباس ستانکزی.

د افغانستان د اسلامي امارت د سياسي دفتر معاون

په قطر کې داسلامي امارت دسیاسیدفترو غړو لخوا دبیعت پیغام

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد:

قال الله تعالی: واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقوا. الآیة

د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

زه او د سیاسي دفتر اعضاء د اسلامي امارت د نوي زعیم محترم ملا اختر محمد منصور سره بیعت کوو، او د اسلامي شریعت په چوکاټ کې په ټولو امورو کې تر خپله وسه اطاعت کوو، او د حق پالني په لاره کې له خپله طرفه اطمینان ورکوو.

له الله جل جلاله نه غواړو چې د هیواد د خپلواکۍ د ګټلو او ساتلو او د اسلامي نظام د قیام د لوړ هدف لپاره له مونږ ټولو سره نصرت او مرسته وکړي. امین ثم امین

شیر محمد عباس ستانکزی

د افغانستان د اسلامي امارت سیاسي دفتر معاون

زابل : شملزوکې دشهیدملامحمدحسین مستسعد ملګرودپراخي غونډي په ترڅ کې بیعت ترسره کړ

دزابل ولایت له شملزو ولسوالۍ نه په رارسیدلي خبرکې مسؤول مجاهدین وایې چې : نن سهار دیادي ولسوالۍ په مربوطاتوکې دالحاج شهید ملامحمدحسین مستسعد تر ۱۰۰ تنه زیاتو مجاهدینو دیوې پراخې غونډې په ترڅ کې دعالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله لپاره دقرآن کریم ختم او دفاتحې مراسم ترسره کړل

وروسته ټولوپه یوه خوله داسلامي امارت داهل الحل والعقد شورى له لوري دنوي ټاکل شوي امیر ملااخترمحمدمنصور حفظه الله سره بیعت وکړ

د جهادي شخصیت حاجي مولوي جنت ګل دتسلیت او بیعت اعلان

حاجي جنت ګل صاحب د عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله روح ت دد عاء ترڅنګ دمرحوم کورنۍ اوټولو مجاهدینوته تسلیت وړاندې کوي،ته بښنه او مغفرت وکړي او د جنت عالیه درجات یې نصیب کړي.

جنت ګل حاجي وایې چې د خوښۍ ځای دی چې د عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله ځای خالي پاتې نشو او هغه چاته له ده رحمه الله نه پاتې د اسلامي امارت زعامت وسپارل شو په چا باندې چې ده رحمه الله په خپل ژوند کې اعتماد او باور کړی ؤ.

داد اهل الحل و العقد شورى له لوري د اسلامي امارت نوی امیر منصور صاحب وټاکل شو نو زه هم په سمع او طاعت باندې بیعت ورسره اعلانوم.

ان شاءالله د اسلامي شریعت سره برابر هر امر به یې په سر اوسترګو منم او د ده منصور صاحب حفظه الله په قیادت کې به د صلیبیانو او منافقانو په ضد خپل سپیڅلي جهاد او مبارزې ته دوام ورکوم.

الحاج مولوي جنت ګل

په خیبر پښتونخوا کي د۳۰ مدرسو استادانو، مهتمیمینو، اوعلماء کرامو داسلامي امارت له زعیم سره بیعت وکړ

دعیني شاهدانو په وینا نن دخیبر پښتونخوا ایالت له کوهاټ څخه تر پاړه چنار پورې د دوه دیرش مدرسو ، مهتمیمینو ، استاذانو او ټولو جیدو علماء کرامو ، شیوخو،د امارت مسؤلینو او مجاهدینو په درسمند کمپ کې په یوه لویه غونډه کې داسلامي امارت له نوي امیر ملا اختر محمد منصور صاحب خپل بیعت اعلان کړ، دوی داټاکنه یو غوره انتخاب وباله او زیاته یې کړه چې منصور صاحب د مرحوم امیر المؤمنین رحمه الله له خوا خپل نائب ټاکل شوی ؤ، نو لهذا دنوموړي غوراوی ډیر ښه او پرځای انتخاب دی، الله

تعالی دي په ټولوشرعي امورو کې موفق لري او مونږ ونومونږي ته دخپل حمایت ډاډ ورکوو.

دزابل ولایت د ۱۲ ولسوالیو نظامي مسؤلینو اودولایتي کمیسیون رئیس له نوي ټاکل شوي امیرسره بیعت ترسره کړ

دزابل ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو نظامي مسؤولینو او دهمدي ولایت د دولایتي کمیسیون رئیس محترم مولوي عطاء الله فرید صاحب دیوې ستري غونډې په ترځ کې چې دګڼ شمېر مجاهدینو علماؤ په ګډون پکې دکمیسیونونو ټول غړي هم موجود ؤ داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعیم محترم ملااخترمحمدمنصور حفظه الله سره خپل بیعت اعلان کړ

ټولو په یوه خوله داهل الحل والعقد له لوري دمنصورصاحب حفظه الله ټاکنه ومنله او دنومونږي ترقیادت لاندي یې دخپل جهادي خدمت ژمنه وکړه.

دیادوني ده چې له تېرو ۲ ورځو راهیسې دزابل ولایت دمرکز په شمول په ټولو ولسوالیو کې دعلماء کرامو، مجاهدینو، قومي مشرانو اوعامه مسلمانانوله لوري محترم امیرالمؤمنین رحمه الله لپاره دقرآن کریم ختمونه ، دعاګاني او له نوي امیر سره بیعتونه ترسره شول

دزابل والي مرستیال نقشبندي صاحب اوقومندان بشیر هم دټولو ملګروپه شمول بیعت وکړ

دزابل ولایت دوالي مرستیال محترم نقشبندي صاحب او ورسره په لسهاؤ جهادي قومندانانو دیوې پرتمیني غونډې په ترځ کې داهل الحل والعقد دپریکړي په اساس ملااخترمحمد منصور حفظه الله داسلامي امارت دنوي زعیم په توګه ومانه او دنومونږي ترقیادت لاندي یې دخپل جهادي خدمت جاري ساتلو ژمنه وکړه.

دیادوني ده چې پرون ورځ دشهید ملامحمدګل نیازي ورور اوپه سیمه کې غښتلي قومندان حاجي بشیر صاحب هم دخپلو ټولو مجاهدو ملګروپه ګډون له نوي ټاکل شوي امیرمحترم ملااخترمحمدمنصور صاحب سره بیعت ترسره کړ.

دشهید الحاج مولوي اخترمحمدعثماني دکورنۍ اوملګرولخوا دتعزیت اوبیعت اعلان

دکندهارولایت دقول اردو پخواني قومندان او داسلامي امارت درهبري شورى دغړي شهید الحاج مولوي اخترمحمد عثماني (رحمه الله) ملګري اوکورنۍ دامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد(رحمه الله) کورنۍ ته ، داسلامي امارت مجاهدینو اوعامه مسلمانانوته دامیرالمؤمنین رحمه الله دوفات په اړه تسلیت اوتعزیت وړاندي کوو له الله رب العزة څخه ورته جنت الفردوس غواړو

مونږ د اهل الحل والعقد له لوري داسلامي امارت لپاره دټاکل شوي امیر محترم ملا اخترمحمدمنصور حفظه الله سره بیعت کوو او کلک هوډ مودی چې دنومونږي په قیادت کې خپل ځان له هیڅ ډول خدمت څخه ونه سپموو

والسلام ، دشهید مولوي اخترمحمدعثماني رحمه الله ورور حاجي ابوالوفا ء عثماني

دامیرالمؤمنین دپخواني نائب شهید ملاعبیدالله اخند دکورنۍ د تعزیت اوبیعت لیک

دامیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد(رحمه الله) دپخواني نائب شهید الحاج ملاعبیدالله اخند(رحمه الله) دکورنۍ له لوري دامیرالمؤمنین - رحمه الله رحمة واسعة - درنې کورنۍ ته ، داسلامي امارت مجاهدینواوټولو مسلمانانوته دامیرالمؤمنین دوفات په هکله تسلیت وړاندي کوي.

مونږ دامیرالمؤمنین (رحمه الله) دفات خواشینونکي فراق کې خپل ځان له ټولو مسلمانانوسره شریک ګڼو

داچې محترم منصور صاحب د اهل الحل والعقد شورى داسلامي امارت لپاره زعیم ونوماوه مونږ ورسره بیعت کوو اووعده کوو چې دنومونږي په مشري کې به خپل ځان له هیڅ ډول خدمت څخه ونه سپموو

والسلام دامیرالمؤمنین رحمه الله دشهید نائب الحاج ملاعبیدالله اخند وروڼه حاجي ملاعبدالهادي اوحاجي فضلي

دننګرهار ولایت سوونو ، علمای کرامو ، مشایخو ، مجاهدینو او عامومسلمانانو ،دمرحوم امیرالمومنین روح ته ددعا ترڅنګ له نوي امیرسره بیعت اعلان کړ

دراپورونو ترمخه ، نن ددوشنبي په ورځ دهجرت په دیار دبوړۍ ناصرباغ ، دحضرت یاسر په جامع جومات کې دمرحوم عالیقدر امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد رح پاک روح ته ددعا اوفاتحي ستره غونډه دننګرهار اونورو ولایتونو دسوونو علمای کرامو، مشایخو ، مجاهدینو اوعامو مسلمانانو په ګډون جوړه اوترسره شوه ، دفاتحي په دغو مراسمو کې دعظیم الشان قران په ختمونو اوتلاوتونو سربیره دهیواد نومیالي علمي اوروحاني شخصیت محترم شیخ القران والحدیث مولوي عبدالرشیدشنواري، محترم شیخ القران والحدیث مولوي محمداسماعیل رحماني ، محترم شیخ القران والحدیث مولوي سلطان محمد ثاقب په خپل وار ارزښتناکي خبري وکړي ، دمرحوم عالیقدر امیرالمومنین دوفات دستري ضایعي او دهغه دستر و دیني اوجهادي خدمتونو باندي یې رڼاوي واچولي ، وي ویل ، مرحوم ملامحمد عمر مجاهد په خپل وخت کې اسلامي امت ته داسلامي ویښتابه او خپلواکی ګټلو جهادي روح ورکړ او نسلونو ته یې داستقامت ، استقلال او اسلامي غرور دساتلو درس پریښود ، دغه را ز محترمو شیوخو داسلامي امارت لپآره دنوي امیر اوجانشین محترم ملااخترمحمد منصور ټاکل کیدل وستایل ، دمجلس له برخوالو یې وغوښتل چې په همدې مجلس کې دبیعت شرعي مکلفیت ادا او لاسونه پورته کړي ، چې دبرخوا له لوري په ډیر اخلاص او جذباتي انداز له نوي امیرسره خپل بیعتونه اعلان او داسلامي امارت دجهادي صف دټینګښت لپاره یې خپل هرراز چمتوالي څرګندکړ

دمحترم الحاج ملا محمد عباس اخند تعزیت او بیعت لیک

زه دعالیقدر امیرالمؤمنین درني کورنۍ، اوټول اسلامي امت ته دنوموړي دوفات له امله دتعزیت او تسلیت مراتب وړاندي کوم اوټولو ته له الله تعالی څخه دجمیل صبراوعظیم اجرغوښتنه کوم همدارنګه له نوي امیر محترم ملا اخترمحمد منصورصاحب سره دبیعت اعلان کوم اوپه ټولو شرعي اومورو کې به یې اطاعت کوم .والسلام

داسلامي امارت دعامي رو غتیاوزیر او بیا دصحت دکمیسیون پخوانی مسئول ملا محمد عباس اخند

دلسو ولایتونو د محاکمو رئیسانو اود څلور ولایتونو والي صاحبانو د نوي امیر (منصور صاحب حفظه الله) سره بیعت و کړ

دیوې لویې ناستي په ترڅ کي د هیواد دلسو ولایتونو د محاکمو رئیسانو، او دڅلورو ولایتونو لپاره داسلامي امارت جهادي مسولینو(والیانو) داسلامي امارت دمرستیال (شیخ الحدیث والتفسیر مولوي هیبت الله اخند زاده صاحب) په لاس د نوي ټاکل شوي امیر محترم ملا اختر محمد منصور صاحب سره بیعت وکړ.

د زابل ولایت والي مطیع مولوي صاحب ، د دایکنډي والي ملا سلیمان اغا، د ارزګان والي حاجي محمد یوسف امین، او د غزني والي مولوي محمد قاسم صاحب ، همداراز د لسو ولایتونو د مرافعې محاکمو رئیسانو، مجاهدینو اومسؤلینو دمحترم اخند زاده صاحب په لا س له نوي امیر سره بیعت وکړ.

دوی خوښي څرګنده کړه چي داهل حل والعقد شوری د پریکړې په اسا س محترم ملا اختر محمد منصور صاحب داسلامي امارت د نوي زعیم په حیث ټاکل شوی او ژمنه یې وکړه چي د نوموړي امیر تر قیادت لاندي به خپل جهاد او خدمت ته دوام ورکوي .

په ننګرهار کې د اسلامي امارت د کانال برحال مسئول او غښتلي قومندان مولوي عبدالغفور تعزیت او بیعت

بسم الله الرحمن الرحيم

د نورو ټولو مسلمانانو او مجاهدینو په څېر زموږ زړه هم د امیرالمؤمنین د وفات په خبر وخوږېد. رښتيني مشر. و. د وفاء او جرئت څښتن و. د هغه درنې کورنۍ، ټولو مجاهدینو او ټولو مسلمانانو ته یې د وفات په اړه تعزیت او تسلیت وړاندې کوم. الله جل جلاله دې پرې رحم وکړي او هغه کوښښونه چې د اسلامي نظام د قیام لپاره یې کړي، الله جل جلاله دې ترې قبول کړي.

همدا ډول نوي امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور سره د خپلې کورنۍ، دلګۍ مشرانو او سرګروپانو په استازیتوب علی السمع والطاعة بیعت اعلانوم. دعاء کوم چې الله جل جلاله امیرالمؤمنین او نائبینو ته یې - یو شیخ الحدیث هبة الله اخوندزاده او ملا سراج الدین حقاني - د شریعت او د جهاد په لار ثبات او استقامت په برخه کړي. امین

په درنښت

هرات کې هم په پراخه کچه دفاتحې او نوي امیر سره دبیعت مراسم ترسره شول

دهرات ولایت له مرکز هرات ښار نه دالاماره ویب پاڼې مطبوعاتي نماینده خبرراکوي چې : په تېرو ۲ ورځو کې دهرات ولایت دمرکز هرات ښار ، کشک کهنه ، ګلران ، رباط سنګي ، شینډنډ اونورو ولسوالیو اوسیموکې په پراخه کچه په مساجدو اودغونډو په ترڅ کې دعلماء کرامو، مشائخو، روحانیونو، مجاهدینو اوعامه مسلمانانوله لوري دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد(رحمه الله) لپاره دقرآن کریم دختم ، فاتحې او له نوي ټاکل شوي امیر محترم ملااخترمحمدمنصور صاحب حفظه الله سره دبیعت دتجدید مراسم ترسره شول

دغونډو په مهال علماء کرامو دیویشتمي پیړۍ داتل اودجهاد مجدد امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله په ژوند اودهغه په کارنامو رڼا واچوله هغه ته یې دمغفرت اونوي ټاکل شوي امیر ته داستحکام ، اوثبات لپاره دعاګاني وکړې

دروزګان والي الحاج ملامحمدیوسف امین دمجاهد او غیور ملت په نمایندګي خپل بیعت اعلان کړ

له روزګان ولایت څخه په رارسیدلي خبرکې مسؤول مجاهدین وایې چې : تېره ورځ دروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ په شمول ددي ولایت په ټولو ولسوالیو کې دعلماء کرامو، مشایخو، روحانیونو ، مجاهدینو اوعامه مسلمانانوله لوري په پراخه کچه دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد(رحمه الله) لپاره ختمونه دعاګاني او له نوي امیر منصور صاحب حفظه الله سره دبیعت مراسم ترسره شول

نن سهار هم ددي ولایت دمرکز اوولسوالیو په مربوطاتوکې دقرآن کریم ختمونه اودعاګاني ترسره شوي او دهمدي ولایت لپاره داسلامي امارت والي محترم الحاج ملامحمدیوسف أمین صاحب دروزګان ولایت دغیورو قهرمانو اومجاهدپرور ملت ، مجاهدینو اوعلماء کرامو په نمایندګي نن سهار له نوي ټاکل شوي امیر ملااخترمحمد منصور حفظه الله سره دبیعت اعلان وکړ

د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله د وفات په مناسبت د مشهور جهادي اوعلمي شخصیت مولوي رفیع الله مؤذن د کورنۍ لخوا د تسلیت پیغام، او د امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور سره د بیعت تجدید

د مرحوم امیرالمؤمنین وفات د ټولې اسلامي نړۍ، اسلامي امارت، او افغان جهادي غیرتمند اولس لپاره ستره ضایعه ده.

د مرحوم مؤذن صاحب کورنۍ پدې ستر نه هېرېدونکي غم کې د امیرالمومنین لـه کـورنۍ، اسلامي امـارت او ټـول مسلمه امت سره ځان شریک بولي.

د مرحوم مولوي رفیع الله مؤذن کـورنۍ د امیرالمؤمنین په توګه د ملا اختر محمد منصور صاحب ټاکل یو پر ځای اسلامي او شرعي عمل بولي، او د زړه لـه کـومې خپل بیعت ورسره اعلانوي.

د امـارت لوړپـوړو غـړو، ټولـو مسـؤلینو او منسـوبینو او افغان غیرتي اولس ته مشوره ورکـوو چـې د امیرالمـؤمنین مـلا اختر محمد منصور سره د بیعت د تجدید بهیر ګړنـدی کـړي، ترڅـو د پېښـې د عظمـت څخـه پـه اسـتفادې سره د اسـلام دښمنانو ته د مسلمانانو په منځ کې د درځ پیدا کولو موقع پـه لاس ورنشي.

له الله څخـه غـواړو چـې امیر المـؤمنین مـلا اخترمحمـد منصور د مرحـوم امیرالمـؤمنین پـه څېـر د اسلامي حـدودو د ساتنې په خاطر د هر ډول فشار مقابله په پوره متانت او مېړانه سره وکړي.

والسلام،

د مرحوم مولوي رفیع الله مؤذن د کورنۍ لخوا.

زابل : مرکزقلات کـې هـم دبیعـت لپـاره پراخـې غونډې ترسره شوې

دزابل ولایت له مرکز قلات نه په رارسیدلي خبرکې ویل شوي چې پرون ورځ دمرکز قلات اړونـد د بـاوړیو اوملایانوپـه سیموکې دګڼ شمېر علماء کرامو، مجاهدینو ، جهادي مشرانو اوقـومي مخـورو اوعامـه مسـلمانانوله لـوري دعالیقـدر امیرالمـؤمنین (رحمـه الله) لپـاره دفـاتحې دمراسـمو پـه مهـال پراخې غونـډې تـرسره شـوې چـې پـه مهـال یې علماء کرامـو دجهادپه اهمیت اوفرضیت خبرې وکړې اوله نوي ټاکل شوي امیـر ملااخترمحمدمنصـور حفظـه الله سره یـې دعامـه مسـلمانانو اومجاهـدینو بیعـت تـرسره کـړ اوکلـک هـوډیې څرګندکړچې دجهاد فریضه به جاري ساتي

دبلوچســتان ایالــت دسرانانوپــه کمــپ کــې دفاتحې اوبیعت مراسم ترسره شول

دپاکستان هیواد د بلوچستان ایالت دسرانـانو کمـپ پـه سیمه کې په زرګونـو افغـان مهاجرینو، علـماء کرامـو، قـومي مشرانو، اوعامه مسلمانانو دسرپل ولایت دمهاجرینوله لـوري دیوې پراخې جوړه شوې غونډې پـه تـرځ کـې دامیرالمـؤمنین ملامحمدعمرمجاهدرحمه الله تعالی لپاره دقرآن کریم ختمونه، خیراتونه، دعاګاني اودفاتحې مراسم ترسره کړل

دیادونې ده چې پـرون هـم پـه یـاد کمـپ کـې دافغـان مهاجرینو له لوري دمرحوم امیرالمؤمنین لپاره دعاګاني اوپـه هغه پسې خیراتونه اوختمونه ترسره شول

نن اوپرون په یادکمپ کې له نوي ټاکل شوي امیـر مـلا اخترمحمدمنصور سره بیعت هم ترسره شو

فراه : خاکسفیددیوې پراخې غونـډې پـه تـرځ کـې لسـګونوزرو کسـانودفاتحې اوبیعـت مراسـم ترسره کړل

دفـراه ولایـت لـه خاکسـفید ولسـوالۍ نـه داسـلامي امـارت مطبوعـاتي نماینـده (المهـاجر) خبرراکـوي چـې : نن سهار دخاکسفید ولسوالۍ اړوند د دیوال سرخ پـه سیمه کې دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد(رحمـه الله) په یاد اودنوموړي دفاتحې په موخه یوه پراخـه غونـډه دائـره شوه

زموږ مطبوعـاتي نماینـده چـې دې غونـډې تـه ورغلـی ؤ وایې : دې غونډې ته چې دفـراه ولایـت مرکـز ، خاکسـفید ، پشـتکوه ، فـراه رود ، بـالابلوک ، انـاردرې ، پشـترود ، شـیبکو ولسوالیو اونورو سیمو څخه په لسګونه زره علماؤ ، مجاهدین ، قومي سپین ږیري اوپه دین مـین مسلمانان راغـلي ؤ علـماؤ مفصلي ویناوې وکړې

غونـډه دسـهار پـه ۸ بجـې پیـل شـوه چـې لمـړی د عالیقـدرامیرالمؤمنین رحمـه الله لپـاره دقـرآن کـریم خـتم ، فاتحـه اودعاګـاني تـرسره شـوې وروسـته علـماء کرامـو

دعالیقدرامیرالمؤمنین په ژوند او دهغه په جهادي کارنامو اودهغه په ارمانونو رڼاګاني واچولي اوهم ټولو مسلمانانوته د اسلامي امارت دنوي ټاکل شوي امیر محترم ملااختر محمد منصور صاحب حفظه الله سره دبیعت کولو په اړه خبري وکړي

په غونډه حاضرو په لسهاؤ زره کسانوچې علماء ، قومي مشران ، مجاهدین اوپه دین مین مسلمانان پکې موجود ؤ په یوه خوله له نوي ټاکل شوي امیر منصورصاحب سره بیعت اعلان وکړ اوکلک هوډ یې څرګندکړ چې دژوند ترپایه به دنوموړي په قیادت کې روان جهاد جاري ساتي اوپه دې لاره کې به له هیڅ راز قرباني دریغ نکړي

دپاکستان دکراچۍ په ښارکې افغان عالمانو اوعامه مسلمانانودفاتحې اونوي بیعت مراسم ترسره کړل

دګاونډي هیواد پاکستان له کراچۍ ښار نه په رارسیدلي خبرکې ویل شوي چې : نن سهار دکراچۍ ښارپه مربوطاتوکې ګڼ شمېر افغان علماؤ، دمدرسو استاذانو ،مخورو اوعامه مسلمانانو دیوې پراخې غونډې په ترڅ کې دامیر المؤمنین ملامحمدعمر مجاهد (رحمه الله) لپاره دقرآن کریم ختم اودفاتحې مراسم ترسره کړل اونوموړي ته یې دعاګاني وکړي.

وروسته په یوه اتفاق ټولو علماؤ ، مخورو ، دمدرسو استاذانو او عامه مسلمانانو له نوي ټاکل شوي امیر ملااخترمحمدمنصور صاحب حفظه الله سره بیعت اعلان کړ اودبیعت له مراسموروسته یې نوموړي ته داستحکام ، ثبات اوبریالیتوب دعاګاني وکړي.

دکونړ دپخواني والي مرحوم مولوي عبد الهادي اخنداده دکورنۍ او ملګرو لخوا د عالیقدر امیر المؤمنین دوفات له امله د فاتحې او دنوي زعیم سره دبیعت مراسم ترسره شول

دهجرت ددیار (پاکستان) خیبر پښتونخوا ایالت کواټ غلام بانډې دسافیانو په جامع مسجد کې دارواښاد عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله)روح ته دایصال ثواب پخاطر د داسلامي امارت دواکمنۍ پر مهال دکونړونو ولایت مرحوم والي مولوي عبد الهادي اخنداده دکورنۍ او ملګرو لخوا دجمعې دلمانځه وروسته دعظیم الشان قرآن ختم او دفاتحې مراسم ترسره شول، په دې مناسبت جوړه شوې غونډه کې دپروان اوکاپیساه دطالبانو د پخواني دلګۍ مشر او دکوه صافي په اوسني جهادي مسؤل مولوي ذبیح الله سربیره په لوی شمېر کې علماوو ، طالبانو ، مجاهدینو او عامو خلکو ګډون درلود، دغونډې په پیل کې مولوي شمس الدین منصور تمهیدي وینا وکړه او دمرحوم امیر المؤمنین په مجاهدانه کارنامو اوکردار یې لنډه رڼا واچوله او ور ته یې له درناوي ډکې پیروزینې وړاندې کړې وروسته دافغانستان اسلامي امارت دواکمنۍ په مهال دمالې وزارت معین او اوس ددعوت ارشاد کمیسون برحال غړي مولوي عارف الله عارف وینا وکړه نوموړي پخپله وینا کې مجاهدین اتحاد او یو والي ته را وبلل او دمشر- ملا صاحب جهادې کارنامې او سترياوې یې وستایلې ورپسې- دغونډې د برخوالو لخوا داسلامي امارت له نوي زعیم امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور سره بیعت اعلان شو او د نوموړي په رهبرۍ کې د هېواد دازادۍ او اسلامي نظام د نفاذ په لار کې دهرډول قربانیو ورکولو عهد وشو، غونډه دشیخ الحدیث مولانا صالح محمد صاحب لخوا په دعاء کولو پای ته ورسیده.

دهلمندولایت په مرکز او مربوطه ټولو ولسوالیو کې دفاتحې اونوي بیعت مراسم ترسره شول

دهلمند ولایت له مرکز نه مسؤول مجاهدین خبرراکوي چې : دنورو ولایاتو ترڅنګ نن اوپرون دهلمند ولایت دمرکز دنورو سیموترڅنګ دصافیانوپه سیمه کې اوټولو ولسوالیو کې دزرګونو علماء کرامو، قومي مشرانو ، مجاهدینو اوعامه مسلمانانوله لوري دپراخو غونډو په ترڅ کې دقرآن کریم دختم ترڅنګ امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد(رحمه الله) لپاره دعاګاني ترسره شوي

وروسته په ټولو سیموکې علماء کرامو ، مجاهدینو ،قومي مشرانو اوعامه مسلمانانو داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امیر محترم ملااخترمحمدمنصور صاحب حفظه الله سره بیعت وکړ اوپه یوه خوله یې وویل لکه څرنګه چې مو دامیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد (رحمه الله) په ژوندکې سپیڅلي اسلامي فریضي جهاد ته دوام ورکړی ؤ همداسي به یې دنوي امیر محترم منصور صاحب په مشري دوام ورکو

دغورولایت په مرکز او ټولو ولسوالیو کې دفاتحې او له نوي امیرسره دبیعت مراسم ترسره شول

نن سهار دغورولایت په مرکز اوټولو ولسوالیو کې دزرګونو علماء کرامو، مشائخو ، قومي مشرانو ، مجاهدینو اوعامه مسلمانانو له لوري په پراخه کچه دګران عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد(رحمه الله رحمة واسعة) لپاره دقرآن کریم ختم اودعاګاني وکړي

نومړو په دې غم کې دنړۍ له ټولو مسلمانانو اوخصوصا دامیرالمؤمنین رحمه الله کورنۍ اودهغه ټولو مخلصینو ملګرو سره ځان شریک وبلل او له نوي امیر ملااخترمحمد (منصور) حفظه الله سره یې په یوه خوله بیعت وکړ

نومړو داسلامي امارت درهبري شورى له غړو او ټولو مخلصینوڅخه مننه وکړه چې په حساس وخت کې یې خپل امیر دمسلمانانو لپاره انتخاب کړ

همداراز داسلامي امارت دغور ولایت والي محترم الحاج ملا عبدالخالق عابد شخصا او دغورولایت دغیورو مسلمانانو اومجاهد ملت په نمایندګي له نوي ټاکل شوي امیر محترم ملا اخترمحمد منصور حفظه الله سره په لاس بیعت وکړ

اوهمداراز دغورولایت داسلامي امارت دمرافعې محکمې رئیس مولوي عبدالکریم صمیم دتلفون په کرښه داسلامي امارت دغورولایت مطبوعاتي نماینده په توسط د مرحوم امیرالمؤمنین په غم کې له ټولو مشرانو اورهبري شورا اوټولو مسلمانانوسره ځان شریک وبلل او له نوي امیر محترم سره یې خپل بیعت په ډاګه کړ

دبغلان اوغزني جهادي مسؤولینودنورستان ولایت مرستیال اودپکتیاعمومي مسؤول دخپلو مجاهدینوپه نمایندګۍ له نوي امیرسره بیعت وکړ

دبغلان ولایت جهادي مسؤول محترم ملامحمد اسماعیل، دغزني ولایت جهادي مسؤول محترم مولوي محمد قاسم ، دنورستان ولایت مرستیال محترم مولوي منیب الله او دپکتیا ولایت عمومي مسؤول مولوي عبدالکریم داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امیرمحترم ملااخترمحمدمنصور (حفظه الله) سره دخپلو خپلو ولایتونو دمجاهدینوپه نمایندګۍ بیعت وکړ

نومړو په خپلو پیغامونوکې ویلي لکه څرنګه کې په دې ولایتونوکې داسلامي امارت مجاهدینو دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد (رحمه الله) سره بیعت کړی ؤ هماغه شان یې له محترم ملااخترمحمدمنصور صاحب سره هم بیعت دی اووایې چې موږ په منصورصاحب پوره اعتمادلرو ددوی په قیادت کې هرډول خدمت ته چمتویو او خپل روان جهادته به ادامه ورکوو

❊ ❊ ❊

پرون ورځ د۲۰۱۵ کال داګسټ په لومړي نیټه ددهجرت په دیارګردجنګل پوستي چاغي سرانانو ځنګل سرخاب مسلم باغ لورلايي زيړ کاريز په کیمپونو کې دکمپنو دعلماواو مشرانولخواپراخي غونډي جوړي سوي په غونډوکي دکمپنو علماء کرامو مشایخو دمدرسو استادانو اوعامو مسلمانانو ګډون کړي وو دکمپنو په دي لویو غونډوکي دمرحوم عالیقدر امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد پاک روح ته دوعاوي وسوي اودقرآن عظیم شان ختمونه وسول:

هم دارازدامارت له نوي آمیر محترم ملااختر محمد منصور صاحب سره دغونډو دګډونوالو لخوا په سمع او اطاعت بیعت وسو اوټولو وعدي وکړي چي دژوند تر اخیري سلکي به

دمرحوم امیر المؤمنین لاره تعقیب کړو اودده مبارک په ژونددده له مرستیال او اوسني امیر څخه به اطاعت کو و

دفاریاب والي قاري صلاح الدين داسلامي امارت له نوي زعيم سره دخپلو مجاهدينو په نمايندگي بيعت اعلان کړ

د فارياب والي قاري صاحب صلاح الدين په يو مخابروي پيغام کي وايې چي : زه د فارياب ولايت د مجاهدينو په نمايندگي داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امير محترم منصور صاحب سره بيعت اعلانوم، قاري صاحب وايې چي : دفارياب ولايت ټول مجاهدين(ازبک،تاجک، پښتون اوترکمن) لکه څنگه چي يې داميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد سره بيعت کړی ؤ هماغه شان يې له نوي امير ملا اختر محمد منصور صاحب سره هم بيعت دی، داسلامي امارت زعيم (منصور صاحب) موږ له نږدې پيژنو، ددوی په قيادت کي هر ډول خدمت ته چمتو يو او خپل روان جهاد ته به ادامه ورکوو

د کونړ ولايت پخوانی جهادي مسئول او مرکزي نظامي کمېسيون برحال غړی شيخ القرآن عبدالرحيم ابي الشرک تعزيت او بيعت

بسم الله الرحمن الرحيم

د عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد د وفات په مناسبت د هغه درنې کورنۍ، ټولو مجاهدينو او مسلمانانو ته د تسليت درانه کلمات وړاندې کوم : أحسن الله عزاءنا، و أعظم اجرنا، وغفر لميتنا. ان لله ما أخذ وما آعطی، وکل شيء عنه بأجل مسمی، فلنصبر ولنحتسب. انا لله وانا اليه راجعون.

د الله جل جلاله دربار ته لاسونه لپه کوم چې زموږ د مرحوم امير ټول جهود او قربانۍ قبولې کړي. موږ که څه هم د اميرالمؤمنين په وفات ډېر دردمن يو، خو د الله جل جلاله قضاء ده او زموږ پرې رضاء.

بالمناسبة د نوي أميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور حفظه الله ونصره و أعانه علی تکاليف الامارة سره علی السمع والطاعة د بيعت اعلان کوم. زه او زما ټول ملگري به په شرعي چوکاټ کې د اميرالمؤمنين د هر فرمان اطاعت کوو. پای کې اميرالمؤمنين او نائبينو شيخ الحديث هبة الله اخونزاده او ملا سراج الدين حقاني ته د تمامِ موفقيت دعاء کوم او ټول مسلمانان يې بيعت ته رابولم.

والسلام

عبدالرحيم ابي الشرک

د کونړ ولايت پخوانی جهادي مسئول او مرکزي نظامي کمېسيون برحال غړی

دروزگان ولايت په مرکز اوټولو ولسواليوکې فاتحه اوله نوي اميرسره بيعت وشو

دافغانستان اسلامي امارت دروزگان ولايت د مرکز ترينکوټ اودهمدې ولايت اړوند په ټولو ولسواليو کې د زرگونو مجاهدينو، علماء کرامو ، قومي مشرانو اوعامه مسلمانانوله لوري داميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد(رحمه الله تعالی) ورروح ته دقرآن کريم ختمونه اودعاگاني وشوي او له نوي ټاکل شوي امير ملااخترمحمدمنصور صاحب سره يې بيعت وکړ

نوموړو ويل : څرنگه چې موږ له اميرالمؤمنين ملامحمدعمرمجاهد(رحمه الله تعالی) سره بيعت کړی ؤ هماغه شان مو له نوي اميرسره بيعت دی اودنوموړي په قيادت کې به دجهاد فريضي ته دوام ورکوو

دمولوي صاحب خالص دنږدې ملگرو له لوري داميرالمؤمنين د وفات دتعزيت او په نوي امير باندي داعتماد اظهار ليک

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

د عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد د خواشينوونکې مړينې له کبله تاسو ټولو مجاهدينو او ټول امت ته د تسليت مراتب تقديموو. الله جل جلاله دې د هغه مساعي

په خپل دربار کې قبول کړي. د هغه د جهاد او قربانۍ ثمره دې الله جل جلاله نه خرابوي.

د هغه ځای ناستي اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور باندې د اعتماد اظهار کوو. دعاء کوو، چې الله جل جلاله يې په خپلو چارو کې موفق او کامياب کړي. همدا ډول د اميرالمؤمنين دواړو نائبانو هر يو شيخ الحديث هبة الله اخونزاده او ملاسراج الدين حقاني ته د ښه خدمت او جهاد د دوام دعاء کوو.

دې ټولو شخصيتونو پخوا هم ښه جهاد کړی او د اسلامي امارت سر کرده او معتمد خلک وو. دا چې د اسلامي امارت اهل الحل والعقد دوی باندې د امارت د مشرۍ لپاره اعتماد کړی، موږ هم په خپل وار او اسلامي مسئوليت له کبله دا فيصله تاييدوو. الله جل جلاله مو موفق او کامياب لره!

قاري محمود شاه، قاري الهام الدين او مولوي نجم الدين

د مولوي صاحب خالص له نږدې ملگرو څخه

په کندهارښارکې هم دمرحوم اميرالمؤمنين لپاره دعاګانې اوله نوي اميرملاتړ وشو

دکندهار ولايت له مرکزکندهارښار نه په رارسيدلي خبرکې مسؤول مجاهدين وايې چې: نن سهار له لمانځه وروسته دکندهارښار په جامع جوماتونو کې اوهمداراز ددې ولايت په ټولو ولسواليو کې داسلامي امارت درهبر اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد (رحمه الله) لپاره دعاګانې اوختمونه ترسره شول

همداراز ددې ولايت ټولو خلکو په يوه خوله دنوې ټاکل شوي امير ملااخترمحمدمنصور اودهغه له معاونينوسره خپل بيعت اعلان کړ او کلک هوډ يې څرګندکړ چې تر وسه وسه به داسلامي امارت همکارۍ ته دوام ورکوي

دسترليکوال اومورخ شهيد ملامحمدحسين مستسعد دکورنۍاو ملګرو دتعزيت اوبيعت پيغام

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم امابعد قال الله تبارک وتعالی فی القران الکريم بسم الله الرحمن الرحيم کل نفس ذايقته الموت

زه ډاکټر احرار د شهيد ملا محمد حسين مستسعد او شهيد ډاکټر محمد سيد احرار د ملګرو او کورنۍ علما کرامو او د امارت په مختلفو شعبو کی مصروف ملګری تر هرڅه وړاندی د عاليقدر اميرالمومينين ملا محمد عمر مجاهد رحمت الله ورور ملا منان اخند محترم زموږ د ټولو د ذړه سر مولوی محمد يعقوب صاحب او ددی کورنۍ د امير المومينين ځای ناستی محترم منصور صاحب او د امارت ټولو دردمنو مشرانو او د سنګر طالبانو ته د زړه له کومی د تسليت مراتب وړاندی کوم اوله لوی الله نه اميرالمومينين ته په جنت کی داعلی مقام غوښتونکی يو الله تعالی دی د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يو ځای کړی د د کورنۍ او ملګرو ته دالله تعالی په دربار د صبر جميل غوښتونکی يو او د امارت نوی زعيم ملا اختر محمد منصور صاحب سره خپل بيعت په پوره اخلاص وړانديکو او دهر راز قربانی او خدمت ژمنه کوو او دالله تعالی له لوری د نصرت دعاورته کوو د امارت له ټولو مسولينو څخه طمع لرو چی د اسلامی امارت او اميرالمومينين ټول وياړونو او د شهدا و د قربانيو ته درانوی ولری او دولری او دهر راز اختلافاتو مخه ونيسی او د عزم روان بريالی بهير په چټکی سره پرمخ بوزی او د نظامی ګړنديو عملياتو تر څنګ په سياسی ډګر کی هم خپل استقلال خوندی وساتی او د اميرالمومينين د کورنۍ او ملګرو جايز غوښتنی په نظر کی ونيول شی او د اسلامي امارت هغه بی لاری شوی افراد چی د بل په لمسون د اسلامی امارت په صفوفو کی نفاق او نفرت ته لمن وهی په کلکه يی مخه ونيول شی په پای کی يو ځل بيا په يووالی او سپيڅلتيا ټينګارکوو او داچی زه د هيواد په داسی سيمه کی وم چی تلفون او انټرنيټ ته لاس رسی نه و په دی ستر ناورين کی د ناوخته برخه اخيستلو معذرت غواړم

د اسلامی امارت د بریا او ثالث عمر د ویاړونو د خوندی توب په هیله

د شهیدمستسعد رحمت الله علیه کورنۍ ' ملګرو په نمایندګی ډاکټر محمد طاهر احرار د اسلامی امارت د نظامی کمیسون د سرحداتو مسؤل

د ننګرهار دشهید انجنېرمحمود کورنۍ تعزیت او بیعت

د اسلامي امت د باثباته او شجاع رهبر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات دردوونکی خبر مو واورېد. الله جل جلاله دې د اسلام او مسلمانانو لپاره ټول زیار ورته په خپل دربار کې قبول کړي. الله جل جلاله دې پرې رحم وکړي، د صدیقینو او شهداءِ صالحینو مرتبه دې ورنصیب کړي. امین

پورته غمونکي خبر سره سره مو د نوي امیرالمؤمنین او نائبانو د ټاکل کېدو خوشوونکی خبر هم واورېد. موږ هم په ډېرې خوشالۍ په خپل وار امیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصور سره د بیعت اعلان کوو :

نبایع امیرالمؤمنین ملااخترمحمدمنصور حفظه الله ونصره علی السمع والطاعة في المنشط والمکره وعلی اثرة علینا وعلی ان لا ننازع الامره اهله ما لم نری کفرا بواحا عندنا فیه من الله برهان.

الله جل جلاله ته په زارۍ دعاء کوو، چې امیرالمؤمنین سره له نائبینو په خپلو کارونو او مسئولیتونو کې بریالی کړي.

والسلام

دکمونزم ضدجهاد په کلونکې دمولوي صاحب خالص داسلامي حزب دننګرهار ولایتي مسول او داسلامي امارت ستر حامي او ملا تړي شهید انجنیر محمود دکورنۍ او ملګرو په استازیتوب حاجي انعام الله

دننګرهارمشهوری روحانی اوجهادی کورنی دخفلو زرګونو عقیدتمندانو په استازیتوب دتعزیت اوبیعت فیغامونه رالیږلی

دمرحوم عالیقدرامیرالمومنین ملامحمدعمرمجاهد دوفات له امله دننګرهار دمشهور روحانی اوجهادی شخصیت مرحوم الشیخ عبدالقیوم فاچاصاحب محترموزامنو هریو مولوی سیداحمد فاچاصاحب مولوی سید احمد فاچاصاحب اومولوی سیدفیض احد باچا صاحب دخفلی متدینی کورنی اوهم زرګونو.عقیدتمندانو ا.ومریدانو له لوری دعالیقد مرحوم کورنی د دتعزیت اوخواشینی فیغام رااستولی دمرحوم.عالیقدررحلت ستره ضایعه بللی دغه راز دوی فه خفل فیغام کی داسلامی امارت له نوی.زعیم اومشر محترم.ملااخترمحمدمنصور دانتخاب له کبله دبیعت اوحمایت ذکرکړی ملااخترمحمدمنصور غوره اودلسوزه امیر یادکړی له الله تعالی نه دمذیدی کامیابی اوسرفرازی هیله کړی

دملا برادر اخند داعتمادي ملګري قوماندان حاجي ملا عبدالظاهر اخند دتعزيت او بيعت اعلان

دملا برادر اخند اعتمادي ملګری قوماندان ملا عبدالظاهر اخندچي ګڼ شمیر مجاهدین او جهادي دلګۍ لري دامیر المؤمنین رحمه الله دوفات له کبله ټول مسلمه امت ،افغان ولس او دمرحوم کورنۍ ته دتعزیت مراتب وړاندي کوي،نوموړي خوښي وښوده چي دمرحوم امیر المؤمنین پرځای هغه څوک داهل حل والعقد شوری له لوري دامارت زعامت ته وټاکل شوچي مشر ملا صاحب په ژوند کي خپل نائب ټاکلی ؤ، نوموږ دملااختر ممحمد منصور صاحب سره بیعت اعلانوو او دنوموړي په امارت کي به دپخوا په شان خپل جهاد ته ادامه ورکوو

، هرات ، فراه ، فاریاب او روزګان کې په جهادي فعالیت بوخت دي دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله دوفات له امله دنوموړي درنې کورنۍ اوټولو مجاهدینوته دتسلیت اوتعزیت مراتب وړاندي کوي

دکندهار ولایت دپخواني مسئول ملامحمدزي اخند دتعزیت اوبیعت پیغام

موږ دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله رحلت داسلامي امارت اوپه خاصه توگه دمرحوم امیرالمؤمنین درنې کورنۍ اوداسلامي امارت مجاهدینو اودافغانستان مؤمن اولس لپاره یوه لویه اونه جبرانیدونکي ضائعه بولو

دامیرالمؤمنین رحمه الله درحلت له کبله دمرحوم کورنۍ، داسلامي امارت مشرتابه ، مجاهدینو او مؤمن ولس ته تسلیت وړاندي کوم

او داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امیر محترم ملا اخترمحمد منصور حفظه الله سره دخپل ځان او ټولو ملگرو په استازیتوب بیعت کوم

ټولو مجاهدینو اوافغان مؤمن ولس ته ډاډ ورکوو چې داسلام په چوکاټ کې به په هرډول سختو حالاتوکې دپخواپه شان داسلامي امارت دنوي زعامت هر امر ته لبیک وایو.

والسلام: ملا محمد زی

دنظامي کمیسیون دغړي الحاج ملامحمدنعیم اخند اوملگرو دتعزیت اوبیعت پیغام

داسلامي امارت دهلمند ولایت پخوانی مسؤول او اوس داسلامي امارت دحلقوي کمیسیوغړی الحاج ملا محمد نعیم اخند دخپلو ټولو دلگۍ مشرانو اوکشرانوملگرو په نمایندگي دامیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهدرحمه الله درحلت په اړه تسلیت وړاندي کوم او دنوموړي رحلت داسلامي امت بیا خصوصا دمرحوم درنې کورنۍ، دافغانستان اسلامي امارت اومجاهد ولس ته یوه لویه اونه جبرانیدونکي ضائعه بولو.

موږ داسلامي امارت لپاره دنوي ټاکل شوي امیر محترم ملااخترمحمد منصور حفظه الله سره دخپلو ټولو ملگرو په استازیتوب بیعت اعلانوم او دپخوا په شان په هرډول سختو حالاتوکې یې هر امرته دلبیک ویلو ډاډ ورکوم

مشایخ ، علماء ، مسؤلین و منسوبین امارتي و نماینده های سایر اقوام ولایات شمال دریک جلسه بزرگ بیعت خویش رابازعیم امارت اسلامي افغانستان اعلام نمودند

طبق گزارش رسیده ، جلسه ی که به همین مقصد تدویریافته بود ، مشایخ ، علماء جید ، مسؤلین نامور امارت اسلامي ونمایندهای اقوام مختلف ولایت شمال هر یک بدخشان ، تخار، قندوز، بغلان ، بلخ، سمنگان ، جوزجان ، سرپل، فاریاب ، بامیان و پنجشیر دران شرکت ورزیده بودند

مجلس با تلاوت چند ازایات کلام الله مجید اغاز گردید، سپس عالمان متبحر و بزگوار صفحات شمال ،هریک شیخ القران والحدیث مولوي محمدشریف حقاني ، شیخ القران والحدیث قاري حبیب الله صاحب و محترم مخدوم عبدالسلام سعادت سابق وزیرکار وامور اجتماعي امارت اسلامي بالنوبه سخنان ازرشمند ، عالمانه خویش را بیان فرمودند ، وپیرامون رشادت ، کارنامه ها و قیادت مدبرانه وشجاعانه ی عالیقدر امیرالمومنین مرحوم ملامحمد عمر مجاهد توضیحات دلچسپ وارزنده ایراد فرمودند، ایشان رحلت عالیقدر مرحوم را ضایعهای بزرگ وجبران ناپذیر دانستند ، ازبارگاه الله متعال برای شان جنت الفردوس استدعا فرمودند

سپس متن بیعت با زعیم جدید امارت اسلامي افغانستان محترم ملا اختر محمد منصور توسط محترم مخدوم مولوي عبدالسلام سعادت به نماینده گی از ۱۰ ولایت سمت شمال و اقوام مختلف من جمله ، تاجک ، ازبک ، ترکمن ومغل وغیره قرائت نمودند دراخیر شرکا مجلس به یک وقت دست های شان بخاطر اظهار بیعت بالا کردند ، محفل بادعایه شیخ القران والحدیث قاري حبیب الله پایان رسید

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله نحمده و نستعینه و نصلی علی رسوله الکریم

اما بعد: شکی نیست که وفات و رحلت مینار عزم وجبل استقامت ، سالار کاروان مجاهدین ، ابر مرد تاریخ اسلام و قهرمان قرن بیست و یکم میلادی عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ضایعه ء جبران نا پذیر و یک خلائی بزرگ درعالم اسلام پنداشته میشود چونکه ایشان خطه ئ باستانی افغان زمین را مرکز تحرکات جهادی و مقاومت علیه استعمارگران جهان قرار داده بودند به این نسبت مراتب تسلیت و تعزیت خویش را به قاطبه امت مسلمه ، مسلمانان دنیا ، سنگرداران اسلام ، مجاهدین امارت اسلامی و علی الخصوص به خانواده شریف عالیقدر امیر المؤمنین رحمه الله و مقام رهبری امارت اسلامی افغانستان تقدیم مینماییم .

و در این مقطع حساس که سیلاب انواع فتن متوجه نتیجه فداکاری های مجاهدین امارت اسلامی افغانستان میباشد وحدت و یکپارچگی صفوف مجاهدین یک ضرورت مبرم پنداشته میشود لهذا منجانب

١ شیخ القرآن و الحدیث قاری صاحب حبیب الله سمنگانی .

٢ شیخ القرآن و الحدیث محمد شریف حقانی صاحب فعلا رئیس تمیز امارت اسلامی افغانستان

٣ شیخ القرآن و الحدیث عبدالباری سعیدی .

٤ شیخ القرآن و الحدیث مخدوم صاحب عبدالحلیم حنیف .

٥ شیخ القرآن و الحدیث عبدالشکور صاحب کامیاب.

٦ الحاج مولوی مخدوم عبدالسلام سعادت سابق وزیر کار و امور اجتماعی و فعلا عضو مرکزی کمیسون دعوت وارشاد

٧ الحاج مولوی شمس الدین معاون کمیسون دعوت وارشاد

٨ مولوی محمد محسن هاشمی والی سابق تخار و فعلا مسؤل حلقه مشرقی کمیسون نظامی

٩ الحاج ملا عبدالسلام سعادت سابق قوماندان فرقه ٥ کابل و فعلا عضو کمیسون نظامی.

١٠ مولوی سید قاسم آغا والی اسبق تخار و فعلا عضو کمیسون دعوت و ارشاد

١١ مخدوم صاحب مولوی قاری فصیح الدین والی ولایت بدخشان.

١٢ مولوی عبدالغنی فایق سابق قوماندان فرقه ٤ زرهدار و فعلا معاون ولایت بدخشان.

١٣ مولوی قدرت الله والی پنجشیر.

١٤ مولوی برهان الدین قانع معاون ولایت بامیان .

١٥ مولوی شبیر احمد عثمانی بدخشانی سابق والی بدخشان و فعلا عضو کمیسون تلفات ملکی .

١٦ مولوی عبدالحی سابق والی پنجشیر.

١٧ مخدوم صاحب مولوی انعام الله حبیبی رئیس کمیسون نظامی ولایت سمنگان.

١٨ مولوی صاحب اسلام الدین عثمانی سابق معاون ولایت بامیان .

١٩ مولوی عبدالحکیم حکمت معاون مجله مورچل.

٢٠ مولوي سید عارف سابق والي فاریاب ٢١ مولوي عبدالسلام حقاني مهتمم جامعه عبدالله ابن مسعود ٢٢ مولوي سید ذکرالله اغا مسؤل اسرای جوزجان ٢٣ مولوي محمدامین قومندان جهادي ولایت سمنگان ٢٤ مولوي هدایت الله سابق معاون والي جوزجان ٢٥ مولوي عبدالحی قومندان جهادي ولایت بغلان ٢٦ مولوي احمدجان سکتر ریس الوزرا امارت اسلامي افغانستان سابق ٢٧ مولوي عظیم جان سابق معاون لوا ٩ زرهدار ٢٨ مولوي عبدالواحد عالم جید ولایت جوزجان ٢٩ شیخ الحدیث مولوي عبدالکبیر عضوه مرکزي تعلیم وتربیه ٣٠ الحاج قومندان کاظم قومندان جهادي ٣٠ مولوي عبدالغیاث قانع سابق معین وزارت زراعت ، ٣١ مولوي حفیظ الله سابق امر جنایی ولایت جوزجان ٣٢ مولوي حمیدالله نماینده قوم ترکمن ، ٣٣ مولوي عین الدین سابق ریس اداري موادمخدره ٣٤ مولوي شیرمحمد مهتمم مدرسه فاروقیه ٣٥ مولوي عبدالقادر عالم جید دهنه غوري ٣٦ قاري خیرالدین دهنه غوري ٣٧ شیخ الحدیث مولوي علم جان خدرخیل ٣٨ مولوي عبدالبصیر سابق ریس

کمیسون نظامي بامیان ۳۹ قاري عبدالمالک مهتمم دارلحفاظ معاذ بن جبل ۴۰ ، قاري عتیق الله استاد جامعه عبدالله ابن مسعود ۴۱ مولوي صاحب لعل جان قومندان برجسته ولایت بغلان ۴۲ مولوي محمد اصف نماینده دعوت ارشاد ولایت بدخشان ۴۳ مولوي محمدعالم سابق معاون ولایت تخار ۴۳ مولوی نور الدین سابق والي تخار ۴۴ مولوي محمدیوسف مسؤل کمیسون ولایت بغلان ۴۵ مولوي فضل الدین فیاض ولسوال دره سوف ۴۵ مولوي فیروزالدین منیب ، نماینده ولایت سمنگان ۴۶ مولوي ذاکرالله عالم جید سمنگان ۴۷ قومندان شرین سابق والي پروان ۴۸ مولوي عبدالحنان عضوه کمیسون ولایت بغلان ۴۹ مولوی عبدالکریم عالم جید بغلان ، ۵۰ شیخ الحدیث مولوي عبدالغفار هدفمند سابق ریس کمیسون بدخشان ۵۲ ملا عبدالحنان معاون والي، بدخشان ۵۳ملا عبدالمجید دلگی مشر. ۵۴ قاري عنایت الله مسؤل فرهنگي ولایت پنجشیر .

مشایخ ، علماء ، استادان ، مسؤلین ، منسوبین و سایر اقوام مختلف ولایات شمال افغان زمین هر یک بدخشان ، تخار، قندوز، بغلان ، بلخ، سمنگان ، جوزجان ، سرپل ، فاریاب ، بامیان و پنجشیر .

با محترم ملا اختر محمد منصور حفظه الله زعیم منتخب به حیث جانشین امیر المؤمنین رحمه الله تعین گردیده اند بیعت خویش را اعلام میداریم و جهت استحکام بیشتر پایه های امور جهادی و تنظیم سایر امورات مهم کشور از هیچ گونه قربانی و فدا کاری دریغ نمی ورزیم و از خداوند متعال مسئلت داریم ایشان را در مسیر امیر المؤمنین رح ثابت قدم داشته و جهت تحقق عدالت اجتماعی ، تحکیم نظام اسلامی و بر آوردن آرمان شهداء سه ده جهاد افغانستان توفیق و نصرت خویش را شامل حال شان بگرداند والسلام .

دکندهار ولایت دابتدائیه محکمې دمسؤولینو دتعزیت اوبیعت پیغام

داسلامي امارت د کندهارولایت دابتدائیه محکمې مسؤولین هریو شیخ الحدیث والتفسیرمولوي عبدالسلام صاحب (قاضي) شیخ الحدیث والتفسیر مولوي عبدالظاهرصاحب (مفتي) اوجید عالم مولوي عزیزالله صاحب (مفتي) مولوي احسان الله صاحب (محرر) موږ ته داسلامي امت دباثباته اوشجاع رهبر امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله دوفات د دردونکي خبر په رارسیدلو سره دنوموړي درنې کورنۍ اوټولو مجاهدینو ته دتسلیت مراتب وړاندي کوو الله تعالی دي په امیرالمؤمنین باندي خپل رحم وکړي اوکورنۍ اومجاهدینوته دي صبرجمیل ورکړي

همداراز موږ داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امیر محترم ملااخترمحمدمنصور صاحب حفظه الله سره دخپل بیعت اعلان کوو او طاعت يې پرځان لازم بولو

دکندوز ولایت دجهادي شخصیت الحاج ارباب هاشم مجاهد دمحاذ دتسلیت اوبیعت پیغام

دکندوزولایت دجهادي شخصیت شهید الحاج ارباب هاشم مجاهد دمحاذ مجاهدینو او کورنۍ په استازیتوب دکندوز ولایت پخوانی مسؤول مولوي محمدقاسم دامیر المؤمنین ملامحمدعمر مجاهد (رحمه الله) درحلت په اړه دنوموړي درنې کورنۍ ، دمشرتابه محترم مقام ، درهبري شوری محترمو غړیو او ټول مجاهد ملت ته دتسلیت مراتب وړاندي کوم الله تعالي دي نوموړي ته جنت الفردوس ، کورنۍ اومجاهدینوته دي يې صبرجمیل ورنصیب کړي

زه دخپلو ټولو مجاهدینو ، مربوطینو او کورنۍ په استازیتوب داسلامي امارت لپاره دنوي ټاکل شوي زعیم ملااخترمحمدمنصور حفظه الله سره بیعت اعلانوم او هرامرته يې دلبیک ویلو ډاډ ورکوم

والسلام : مولوي محمدقاسم دکندوز ولایت پخوانی مسؤول او دشهیدالحاج ارباب هاشم مشر زوی

دملامحمدزي اخند دتعزیت اوبیعت پیغام

موږ دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله رحلت داسلامي امارت اوپه خاصه توګه دمرحوم امیرالمؤمنین درنې کورنۍ اوداسلامي امارت

مجاهدينو اودافغانستان مؤمن اولس لپاره يوه لويه اونه جبرانيدونکي ضائعه بولو

داميرالمؤمنين رحمه الله درحلت له کبله دمرحوم کورنۍ ، داسلامي امارت مشرتابه ، مجاهدينو او مؤمن ولس ته تسليت وړاندي کوم

او داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امير محترم ملا اخترمحمدمنصور حفظه الله سره دخپل ځان او ټولو ملګرو په استازيتوب بيعت کوم

ټولو مجاهدينو اوافغان مؤمن ولس ته ډاډ ورکوو چې داسلام په چوکاټ کې به په هرډول سختو حالاتوکې دپخواپه شان داسلامي امارت دنوي زعامت هر امر ته لبيک وايو

والسلام : ملا محمد زی

دحلقوي کميسيون دغړي الحاج ملامحمدنعيم اخند اوملګرو دتعزيت اوبيعت پيغام

داسلامي امارت دهلمند ولايت پخواني مسؤول او اوس داسلامي امارت دحلقوي کميسيوغړی الحاج ملا محمد نعيم اخند دخپلو ټولو دلګۍ مشرانو اوکشرانوملګرو په نمايندګي داميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهدرحمه الله درحلت په اړه تسليت وړاندي کوم او دنوموړي رحلت داسلامي امت بيا خصوصا دمرحوم درنې کورنۍ ، دافغانستان اسلامي امارت اومجاهد ولس ته يوه لويه اونه جبرانيدونکي ضائعه بولو

موږ داسلامي امارت لپاره دنوي ټاکل شوي امير محترم ملااخترمحمد منصور حفظه الله سره دخپلو ټولو ملګرو په استازيتوب بيعت اعلانوم او دپخوا په شان په هرډول سختو حالاتوکې يې هر امرته دلبيک ويلو ډاډ ورکوم.

هلمند: دديشو ولسوالۍ دجهادي مسؤول اوملګرو دتعزيت اوبيعت پيغام

دهلمند ولايت دديشو ولسوالۍ دنامتو قومندان شهيد الحاج مولوي عبدالظاهر(حاجي احمد) کورنۍ او هغه ورور اودهمدي ولسوالۍ جهادي مسؤول ملاشاولي (ضرار) دخپلو ټولو دلګۍ مشرانو او ملګرو په نمايندګي دعاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمرمجاهد (رحمه الله) دوفات له امله دنوموړي درنې کورنۍ ، مجاهدينو اوعامه مسلمانانوته دتسليت مراتب وړاندي کوم

ورپسې داسلامي امارت داهل الحل والعقد له لوري دنوي ټاکل شوي امير محترم ملا اخترمحمدمنصور حفظه الله سره دخپلو ټولو دلګۍ مشرانو اوکشرانو مجاهدينو اومتعلقينوپه نمايندګۍ بيعت اعلانوم اوپه هرډول شرائطوکې به يې دټولو شرعي اوامرو تنفيذ ته غاړه ايږدو

دبلوچستان ايالت دمسلم باغ دافغان مهاجرو په کمپ کي ديوې لويې جلسې ګډونوالو دمنصور صاحب حفظه الله سره بيعت اعلان کړ

دبلوچستان ايالت دمسلم باغ دافغان مهاجرو او دزير کاريز په کمپ کي يوه لويه جلسه وشوه ،په ياده شوې غونډه کي په زرهاوو کسانو دمرحوم اميرالمومنين رحمه الله روح ته دوعاوي وکړې،کورنۍ او ټول مسله امت ته يې د مرحوم دوفات له کبله تعزيت وړاندي کړ، دغونډې برخه والو په يوه اواز سره داهل حل والعقد شورى له لوري داسلامي امارت لپاره د نوي غوره شوي زعيم ملا اخترمحمدمنصورحفظه الله سره يې بيعت اعلان کړ،او ژمنه يې وکړه چې دمنصور صاحب په قيادت کي به هم داسلامي امارت سره دپخوا په شان خپله ځاني او مالي همکاري جاري وساتي .

دشهيد مولوی مير احمدګل هاشمی صاحب دکورنۍ او ملګرو لخوا دتسليت اوبيعت پيغام.

مونږ داميرالمؤمنين ملا محمد عمرمجاهد(رح ه) وفات داسلامي امت اوپه خاصه توګه دمرحوم کورنۍ اوداسلامي امارت د سرښندونکو مجاهدينولپاره يوه لويه اونه جيبرانيدونکی ضائعه بولو.

د محترم اميرالمؤمنين رحمه الله دوفات له کبله دده درنې کورنۍ، داسلامي امارت مشرتابه اومجاهدينوته تسليت وړاندي کوو.اوداسلامي امارت له زعيم اميرالمؤمنين محترم ملااخترمحمدمنصور صاحب سره خپل بيعت اعلانووا ود

اسلامي امارت مجاهدینوته ډاډ ورکوو چې داسلامی امارت تر قیادت لاندی به په هرډول حالاتوکی دیخوا په شان د قربانیو تر څنګ د اسلامي امارت دنوي زعامت هرامرته په پوره اطاعت سره لبیک وایو.

دشهید مولوی میراحمدګل هاشمی صاحب کورنۍ او ملګری!

دهرات مرستیال والي دیوې پراخې غونډې په ترځ کې دتعزیت اوبیعت مراسم ترسره کړل

د افغانستان اسلامي امارت دهرات ولایت د مرستال والي ملا عبدالمنان محمود دبادغیس ولایت دمرغاب ولسوالۍ په مربوطاتوکې یوې پراخې غونډې ته چې په سلګونو علماء کرام ، مجاهدین ، قومي مشران اوعامه مسلمانان پکې راغونډشوي ؤ دقرآن کریم ختم او دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله ته دعاګاني وکړي دنوموړي کورنۍ اومجاهدینوته یې تسلیت وړاندي کړ

وروسته نوموړي دولایت دټولو مجاهدینو ، علماؤ قومي مشرانو په نمایندګۍ داسلامي امارت داهل الحل والعقد شورى له لوري ټاکل شوي امیر محترم ملااخترمحمدمنصور حفظه الله سره په سختي اواساني کې على السمع والطاعة دبیعت اعلان وکړ او نوموړي ته یې دښه قیادت لپاره دعاوي وکړي

دفراه ولایت جهادي مسؤولینو دیوې پراخې غونډې په ترځ کې دتعزیت اوبیعت مراسم ترسره کړل

دفراه ولایت جهادي مسؤولینو هریو الحاج ملا فاضل صدیق الامین ، دبکوا ولسوالۍ جهادي مسؤول حاجي ملا عبدالباري حمید ، دقراه رود ولسوالۍ جهادي مسؤول حاجي ملاعبدالرزاق راشد، دګلستان ولسوالۍ جهادي مسؤول حاجي فرهاد ، دبالابلوک ولسوالۍ جهادي مسؤول ایوبي ، دبکوا ولسوالۍ دملکي اداري مسؤول حاجي عباس او دنیمروزو ولایت ددلارام ولسوالۍ جهادي مسؤول دشهیدملاعبدالرحمن نیکه ورور حاجي عبد الغفور دیوې پراخي غونډي په ترځ کې چې پکې سلګونو ، علماء کرامو، مجاهدینو ، قومي مخورو اوعامه مسلمانانو برخه اخیستي وه دقرآن کریم دختم ترڅنګ دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله لپاره دعاګاني ترسره کړي او دنوموړي درنې کورنۍ اومجاهدینوته یې دتسلیت مراتب وړاندي کړل.

وروسته ټولو په خپل نوبت دخپلي خپلي سیمي دمجاهدینو ، علماء کرامو قومي مشرانو اوعامه مسلمانانو له لوري داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي امیر محترم ملا اخترمحمدمنصور حفظه الله سره دبیعت اعلان وکړ

پیام تسلیت وبیعت ریاست تمیزوریاست های مرافعه وابتدابه امارت اسلامي افغانستان ریاست تمیز پیام تسلیت باخانواده امیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد (رحمه الله) وبیعت باامیر جدیدامارت اسلامي افغانستان

الحمدالله الذین فضل المجاهدین علی القاعدین درجه ، وقال لهم ،(جاهدوالکفار والمنافقین والصلاه والسلام علی امام المجاهدین محمدوعلی اله واصحابه اجمعین .

وبعد، شکی نیست که وفات عالیقدر امیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد (رحمه الله) یک ضایعه جبران ناپذیروخلا بزرگ درعالم اسلام است ، چونکه ایشان خطه یی افغان زمین مرکزتحرکات جهادي ومقاومت علیه استعمارگران جهان قرار داده بود ، فلهذا مراتب تسلیت وتعزیت خویش رابه تمام مسلمانان دنیا وسنگرداران اسلام ومجاهدین امارت اسلامي افغانستان علی الخصوص به خانواده شریف امیرالمومنین مرحوم رح ومقام شورای رهبری امارت اسلامی افغانستان تقدیم مینمایم :

چونکه امیرالمومنین رحمه الله درحیات خود جناب محترم (ملااخترمحمد منصور، حفظه الله) رانائب خودتعین کرده بود وبعد ازوفات مرحوم وی توسط شورای عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان بحیث امیرالمومنین انتخاب گردید بناء تمام پرسونل تمیز امارت اسلامي افغانستان اعم ازریاست

های مرافعه وابتدایه درحالیکه جناب (شیخ القران والحدیث حضرت مولنا محمدشریف حقانی ، مدظله العالی) حاضر بود ، وی را شخص مناسب درشرایط فعلی باین عهده داشته ، باایشان بیعت می نمائیم وازالله تبارک وتعالی توفیق مذید رابوی خواهانیم . امین ثم امین

د پښتون خوښت غندنلیک!

پدې وروستیو کې د حکومت امنيتې اداري په هیواد کښې د طالبانو د مشر د فاتحې د مراسمو په اداء کولو بندیز ولګاوه چې په ریښتیا هم د حکومت د کمزورۍ او بې وسۍ ښکارندوینه کوي.

داسې بندیزونه نه زمونږ د اسلامي او افغاني ارزښتونو سره سمون خوري او نه هم د اوسني نظام له کړنو او سیاسي تګلارو سره. په اسلامي او افغاني ټولنه کې د فاتحې پر ځای کول یوه وجیبه ده او مونږ ورته د عقیدې پر بنسټ ژمن یو، په همدې خاطر دا د اسلامي او افغاني ارزښتونو خلاف یوه کړنه ده.

له بل پلوه که د حکومت له نظره د طالبانو د مشر د فاتحې اخیستنه او لمانځنه ناسم کار دی نو بیا دلته د هغو جنګسالارانو، قاتلینو، غلو، مافیایي څېرو، کاغذي او پروتوکولي قهرمانانو تلینونه او د مړیني مراسم ولې په شان او شوکت سره نه یواځې دا چې لمانځل کېږي بلکې د همدې حکومت لخوا ورته ځانګړې رخصتۍ او د ولسي- بودیجې څخه حمایوي مصارف هم ځانګړي کېږي.

د حکومت له لورې داسې او ورته توپيريز چلندونه دا په ډاګه کوي چې پدې نظام کې مشخصې کړۍ همېشه په خپله د خلکو، ملیتونو او قومونو تر مېنځ د تفرقې او نفاق باعث ګرځېدلی او هیواد ته یې ناوړې پایلې درلودلي.

په درنښت

د جګړې ضد ځوانان

د ملا محمد عمر مجاهد په مړینه د جمیعت اصلاح د تعزیت پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

قال تعالی: كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ... (آل عمران ۱۸۵)

د راپورونو پر اساس د طالبانو د اسلامي تحریک مشر ملا محمد عمر مجاهد آخند د ورپیښې ناروغۍ له امله وفات شوی دی. انا لله وانا الیه راجعون

جمعیت اصلاح افغانستان متوفی ته له الله تعالی څخه د ښښنې دعا کوي، کورنۍ، خپلوانو او دوستانو ته یې په دې اړه خپل تعزیت وړاندې کوي او هغوی ته له الله تعالی څخه د صبر غوښتنه کوي.

په دې کې شک نه شته چې ملا محمد عمر مجاهد د هېواد د تېرو دوو لسیزو یوه مهمه او مطرحه څېره وه او تاریخ به د هر بل شخصیت په څیر د هغه د کړنو په اړه خپل قضاوت کوي.

ملا محمد عمر مجاهد په خپله وروستۍ اعلامیه کې چې د کوچني اختر په اړه یې صادره کړې وه، د سولې د بین الافغاني خبرو ملاتړ کړی ؤ، چې له شک پرته یو پرځای او د سولې په لاره کې یو غوره ګام ؤ.

جمعیت اصلاح افغانستان هیله لري چې د ملا محمد عمر مجاهد په مړینه د سولې روانه پروسه ټکنی نه شي او د حالاتو نزاکت ته په کتلو سره د بین الافغاني خبرو او سولې لپاره اړوندې خواوې لا ګړندي ګامونه پورته کړي، ترڅو له دې غمځپلي هېواد نه د جګړې تغر ټول او ځای یې تلپاتې سوله، دایمي استقرار او ثبات ونیسي او پدې ترتیب زمونږ مظلوم او دردیدلی ملت د ډاډ او هوساینې ساه واخلي.

وما ذالک علی الله بعزیز

جمعیت اصلاح افغانستان

جمعه، د ۱۳۹۴ هجري لمریز کال د اسد نهمه نیټه

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

د افغانانو هغه رهبر چې (دین) او (سیاست) یې بېرته سره یوځای کړل

لیکنه: مولوي عبدالهادي (مجاهد)

د دین او سیاست بېلتون په اسلام کې ځای نه لري:

د اسلام مبارک دین د (دین) او (سیاست) تر منځ بېلتون نه مني. د اسلام دین د الله تعالی له لوري د انسانانو په ټولو مادي او معنوي چارو کې د لارښوونې لپاره راغلی دی، او پیغمبر صلی الله علیه وسلّم همدغه کار په خپل مبارک ژوند کې عملي کړی دی.

په اسلام کې داعقیده او تصور (دخیل) او (پردی) دی چې د دین (روحاني) او (معنوي) تمثیل دې یو جهت کوي، او د سیاست، نظام او د ټولنې چارې دې بل جهت سمبالوي، بلکې دادواړه دیوه قیادت کار او سره نه بېلېدونکې وظیفې دي، ځکه خو پیغمبر صلی الله علیه وسلّم او تر هغه مبارک وروسته راشدین خلفاء هم د مسلمانانو د (دولت) او (نظام) مشران ول، او هم د هغوئ دیني لارښوونکي او (د مسجد امامان.)

د اسلام په سیاسي تاریخ کې چې کله هم اسلامي ټولنه په سیاسي لحاظ له (مسجد او محرابه) رهبري شوې ده مسلمانان په قوت، سرلوړی او فتوحاتو کې اوسېدلي دي، خو چې کله هم د سیاسي قیادت چارې د (مسجد او محراب) پر ځای د (ماڼیو) او (خېلونو) له لوري ترسره شوي نو په حتمي ډول مسلمانان د قوت او فتوحاتو پر ځای له ذلتونو، انحرافاتو، خپلمنځي جګړو او یا هم د دولتونو او نظامونو له سقوط سره مخ شوي دي.

د دین او د سیاست د بېلتون نظریه چې په غربي اصطلاح (سیکولریزم) هم ورته ویل کېږي د (کلیسا) د منحرف دین په خلاف د اروپا د (الحاد) د بغاوت زېږنده ده. دغې نظریې که له یوې خوا اروپایان د کلیسا د استبداد په خلاف ودرول نو له بلې خوا اروپایي مستعمرینو اسلامي نړۍ ته د دې نظریې په راصادرولو په ملیونونو مسلمانان هم د اسلامي شریعت له حاکمیته محروم کړل.

د دین او سیاست د بېلتون نظریې له اسلامي نړۍ څه واخیستل؟

د عثماني خلافت په آخرو وختونو کې ـ د سلطان عبدالحمید خان له شخص او ځینو ملګرو په استثناء ـ چې کله د نظام او پوځي قیادت چارې د داسې سیاسي او پوځي مسؤولینو لاسته ورولوېدې چې د (سیکولر) غرب له نظریاتو متأثر شوي وو نو په اسلامي نړۍ کې یې هم د دغې اروپایي (کفري نظریې) خپرېدو ته لاره هواره کړه، چې په نتیجه کې یې د شریعت حاکمیت او د خلافت نظام له منځه لاړ، اسلامي نړۍ اروپایي دولتونو اشغال کړه، او په پای کې په ټوله اسلامي نړۍ کې داسې غرب پلوي سیاسي نظامونه منځته راغلل چې د شریعت د حاکمیت د مخنیوي او د دین او د سیاست په بېلولو کې ټول سره شریک ول.

پر اسلامي نړۍ غرب پلوو مسلطو نظامونو نه یوازې دا چې په اسلامي نړۍ کې د شریعت د عملي کېدلو مخه ونیوله، بلکې دلته یې پر مسلمانو ولسونو د شوروي د (کمونیزم)، د غرب د (فاشیست لیبرالیزم)، د امریکا د (پراګماتیزم) او (صلیبیت) او د معاصرې اروپا د سیاسي منافقت

(ماکیاولیزم) د ټولو جنایاتو تمرینونه وکړل. د اسلامي نړۍ د هېوادونو استقلالیت یې له منځه یووړ، او دغه هېوادونه یې ټول په سیاسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي لحاظ په روسانو، اروپایانو او امریکایانو پورې وتړل.

افغانستان ته سیکولریزم چا راووړ؟

د دین او د سیاست د بېلتون له (فتنې) څخه افغانستان هم په امان کې پاتې نه شو، او د اول ځل لپاره د دغه پردی فکر او نظام تیوري (محمود طرزي) چې له (سیکولر کمالیزم) او اروپایي نظریاتو څخه متأثره وو راوارده کړه، او بیا امان الله خان په افغانستان کې د زور، زندان، فکري ارعاب او استبدادي حکومت په زور د غې پردۍ نظریې د عملي کولو هڅې شروع کړې.

د محمود طرزي-چې غربیان یې په افغانستان کې د سیکولریزم پلار بولي-دغه مردار بوټي کرار کرار په افغانستان کې هم وده وکړه، چې نتیجه یې د امان ان الله خان د هغو (افساداتو) چې ده (اصلاحات) بلل او خلکو دی د هغو له امله (له دینه وتلی) وباله، د ظاهر شاه د مفسد نظام، د داوودخان د (دین دښمنه جمهوریت)، د کمونستانو (د ثور د کمونستي انقلاب) او د اوسنیو امریکایي پلوو (دیموکراتانو) د دیموکراسۍ په شکل کې راووته.

په افغانستان کې د دین او د سیاست د بېلتون نظریې او اسلامي شریعت ته نامتلزم حاکمیت دلته داسې وضعیتونه، نظامونه او قوانین رامنځته کړل چې یو ځل یې په افغانستان کې د امان الله په شکل کې د ترکیې د (مصطفی کمال) د (دین دښمنۍ) نخرې وکړې، بل ځل یې دا هېواد او ولس روسانو ته وروسپاره، او په دریم ځل یې دادی بیا دا هېواد د امریکا په مشرۍ د غرب د صلیبي ائتلاف په واک کې ورکړ.

افغانانو د غرب پلوو سیکولرانو د جنایاتو کفاره هر ځل د زرګونو او لکونو شهیدان په ورکولو ادا کړه، او لا یې تر اوسه هم خپله ټولنه د سیکولریزم د بې دینې مفکورې له جنایاتو او منفي تأثیراتو نده پاکه کړې.

سیکولریزم وهلي مسلمانان:

په اسلامي نړۍ کې د سیکولرو واکمنو له لوري د (سیکولریزم) خپرېدو نه یوازې دا چې (پر دین نه ولاړ) نظامونه رامنځته کړل، بلکې په اسلامي نړۍ کې یې په ملیونونو اسلام ته داسې منسوب خلک هم وروزل چې یوازې نومونه یې اسلامي دي او نور یې د ژوند تقریبا ټولې چارې له دیني ارشاداتو څخه د باندې د سیکولریزم، کمونیزم، لیبرالیزم او وضعي قوانینو مطابق عیارې کړې او روانې کړې دي. دغه د سیکولر فکر خاوندانو هر وخت ځان د اسلامي امت له افرادو ګڼلي خو کار یې تل د غرب لپاره کړی، او د اسلام پر ځای یې خپله وفاداري له غربیانو او غربي نظریاتو سره ښکاره کړې ده، او هم عملا د هغوئ په صف کې درېدلي دي.

په تېرې یوېې پېړۍ کې د اسلامي نړۍ په ډېرو هېوادونو لکه د هند په نیمه وچه، ترکیې، عربي نړۍ او افغانستان کې ډېرو اسلامي شخصیتونو، اسلامي احزابو او سیاسي جهتونو د سیکولریزم د مخنیوي او د اسلامي نظام د رامنځته کولو لپاره نظریات وړاندې کړي، طرحې او کتابونه یې تألیف کړي، او د اسلامي سیاست او نظام دعواوې او شعارونه یې پورته کړي دي، خو کله چې په عملي ډول د سیاست او نظام ډګر ته ورداخل شوي او یا د حکومتونو برخه ګرځېدلي دي نو بیا دوئ هم د سیکولرانو ملګرتیا کړې ده او عملي سیاست او حکومتونه یې د سیکولریزم د اصولو، تګلارو او قوانینو مطابق چلولي دي، او د خپلو سیاسي او فکري انحرافاتو د تبریې لپاره یې اسلامي احکام تحریف کړي او یا یې بېلابېل تأویلونه ورکړي دي چې همدغه جریان لا اوس هم روان دی، او بده لا دا ده چې اوس همدغه خلک په ډېرو ځایونو کې د مجاهدینو په خلاف د غرب د صلیبي یوځي ایتلاف برخه دي.

ملا محمد عمر مجاهد او د سیکولریزم د نظریې په خلاف عملي مبارزه:

خو د پورتني وضعیت په خلاف ملا محمد عمر مجاهد هغه یوازینی مسلمان رهبر وو چې هم د منبر او محراب له ډګره راپورته شو او هم یې خپل نظام د خالصو اسلامي اصولو مطابق جوړ کړ. هغه سیاست بېرته اسلامي کړ، په سیاست او نظام کې یې له سیکولریزم او نورو پردیو نظریاتو

سره (پیوند کاري) ونه منله. هغه یو ځل بیا ثابته کړه چې مسلمان هم په خپل شخصي ژوند کې مسلمان کېدی شي، او هم له معاصرو کفري نظریاتو او اصولو لیرې خپل نظام اسلامي کولی شي.

ملا محمدعمر مجاهد د یوه رښتیني مسلمان رهبر په حیث نه د کفري نړۍ له لویو ځواکونو مرعوب شو، نه یې له نوي نړیوال نظامه سترګې وسوې، نه یې (د ملګرو ملتو) او (د امنیت د شورى) د کفري قوانینو بنده ګۍ ومنله، نه له چا سره په کوم کفري (نظامي) او یا کوم (سیاسي) تړون کې شامل شو، نه یې د غرب او یا شرق په نزد د منل کېدلو په مقصد په خپل نظام کې پر دې معیارونه مراعت کړل، او نه هم د چا سیاسي، اقتصادي او او نظامي بندیزونو او او تهدیدونو ته ور تسلیم شو.

هغه دا هر څه ځکه وکړل چې هغه (مسلمان) وو، او پر دې یې عقیده درلوده چې لکه څنګه چې د (مسلمان) دین او عقیده اسلامي ده همداسې باید د هغه (سیاست) او نظام هم اسلامي وي. ځینې (پر دې پالو) او لنډ فکره خلکو ته به کېدی شي د هغه له لوري د د دغه ډول دریځ خپلول د هغه ساده ګي او د معاصرې نړۍ له سیاسي وضعیت او حالاتو ناخبري ښکاره شي، خو حقیقت دا دی چې هغه ساده او ناخبره نه وو، بلکه هغه یو رښتینی مسلمان رهبر وو چې د اسلام په حقیقي روحیه سمبال او یو کلک (شعوري مسلمان) وو چې په هېڅ صورت یې په اسلام او اسلامي سیاست کې (پیوند کاري) نه منله. زه د داسې یو چا په حیث دا څو جربني نه لیکم چې هغه یې نه وي لیدلی او نه یې وي پېژندلی. ما هغه مرحوم له نېږدې لیدلی وو، او د هغه له فکر او نظریاتو مې له ډېرې نېږدې ځان خبر کړی وو.

د ملا محمد عمر مجاهد د فکر او د اسلامي سیاست د خالصتوب راز په دې کې وو چې هغه د اوسنیو نورو سیاستمدارانو په څېر د معاصر غرب د سیاسي فلسفې د فیلسوفانو نظریات نه لوستي وو او نه یې باور پرې درلود. د هغه د عقیدې او سیاسي تفکر سرچینه د (جان جاک روسو)، (مونتسکیو)، (هوبز)، (جان لاک)، (سپینوزا)، (میرابو)، (داروین)، (کانت)، (سارتر)، (ماکیاولي)(فروید)، (مارکس)، (نیچه)، (چرچل) او د (فوکویاما) له نظریاتو نه وه، بلکه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلّم او د صدیق، فاروق، علي، عثمان، سلمان، ابوذر، بلال، خالد او ابن عبدالعزیز رضي الله تعالى عنهم کیسې او رېدلې وې، او د هغوئ ساده خو پوخ او اصیل فکر یې خپله تګلاره ګرځولې وه. او له همدې امله یې تر وروستۍ ساد شریعت التزام ته د د نیا د خلکو پر توصیو او فرمایشاتو ترجیح ور کړه.

د افغانستان، اسلامي فکر، او اسلامي سیاست لپاره د ملا محمد عمر مجاهد څو لوی کارونه:

ملا محمد عمر مجاهد د یوه مسلمان سیاسي رهبر په حیث په خاص ډول په افغانستان او په عام ډول په ټولې اسلامي نړۍ کې پر اسلامي فکر او سیاست لوی او ژور تأثیرات پرېښودل چې اغېزې به یې په ټولې نړۍ کې د وخت پر تېرېدلو لا نورې هم ښکاره شي. ځینې خلک بنایي زما دې تحلیل ته د یوه فکري مجازفت او لویې ښکاروونې په نظر وګوري او داسې فکر وکړي چې زه به د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د فکر او اقداماتو تأثیر د هغو تر حقیقي اندازې د پور ته ښکاره کولو هڅه کووم، خو دغه خلکو ته باید ور په یاد کړم چې یو وخت دغه ډول خلکو (سید قطب)، (عبدالله عزّام) او (اسامه بن لادن) هم یوازې افراد ګڼل، او د هغوئ افکار و سیاسي او نظامي اقدامات یې سطحي ګڼل، او د هغو د تأثیر ساحه یې هم محدوده ګڼله، خو وروسته بیا نړۍ ولیدل چې د همدې (محدودو افرادو) د افکارو او اقداماتو په نتیجه کې په ټولې نړۍ کې داسې یو مجاهد نسل او یوه سیاسي او جهادي تیوري رامنځته شوه چې ټوله کفري نړۍ یې ستومانه کړه، ستر پوځي ځواکونه یې ونګول، او په داسې یوه ځواک بدل شول چې ټوله نړۍ یې له مقابلې عاجزه ده.

هغه لوی کارونه چې ملا محمد عمر مجاهد د افغاني اسلامي سیاست په بهیر او د اسلامي فکر په مجال کې تر سره کړل د هغو له جملې څخه یې ځینې په لاندې ډول یادولی شو:

۱. د روسانو او کمونیزم په خلاف د افغانانو د ستر جهاد د نتیجې له ضائع کېدلو ژغورل:

د روسانو او کمونستانو په خلاف د افغانانو ستر جهاد چې د اسلامي نړۍ په زرګونو نورو مسلمانانو هم ورکې قربانۍ ورکړې وې د دې لپاره وو چې افغانستان د روسانو او کمونستانو له تسلّطه آزاد شي، او په دې خاوره کې اسلامي نظام جوړ او شریعت ورکې حاکم شي. خو د بېلابېلو نړیوالو اوسیمه ییزو توطیو او د ډېرو جهادي تنظیمونو د رهبرانو د انحراف او غلطو تصامیمو او اقداماتو له امله نه یوازې دا چې په هغه وخت کې دغه ارمان پوره نه شو، بلکې نیږدې وه چې ټولې قربانۍ ضائع او او د افغانستان ارضي تمامیت هم له منځه لاړ شي.

په هغه وخت کې د داخلي شخړو او د جهادي صف د انحراف له امله پر افغانستان داسې یو وحشت حاکم وو چې خلکو ته یې د چنګېز د وخت وراني او وحشتونه وریادول. د هماغو وحشتونو او خپلمنځي بې رحمو جګړو له امله افغانان او افغانستان د لویې تباهۍ مرحلې ته ور رسېدلي وو، مجاهدین بدنامه شوي ول، اسلامي تنظیمونو خپل مصداقیت له لاسه ور کړی وو، او د جهاد بیرغ لوېدلی وو.

له پورتنیو ټولو ناخوالو سره د مقابلې په مقصد ملا محمد عمر مجاهد په خپل جهادي او اصلاحي پاڅون سره نه یوازې دا چې افغانستان له لویې تباهۍ د خلاصون لوري ته سوق کړ، بلکې یو ښه نظام یې هم جوړ او شریعت یې ورکې تر خپلې وسعې تطبیق کړ، او د جهاد لوېدلی بیرغ یې هم ښه لوړ بېر ته راپورته کړ.

د هغه له لاسه دا هر څه په تصادفي ډول نه دي تر سره شوي، بلکې د دې هر څه لپاره یې همداسې عزم درلود. ما (د دې کرښو لیکوال) ته د ۲۰۰۱م میلادي په اولو میاشتو کې یوه ورځ د طالبانو د (امربالمعروف او نهي عن المنکر) د وزارت وزیر شهید مولوي صاحب محمد ولي د ملا محمد عمر مجاهد د عزم د هغو ورځو کیسه کوله چې دی د خپلې نوې پیل کړې مبارزې په دویمه او یا دریمه هفته کې وو، او په هغه وخت لا نه رهبر او نه هم امیر المومنین وو. مولوي محمد ولي مرحوم راته وویل: ((ما د ملا محمد عمر له مدرسې لږ لیرې په یوه مسجد کې طالبانو ته درس وایه چې د قندهار ـ هرات پر سرک مې د ټوپکیانو پر یوه ځنځیر د جګړې د ټکانو آوازونه واورېدل، چې پوښتنه مې وکړه نو راته وویل شول چې ملا محمد عمر د ظالمو او مفسدو ټوپکیانو په خلاف جګړه شروع کړې ده. ما هم کتاب بند کړ او له خپلو څو طالبانو سره له هغه سره یوځای شوم. کله چې یوه ورځ زموږ جګړه د قندهار ښار ته د غرب له لوري ورنیږدې شوه یوه ورځ مو تر مازدیګره له ټوپکیانو سره پداسې ځای کې سخته جګړه وشوه چې زموږ او هغوئ تر منځ یو پول وو، ماښام چې جګړه ودرېده نو زه او ملا محمد عمر آخوند په یوه خزه کې وو. ما دا تشویش درلود چې موږ دا دوه کسه به تر سهاره دلته مقاومت وکړای شو او که نه په شپه کې به مو خدای مه کړه دښمن ونیسي او یا بل څه راپېښ شي. زما په ذهن کې خو دا فکرونه وو خو د ملامحمد عمر آخوند د عزم او فکر دنیا بیا بېله وه. ملا محمد عمر آخوند په همدې له وېرې او تشویش ډکې شپې کې راته وویل: ((مولوي صاحب! دا جګړه مو لنډه او د یو څو ورځو جګړه نه ده، او نه به یې د کندهار پر نیولو بس کوو. موږ به ان شاء الله تعالی دوامداره جهاد کوو، کندهار به نیسو، بیا به ټول افغانستان لدې مفسدینو آزادوو، اسلامي حکومت به جوړوو، او بیا به شریعت ورکې نافذوو، دا ډېره اوږده لار ده، وېرې او ستومانۍ ته به په زړه کې ځای نه ورکوو))

مولوي محمد ولي صاحب راته ویل: ما چې په هغې سختې او له وېرې ډکې شپې کې د ملا محمد عمر آخوند دا خبرې او په ظاهره ډېر سخت او نه ترسره کېدونکي عزائم اورېدل داسې راته ښکارېدل لکه دي چې دی راته وایې چې اسمان ته به پورته کېږو او... خو دا دی زه اوس وینم چې ملا صاحب د الله تعالی په فضل او نصرت خپل ټول عزائم ترسره کړل. د فساد ټغر ټول شو، اسلامي حکومت قائم شو، او شریعت هم ورکې نافذ شو.((

حقیقت دا دی که د الله تعالی فضل او احسان او بیا د ملا محمد عمر مجاهد پاڅون نه وای نو نن به نه واحد افغانستان وای، نه به دلته دغه ډول مجاهدین ول، نه به امریکا او ناټو ماتې خوړلې وه، نه به مو ولس د آزادۍ دغه ډول روحیه درلوده، او نه به مو په نړۍ کې د جهاد او سر لوړۍ بیرغ رپېده. بلکې د کموستانو هغې دعوی به د ټولو مجاهدینو په هکله صدق کړی وو چې د څو غدارو تنظیمي رهبرانو په حق کې یې کاوه، هغه چې ویل به یې جهاد او مجاهدین یوه امریکایي پروژه ده چې د (ثور د انقلاب!!؟) په خلاف یې په کار اچولې ده. که ملا محمد عمر مجاهد د امریکا او د هغې د

ملګرو په خلاف د جهاد بیرغ نه وای پورته کړی، او د سیکولریزم په خلاف یې هم داسې جهاد نه وای کړی لکه د کمونیزم په خلاف یې چې وکړ، نو خامخا به مو د کمونستانو پیغور پر غاړه وو.

۲. د (ملا) سیاسي کول او حاکمیت ته رسول:

له تېرې اوږدې زمانې راهیسې په اسلامي نړۍ او په افغانستان کې عالمان او متدین خلک د سیاست، نظام او حاکمیت له صحنې وېستل شوي او د ټولنو د سیاسي، عسکري او اجتماعي قیادت چارې له دین څخه ناخبرو او یا له دین څخه یاغي سیاستوالو، مستبدو بادشاهانو، په روسانو پورې تړلو کودتایي انقلابیانو او یا غرب پلوو لیبرال فاشستانو په لاس کې نیولې دي. دغه ډول حکامو نه یوازې دا چې د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې داسې نظامونه او قوانین رامنځته کړل چې د هغو په توسط یې مسلمان ولسونه د ذلت، اختناق، سیاسي استبداد او اجتماعي فساد په وضعیت کې وساتل، بلکې له دې وېرې چې نظامونه او قوانین یې له زوال سره مخ نشي په ټولنو کې یې د مصلحینو، علماوو، قومي مخورو مسلمانو دعوتګرو، مسلمانو مفکرینو او د جهادي فکر او تګلارې د خاوندانو په خلاف بې رحمه جګړې او سیاستونه هم په کار واچول.

دغو له دین څخه یاغي او پردي پالو حکامو د اسلام د حاکمیت لپاره د کار کوونکو په خلاف د جګړې، تهدیدونو، فشارونو او د هغوئ د کار او تأثیر د مخنیوي ټول وسائل لکه وژنې او اعدامونه، زندانونه، تبعیدونه، منفي تبلیغات او سایکالوژیکې جګړې او نور ډېر میتودونه په کار واچول چې د هغو په نتیجه کې یې نه یوازې دا چې علماء او د دین د حاکمیت لپاره کار کوونکي له نظام او حاکمیته ووېستل، بلکې تر ډېره حده یې له ټولنو او سیاسي جریانونو هم تجرید کړل، او د هغوئ ځای یې د کمونیزم، سیکولریزم، نشنلیزم، او د هوی او هوس بنده ګانو ته خالي کړ.

پورتنی وضعیت د افغانستان په شمول پر ټولې اسلامي نړۍ حاکم وو، او د دې پر ځای چې اسلام ته منسوب سیاسي احزاب او جریانونه د خالصو اسلامي انقلابي اقداماتو او جهادي ستراتیژۍ له لارې د دې وضعیت د بدلون په مقصد د جدّي کار لپاره خلک وروزي او له معاصر جاهلیت څخه فاصله ونیسي متأسفانه هغو هم په بېلابېلو شکلونو د معاصر جاهلیت (دیموکراسۍ) له بهیرونو سره پیوند واخیست، او د دې پر ځای چې د مجاهدینو او مسلمانو انقلابیانو ملاتړ وکړي د حکومتونو، پارلمانونو، او نورو سیکولرو جوړښتونو او مؤسساتو په چوکاټ کې یې د ځان لپاره ځایونه ولټول.

خو د اوس وخت د اسلامي سیاسي احزابو او جریانونو برعکس ملا محمد عمر مجاهد له حاکم وضعیت سره جوړه ونه کړه، بلکې د سیکولرې نړۍ ټول (پر دین نه ولاړ) موازین او معیارونه یې له پامه وغورځول، او په فطري ډول یې د نظام او سیاست د چارو واګې بېرته علماوو او مجاهدینو ته وروسپارل. ملا محمد عمر مجاهد (ملا) بېرته سیاسي کړ، او له ډېرې لوېې دروازې یې بېرته د سیاست او حاکمیت ډګر ته ور دننه کړ، چې په خلاص لاس په ټولنه کې د الله تعالی دین نافذ کړي.

ملا محمد عمر نظام او ادارې له کمونستو او سیکولرو عناصرو پاکې کړې. هغه له ملا او مجاهد څخه بیا امیر، وزیر، دیپلومات، والي، پوځي او امنیتي قومندان، مدیر، قاضي، ښاروال، ولسوال، استاذ، سیاستوال، لیکوال، ادیب او مبصر جوړ کړ. هغه د ملا او ټولنې تر منځ پرې شوې رابطه بېرته داسې محکمه کړه چې بېرته پر پرېکولو یې د سیکولریزم د پلویانو زور ونه رسید که هر څومره بېلابېل وسائل په کار واچول.

هغه بیا (ملا) ته د سیاست او نظامدارۍ عملي تمرین ور کړ، او په سیاسي، فکري، او پوځي لحاظ د امریکا په ګټه (یو قطبه) شوې نړۍ یې بېرته داسې (دوه قطبه) کړه چې یو قطب یې د (سیکولر نظریاتو) له خاوندانو جوړ دی، او بل قطب (ملا) او د هغه (نظریه) تشکیلوي.

البته د ملا محمد عمر مجاهد له لوري د (ملا) او (طالب) د سیاسي کولو په اړه د دې یوې ملاحظې یادول ضروري دي او هغه دا چې د طالبانو په بهیر کې خو (ملا) په عملي ډول د سیاست ډګر ته ورننوت خو افسوس چې د اسلامي سیاست معاصرو علومو، د کفر او کمراهۍ د معاصرو ډولونو پېژندنې، د اسلامي عقیدې معاصرو فکري مفرداتو، له ټولنې سره د امثل اسلامي تعامل معارفو او د نړۍ پر ژبه د پوهېدلو او د نړیوالو د مخاطبولو معاصرو ادبیاتو لا تر اوسه د ملا او طالب تعلیمي نصاب او د هغه د مدرسې ماحول ته لاره نه ده پیدا کړې. که طالب او ملا د تعلیم، نصاب او د هغه د

مدرسې ماحول همداسې پاتې شي نو داوړه شته چې د ملا محمد عمر مجاهد فکر او تګلاره به د راتلونکو نسلونو لپاره یو (فکري مکتب) نشي، بلکه د افغاني تاریخ په پاڼو کې به یوازې د (یوې زرینې حادثې) په شکل کې پاتې شي او بس. نو په کار ده چې د طالب د سیاسي او جهادي بهیر فکري او تعلیمي مسؤولین د دغه ارث د خوندي کولو او تخلید لپاره پدې ډکر کې له ځیل سطحیته راووځي او مطلوب اقدامات تر سره کړي.

۳. طالب او محصل ته جهادي روحیه ورکول او له دین څخه د دفاع په صف کې د هغوئ درول:

غربي دوله تعلیم او تعلیمي نظام په اسلامي نړۍ کې خلک له معلوماتو سره آشنا کړل، خو له (تدین) او معنویت څخه یې محروم کړل. دې دول تعلیم خلکو ته د دنیا د جوړولو او د آخرت خرابولو فارمولې ورزده کړې. غربي دوله تعلیمي نظام او نصاب د مسلمانانو نویو نسلونو ته د وسلو او وسائلو د جوړولو هنر ورزده کړ، خو له اسلام او خپلې خاورې څخه د دفاع په لار کې یې د خپلو جوړو کړو وسلو د استعمال روحیه او اراده ور څخه سلب کړه.

غربي دوله تعلیمي نظام او او روحیې په اسلامي نړۍ کې د غرب لپاره په ملیونونو داسې وفاداره ماهر او چالاک غلامان وروزل چې تر غربیانو دوئ ډېر د غرب د ګټو لپار مخلص او د غربیانو د پلانونو عملي کوونکي دي، ځکه خو د شرق فیلسوف او ستر غرب پېژندونکی علامه اقبال هم د غربي دوله (مکتب) او د هغه د شاکر دانو رول په اسلامي نړۍ کې داسې تشخیصوي:

مکتب از تدبیر او ګیرد نظام   تا به کام خواجه اندیشد غلام

انګرېز د مکتب نظام ته داسې یو تدبیر نیولی چې له هغه څخه فارغېدونکي فکري غلامان تر خپله انګرېزانو هم د انګرېزانو کارونه ښه تر سره کوي.

د غربي دوله تعلیم اثر پر اسلامي نړۍ داوشو چې څومره چې د دې دول تعلیم مکتب او پوهنتونونه ډېر شول په هماغه اندازه له اسلامه د نوي نسل بې خبري هم زیاته شوه. په اسلامي نړۍ کې که دغه دول تعلیم یافته خلک هر څومره ډېر شول اسلام او آزادۍ ساتنې ته یې هیڅ ګټه ونه کړه، او داځکه چې داخلک تل کله د (روښانفکرانو!!؟)، کله د (کمونستانو)، کله د (لیبرالانو) او کله هم د (منځلارو) په شکل کې د دښمن په صفکې درېدلي دي. غربي دوله تعلیم دوئ د غیرت او دفاع له فطري حسه بې برخې کړي، ځکه خو علامه اقبال دې تعلیم ته په لاندې نظر ګوري:

من آن علم و فراست با پر کاهی نه مي ګیرم   که از تیغ و سپر بیګانه سازد مرد غازی را

زه هغه پوهه او هوښیارۍ د بوسو په یوې خځلې هم نه اخلم چې غازي سړی له تورې او سپره پردی کوي.

ملا محمد عمر په دغه دول یوه (وباوهلې) سیاسي، فکري او فرهنګي وضعیت کې حاکمیت ته ورسېد، خو هغه او د هغه ملګرو له دغه وضعیت سره جوړه ونه کړه، بلکې په پراخه پیمانه یې د مکتب، مدرسې، پوهنتون او دارالحفاظ شاګردان داسې د ایمان، جهاد، قربانۍ او فداکارۍ له روحیې سرشاره کړل چې له هیڅ ایې وېره ونه شوه، او د داسې یوه نړیوال پوځي ائتلاف په مقابل کې لویه جګړه ورباندې وګټله چې تر پنځوسو د زیاتو هېوادونو پوځونه ورکې شامل ول. هغه په خپل قول او عمل د اسلامي نړۍ د ځوانانو په نفسونو کې د جهاد او آزادۍ غوښتنې داسې ساورپو کړه چې اوس یې د نړۍ ټول سیاسي او فکري جادوګر له آراملو عاجز دي، او دا سلسله به لانوره هم ان شاء الله اوږدېږي او پراخیږي.

۴. د یوه ربښتیني مسلمان حاکم نمونه وړاندې کول:

مسلمانانو له اوږدې مودې راهیسې د یوه واقعي او ربښتیني مسلمان حاکم نمونه نه ده لیدلې. او داځکه چې د اسلامي نړۍ د شلمې او یو ویشتمې پېړۍ تقریبا ټول حاکمان هغه خلک دي چې یا یې د اروپا، روسیې، او امریکا په مکتبونو او پوهنتونونو کې درس ویلی، یا یې په اسلامي هېوادونو کې د غربیانو او مسیحي مبشرینو له لوري له جوړو شویو تعلیمي مؤسسو فارغ شوي دي، او یا هم هغه خلک دي چې په غرب پالو او سیکولرو کورنیو او چاپېریالونو کې رالوی شوي دي او دین ته هیڅ التزام نه لري، او د دینداری هم یوازې دومره تظاهر کوي چې خپل محکوم ولسونه ورباندې تېرباسي.

د اسلامي نړۍ اوسني حاکمان په فکري لحاظ سيکولر، په سياسي لحاظ د (ماکياوليزم) د مکتب پيروان چې د خپلو ګټو لپاره هر کار روا بولي، د عزائمو او ارادو په لحاظ په د لويو کفري دولتونو ملګري او تابع، د شکل او صورت په لحاظ د غربيانو فوټو کاپي، له خپلو ولسونو سره د تعامل په لحاظ غله، مستبد او درواغجن، د فرهنګ په لحاظ د خپل فرهنګ دښمنان او د پرديو فرهنګونو تمثيلوونکي دي.

دغه حاکمان واک ته هم يا د خانداني موروثيت، يا د کودتاګانو، يا د پرديو لخوا په تحميلي شکل او يا هم د غربي ديموکراسۍ د هغو انتخاباتو له لارې رسېږي چې په هغه کې د رأيې ور کوونکو دين، پوهې، عقل، تجربې او نورو استعدادونو ته نه کتل کېږي، بلکې يوازې يې د حيواناتو په څېر سرونه شمېرل کېږي، او هر چاچې ډېرې رأيې حاصلې کړې که يې په هر شکل حاصلې کړې وي د حاکميت مستحق ګڼل کېږي. پدې ډول د اسلامي نړۍ تقريبا ټول حکام له نا اسلامي لارو واک ته رسېږي.

خو ملا محمد عمر مجاهد د اوسنۍ زمانې د حکامو بر عکس د يوه رښتيني مسلمان حاکم نمونه وو. هغه د ملت په منځ کې له مسجد او محرابه راپورته شوی متدين او متشرع شخص او د دين په تقاضا او روحيه پوه رهبر وو. هغه هم په شريعت پوهېده او هم يې نافذاوه. د مظهر او صورت په لحاظ له شريعت او افغاني اصيل دود سره برابر وو، تل يې افغاني لباس اغوست او پګړۍ يې پر سر کوله، ډېر وخت به يې داسې پګړۍ پر سر او جامې پر تن وې چې له ډېرو وينځلو او اغوستلو به يې رنګ بدل شوی وو. نه يې تر پايه خپل کور پيدا کړ او نه يې ځمکې او شتمنې.

هغه سره لدې چې يو قوي رهبر وو هر وخت يې خپل تصاميم د شريعت له علماوو څخه د پوښتنې او له خپلو ملګرو سره د مشورې په نتيجه کې نيول، او د خپل حاکميت په وخت کې به يې هره چهار شنبه له مشرانو او مسؤولينو سره مشوره درلوده. ملا محمد عمر مجاهد قوي حاکم وو خو ژوند يې د مترفينو نه وو، هغه په ماڼيو کې نه اوسېده، تل له مجاهدينو، علماوو او د نظام له مسؤولينو سره په طبيعي ژوند کې اوسېده. هغه د خپل نظام قوت د اسلامي شريعت په تطبيق او د خپل ولس په پاللو کې ليده. هغه کله هم د خپل نظام د تقويې لپاره کفري هېوادونو ته د نېږدې کېدلو کوښښ او له هغوئ سره د تړونونو د امضاء کولو هڅه ونه کړه.

ملا محمد عمر مجاهد په فکري لحاظ په اسلامي معنی د امت پر وحدت باور درلود، او د خپل توان تر حده يې د امت د عملي يو کولو هڅه وکړه. هغه د نړۍ ډېرو جهادي ډلو او لويو شخصيتونو ته د خپل نظام په غېږ کې نه يوازې داچې ځای ورکړ، بلکې هغوئ ته يې وسلې وسائل او د هغوئ د مهاجرينو لپاره د عزتمن ژوند امکانات هم برابر کړل، پدې ډګر کې هغه د (لا يخافون في الله لومة لائم) عملي مصداق وو، او پدې اړه يې د شرعي حکم او مسؤوليت په مقابل کې د هېڅ خاطر داري ونه کړه، که هر څومره ورته دا کار په درانه قيمت هم تمام شو.

د دې لپاره چې هغه او د هغه نظام د امت د وحدت عملي دليل وړاندې کړی وي کله يې هم نظام له مسلمانو مجاهدينو او مهاجرينو د د ويزې او پاسپورټ غوښتنه ونه کړه، او داځکه چې د اسلامي امت د وحدت او د مسلمانانو د وروړلي د عقيدې په تله کې دې شيانو ارزښت نه درلود، او همدا دليل وو چې د نورې نړۍ ډېرو مخلصو مسلمانانو هم همدی خپل امير او رهبر ګاڼه. د ده په خپله اصطلاح)) که يې پښه په خپله پايڅه کې نه وای ننبتې)) نو په دې مجال کې به يې مسلمانانو ته نور هم ډېر څه کړي وو. داچې هغه د نورو انسانانو په څېر يو انسان وو، او له ډول ډول داخلي او خارجي مشکلاتو سره هم مخ وو، نو طبيعي ده چې د خپلو ډېرو ښېګڼو تر څنګ به يې ډېرې نيمګړ تياوې هم درلودې. خو په يقيني ډول هغه د اسلامي نړۍ تر ټولو مشرانو شريعت ته ډېر ملتزم او ښه مدبر رهبر وو.

په پای کې په داسې حال کې چې پر وفات يې ډېر غمجن يم ده ته له غفور او کريم رب څخه د مغفرت غوښتنه کووم، او کورنۍ او ملګرو ته يې تعزيت وړاندې کووم، د اسلامي فکر او د جهاد د فکري او فرهنګي سنګر له ساتونکو په ټول احترام او جدّيت هيله کووم چې د دې عظيم انسان د ژوند د بېلابېلو اړخونو په راسپړلو او پر اسلامي فکر او سياست د هغه د تأثير په برجسته کولو خپل فرهنګي مسؤوليت اداکړي، او د دې لوی شخصيت تاريخ مخکې له هغې تدوين او توثيق کړي چې د کينه ګرو غربي ليکوالو او مفکرينو له لوري په مسخ شوې او تحريف شوې بڼه نړۍ او راتلونکو نسلونو ته وړاندې شي. (رحمه الله تعالی رحمة واسعة، و تغمّده في واسع جنانه) آمين

هغه شخصیت چې ژوند او وفات دواړو یې

مسلمانانو ته د وحدت پیغام پرېښود!

شاهد (غزنیوال)

ملامحمد عمر مجاهد چې کولای شو د پنځلسمې هجري پیړۍ مجدد یې وبولو پرنورو ځانګړ تیاوو سر بیره د مسلمانانو ترمنځ د اسلامي یووالي یو سمبول ګڼل کیده.

نوموړي د طالبانو په نوم د اسلامي تحریک د تأسیس له پیله د افغان ولس د وحدت او یوالي شعار پورته کړ، تنظیمي او ګوندي تفرقې یې ناسمې وبللې او د ولس له منځه یې د هغوی د لیرې کولو هڅې پیل کړې.

هغه مهال چې افغان ولس د اسلامي جهاد په برکت تازه د شورویانو له اشغاله خپلواکي ترلاسه کړې وه په غیر ارادي ډول د داخلي جګړو او تنظیمي اختلافاتو ښکار شوی و له خدای تعالی پرته هیچاته دا تمه نه کیده چې ځوریدلي افغانان دې د دغو خونړیو خپل منځي جګړو او تنظیمي اختلافاتو له شره وژغوري.

په دغسې یوه خطرناک وخت کې چې د افغان مجاهد ولس د قربانیو او سر ښندنو په مټ یوه قطب شوې غربي نړۍ د افغانستان د ټوټه کولو او ویشلو سازشونه جوړول ملامحمد عمر مجاهد د هیواد په جنوب لویدیځ کندهار ولایت کې د طالبانو په نوم د اسلامي تحریک بنسټ کیښود.

نوموړي د لوی خدای په نصرت بیا دخپل ځانګړي اخلاص او ټینګ عزم په مټ وکړای شول دافغانستان د تجزیې په اړه د ښمنانو ټول شوم پلانونه خنثی کړي.

ګډوډي او بې نظمي له منځه یوسي او په ډیر کم وخت کې د افغانستان په ۹۵٪ خاوره کې د شریعت تر سیوري لاندې ډاډمن امنیت تأمین کړي.

که د مرحوم امیر المؤمنین په لاس تر سره شوې کارنامې ټولې دلته لیکل غواړو ښایي ډیر وخت او ډیره اوږده لیکنه وغواړي. ځکه د نوموړي د همدغه اسلامي تحریک ځانګړ تیا یواځې د امنیت تأمینول نه بلکې د هغه ترڅنګ د شرعي احکامو تطبیقول، د هیواد په ټولو قضایي، تقنیني او تنفیذي اداراتو کې مطلوب اصلاحات راوستل هم ول.

د امیر المؤمنین د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال په افغانستان کې د شرعي حدودو د تنفیذ ترڅنګ په نړۍ کې د مستضعفو مسلمانانو له حقوقو دفاع کول او د هغوي مظلومو افرادوته د خپلې واکمنۍ تر سیوري لاندې پناه ورکول هم میسر ول. د مرحوم امیر المؤمنین شخصیت د ټولو هغو نیکو مواصفاتو متمثل و چې یو مسلمان قائد یې باید ولري . تقوی ، تواضع ،خود ګذري ، ایثار او خواخوږي یې د ژوند لازمه ځانګړ تیاوې ولې.

د نوموړي د حاکمیت په مهال مسلمانانو د نړۍ په کچه په افغانستان کې یواځینی داسې حکومت درلود چې نړیوالو مستبدینو د ظالمانه اوامرو او غوښتنو په مقابل کې یې د اسلامي نخوت او سرلوړي له مخې د نه ویلو توان درلود. د ده د فاتحانه قیادت په مهال د لومړي ځل لپاره د کفری نړۍ تبشري منحرف منصرین (د شلټرنو مسیحي مؤسسې کارکوونکي) د تنصیر منحرفي عقیدې ته د دعوت په جرم ونیول شول، د زندان تورو تمبوته واچول شول او په شرعي محکمې کې د خپلو ناروا اعمالو د ترسره کولو په جرم مجازات کړای شول.

د ده د شرعي واکمني په مهال شرعي حدود نافذ او مسلمانانو یې په ټولنې کې د تنفیذ مثبت اثرات ولیدل. او بالآخره د ده د شرعي واکمنۍ په مهال په هیواد کې په ښکاره د شرک، بدعتونو اونورو منکراتو په خلاف په دولتي سطحه هلې ځلې پیل شوې .

ریښتیاهم د امیر المؤمنین په قیادت کې د اسلامي امارت د ۷ کلنې واکمنۍ په مهال په ډیرو سختو شرائطو او اقتصادي ناخوالو کې د ژوند په مختلفو برخو کې د توقع خلاف ډیر کار وشو. له اداري اصلاحاتو نیولي ، تر قضايي عدلي، فرهنګي اقتصادي او تعلیمي سمونو پوري د نظام په ټولو برخوکې مطلوب اصلاحات رامنځته شول ، په عمراني برخه کې په ډیرو نامساعدو اقصادي شرائطو کې ډیر پرمختګ وشو ، د حکومتي اداراتو په بیا فعالولو کې دومره کار وشو چې د هیواد په ډیرو لیري پرتو سیمو کې ټول حکومتي ادارت (ولسوالۍ) او علاقه دارۍ په مکمل ډول فعاله او دخپل فعالیت په سیمه یې پوره کنټرول درلود چې داخبره دمعاصر افغانستان په تیر ۲۷۶ کلن تاریخ کې سارې نه لري.

سره له دې چې د امارت ټوله ۷ کلنه واکمنۍ یوه ورځ هم بې جګړې نه ده تیره شوې خو د جګړې له کرښو رادیخواته به په خارق العادته ډول امنیت تأمین او د هر ډول بې نظمي مخه نیولې شوې وله. د یوه مسلمان ځواکمن قائد په حیث د ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله ژوند او اسلامي واکمنې ځینې داسې ځانګړ تیاوې لري چې د تبع تابعینو له عصره را پدیخوا بیا د بل مسلمان حاکم په ژوند کې هغه نه دې لیدل شوې.

د دغو ځانګړ تیاوو له جملې څخه یوه هم داده چې د ملامحمد عمر مجاهد قیادت په نړیواله کچه د جهادي صف لارویانو منلی له هغه سره یې بیعت کړی او د ده تر قیادت لاندې د نړۍ له ترټولو لوي کفري ایتلاف سره یې مقابله کړې.

کوم صلیبي ایتلاف چې د ملامحمد عمر (مجاهد) د واکمني د نړولو لپاره د صلیبي امریکا په مشرۍ جوړ شو ښايي د احزاب (خندق) له جګړې وروسته بیا د هیڅ اسلامي هیواد او اسلامي قیادت پرخلاف دومره لوی نړیوال کفري ایتلاف نه وي تشکیل شوی.

خو ملامحمد عمر (مجاهد) چې د دغه صلیبي ایتلاف اصلي هدف و نه دهغه له زوره وډار شو او نه یې له خپله موقف نه تنازل وکړ ، بلکي دالله تعالی د دې قول مطابق چې فرمايي :

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ (۱۷۳)

په خپل اسلامي موقف باندې په ثابت پاتې کېدلو سره یې له دغه ټول راټول شوي صلیبي ایتلاف سره مقابله پیل کړه ، نوموړی په دې مقابله کې د الله په نصرت او خپل بریالیتوب باندې بشپړ باور درلود او هغسي وهم شول چې هماغه لوی مستکبر طاقت د ملامحمد عمر د تش لاسو مجاهدینو په قربانیو اوسر ښندنو سره ناکام او د مقابلې په ډګر کې شرمنده شو.

د ملامحمد عمر (مجاهد) بله ځانګړتیا داوه چې د ده تر حاکمیت لاندې مجاهدین د ده تر ژونده پوري همداسې یو موټی او متحد پاتې شول ، سره له دې چې دښمنانو دهغوی دمتفرق کولو لپاره ډېرې هلې وکړې خو د لوی خدای په فضل او د ده د حکیمانه قیادت په برکت سره د دښمن دغه ټولې هلې ځلې ناکامه او جهادي صف تر اوسه همداسې متحد او یوموټی پاتې شو.

تر ټولو مهمه مشخصه یې دا چې لکه چې ژوند یې د مسلمانانو لپاره د وحدت او یووالي سمبول و وفات یې هم د ټولو مسلمانانو لپاره د وحدت او یووالي پیغام پریښود.

د ملامحمد عمر (مجاهد) په وفات باندې د نړۍ ټولو مسلمانانو او دجهادي تنظیمونو مشرانو خپل تأثر څرګند او داسلامي امارت له مجاهدینو سره یې خپل مواسات او غمشریکي ښکاره کړه .

په دغو متأثرینو کې داسې کسان هم ول چې له مرحوم ملامحمد مجاهد سره په ژوندکې د هغه له ځینو کړنو سره سخت مخالفت درلود ، خو په وفات کې یې له نوموړي سره خپل ټول نظري اختلافات شاته وغورځول او د ده رحلت یې د اسلامي نړۍ لپاره نه جبرانیدونکې ضائعه وبلله.

خلاصه داچې مرحوم ملامحمد عمر مجاهد د اسلامي امت یو خواخوږي قائد و چې ژوند یې هم د مسلمانانو لپاره د افتخار لامل و او وفات یې د هغوی د یوالي لامل وګرځیده.

ننۍ اسلامي نړۍ داسې یوه قائد ته ډیره اړتیالري چې د هغې خورې ورې پرګنې تریوه قیادت لاندې راټولې او خپل له لاسه ورکړي مجد او عظمت بیا تر لاسه کړي .

الله تعالی دي پر مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) رحمتونه وکړي ، او د ده د اخلاص ، صداقت او له اسلام سره د وفادارۍ له برکته دي اسلامي نړي د دښمنانو له سازشونو او مکرنو څخه په امن کې وساتي.

امین یارب العالمین.

ګلورینې پاڼې

مروري اوښکي

(محمدالیاس فاتح)

قطار قطار راغلي ګرېوان ته مروري اوښکي
بیا احتجاج کوي ارمان ته مروري اوښکي
دانګو غرونه دزني ګړنګونه وهي
ځي دلمني بیابان ته مروري اوښکي
چې یې په مینه راپخلاکړمه جرګه لېږمه
دې مرور خفه جانان ته مروري اوښکي
دمظلومانو پیغامونه وړي دشعر په ژبه
دوخت غافله مسلمان ته مروي اوښکي
دازادۍ زېری وروړي مجاهدینو لره
ځان رسوي کفري زندان ته مروري اوښکي
ماتوي تندې دسنګر دجل وهلو زلمو
ځي دجهاد دجنګ میدان ته مروري اوښکي
پرې راتازه به شي شېبې به شي دمست پسرلي
زمونږ دهیلو ګلستان ته مروري اوښکي
تیارې دظلم او وحشت به ترې په منډه تښتي
دخواښۍ لمر به شي جهان ته مروري اوښکي
سهار ماښام داسلام لونې صدقې وباسي
تل دبریو ،طالب جان ته مروري اوښکي
ځان ته یې مرګ ورکړ،تاریخ ته یې تل پاتې ژوندون
شه نذرانه دعمر(۱) شان ته مروري اوښکي
نور وس مې نشته مهاجر یمه فاتحه اشنا
ډالۍ کوم افغانستان ته مروري اوښکي

مشالونه

ذاکر مهاجر

دغرونو پر لمنو پرهواره مشالونه
دې کلي کې بلیږي تر سهاره مشالونه

نه خپله شوه لیلا نه دمجنون اروا مړه شوه
لاځو یې خمار ساتې انتظاره مشالونه

پرون دزلفو سیوري پر لمبو باندې خواره وو
نن ځکه پرګودر ښکاري بې شماره مشالونه

دمیني دپتنګ سینه لا نه ده پخه شوې
لا اوس یې هم راخیژي له پرهاره مشالونه

نري نري لوګي دې څوک ویده دې پرسکروټو
شیرینې! سپېلني شول ستا لپاره مشالونه

شفقه پرګرېوان دې لا ډېر غشي۔ دې ټومبلي
په غېږ کې دې ځنګیږي بې ازاره مشالونه

ترسوي چنار لاندې غلي غلي سترګکونه
انځور وو لکه ستا دسترګو یاره مشالونه

دمیني لیوني لکه چې تېر وو پدې پلونو
ذاکره ! لګېدل پردغه لاره مشالونه

هاد عزم

لوړ لوړ څلي

عبدالاحد حماد

مجاهد ده خدای دي مل شه
خدای دي نور هم ښایسته کړه

ته وا زما په فرمایش یې خدای جوړ کړی
دا غزل غزل ځواني دې نظر مه شه

ستا تر برندو سترګو ځار شم
په دې ارزې چې سپوږمۍ درپسې مره شي

چې غزل درپسې مات شي
چې شپیلۍ درپسې مره شي

د فطرت په لوړینه لا بسیا شې
لکه زه ستا ته هم هسې رنګ زما شې

په رقیب دې د غضب لینده شه ښه
مقدس د شعار غږ دې غلی مه شه

زما د توري حجرې یاره
عجیبه کمال دې وکړ

په ښایست دې زما زړه کړ درې وړې
په غضب دې شوله سپینه مانۍ ورانه

دغزا پیر

ابو بلال

په خوله څه نه وایو خو ویر زمونږ په زړونو کې دی
هاغه د سپینې غزا پیر زمونږ په زړونو کې دی

د بیلتانه غم دې په داسې تغر کښېنولو
سترګې موپټې وي شوګیر زمونږ په زړونو کې دی

چې یې نړۍ ته استقلال په نوي رنګ کې راوړو
ها د غیرت مینار امیرزمونږ په زړونو کې دی

نوربه نو کېږه باروي که خدای کوي دا رقیب
سپېڅلی عزم او تدبیر زمونږ په زړونو کې دی

د وخت غاصب او ستمګر مو اړولی نه شي
سپڅلې لاره پاک مسیر زمونږ په زړونو کې دی

اوس به هرګوټ ته دنړۍ ځي عمري لښکرې
په نړۍ واک غواړو تقدیرزمونږ په زړونو کې دی

څوک دي چې مخه کړي رابنده دغازي سمندر
چې دجهاد ښکلی بهیر زمونږ په زړونو کې دی

مؤحدین یو او غازیان یو وړاندې اخلو قدم
درنګین خوب ښکلی تعبیر زمونږ په زړونو کې دی

دخدای په مینه باندې مست حورو ته ځان رسوو
یو بادشاهان مزاج فقیر زمونږ په زړونو کې دی

(ابو بلال) به پل کیږدي د خپل رهبر په پلونو
دعقیدت یې یو تصویر زمونږ په زړونو کې دی

نوی قیادت نوي ازمېښتونه او مسؤلیتونه !!

(شاهد)

خبره به تبرکاً او د لیکنې سرلیک ته په کتو داسلامي امت دبزرګوار لارښود ،فقید او فقیر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی په هغه ننګ بخښوونکې او غیرت پالې وجیزې پیل کړم، چې کلونه مخکې یې د کندهار په عیدګاه کې داختر په ورځ لمونځ کوونکیو ته په خورا ډاډمنه لهجه او څرګندو الفاظو کې داسې ورغبرګه کړه چې ((زه به په خپله مشرۍ کې هیڅکله داسې کار ونکړم، چې راتلونکیو نسلونو ته پیغور شي)).

محترم امیرالمؤمنین پدې لنډې خو پر محتوی جملې سره، د دیپلوماتیکي چوپتیا او پس پسکو هغه کنګل چورلټ مات کړ،چې دشهید شیخ اسامه رح په باب په ولس او نړۍ کې پیدا شوی و،اسلامي امارت چې دتدبیر له مخې یې نوموړی شهید شیخ رح له مطبوعاتیانو څخه مصلحتاً ګوښه کړی وو او نړیوالو ددومره پرمختللې تکنالوژۍ سربیره بیا هم دده درک نه شوای لګولای او دافغانستان میشت اسامه رح یې کله دصومالیا ،بنګله دیش او کله دنورو افریقایي هیوادونو میلمه باله ، چې کله به یې دتجسس او څارګرې ادارې ټول پلټونکې وسایل دنوموړې په موندلو کې ناکام شول ،نو ویل به یې ،چې طالبانو ګوندې یا دا شیخ اسامه رح یا وژلی ، یا یې بندي کړي او یا یې له خپل هیواده شړلی دی ....نو هماغه و،چې دمحترم مشر ملاصیب له معنی ډکې دې جملې ټولو شکونو او شبهاتو ته منطقي ځواب ووایه او حقیقتاً یې هم نه تر پایه، دشهید شیخ اسامه رح او نه هم دبل کوم بهرني مجاهد په باره کې داسې مفتضحانه کار وکړ او نه یې پرې دډیرو مادیاتو په بدل کې هم پرې دکوم لویدیځ وال هیواد سره کومه پټه معامله وکړه، چې نن افغان ولس او طالبانو ته پیغور شي، بلکې دا هر څه یې دایمان په رڼا کې انجام کړل او یو بیلګه تاریخ یې خپل ولس ته په میراث کې پریښود!

د(۲۱) پیړۍ ددې عمر ثالث امیرالمؤمنین رح امارت او قیادت خو تقریبا دټولو مسلمانانو تر منځ متفق علیه او چاپې په هکله داسې کومه شرعي نیوکه نده کړي، چې ورته دځواب په لټه کې شو،بلکې دده غیور فقر ،مؤمنانه فراست ،قایدانه عواطف ،دافغانستان دخپلواکۍ سره بې کچه مینه ،دنړۍ دمظلومو مسلمانانو او مجاهدینو لاس نیوی،جهادي اتلواله ،دیرغلګرو پر وړاندې داستقامت او متانت تظاهر او ټولې هغه نیکمرغۍ

او دسعادت سبمولونه څښتن تعالی دهمده په قایدانه بدن کې ونغښتل او سړی داسې فکر کوي ،چې ګوندې الله ج همدا امیرالمؤمنین صیب ددومره ستر وسترو چارو دترسره کولو لپاره پیدا کړی و او همدا ددې سترو چارو دترسره کیدا ښه ممثل و اوبس !

رښتیا هم، چې د(۲۰۱۵ز) کال دجولای (۳۰)نیټه له اوښکو او ساندو نه ډکه ورځ وه او هیڅ مسلمان به نوي پاتې شوی، چې ددې بزرګوارمشراو لویي هستۍ په فراق به یې په ګریبان داوښکو رودونه نه وي بهولې ،له (۲۲)کلن اسلامي او جهادي قیادت نه وروسته افغان ولس داسې یوه ورځ هم ولیده چې هغه دنړیوالو په اصطلاح دصدراسلام غوندې داسلامي شریعت پلي کوونکی ملامحمد عمر مجاهدرح بالاخره له دې فاني دنیا وکوچید او یوه لویه تشه ،ستره ضایعه او دروند غم یې خپلو جهادي ملګرو او مسلمه امت ته په وراثت کې پرېښوده !!!

د روان(۲۰۱۵) زیږیز کال دجولای (۳۱) مه بیادافغانستان په تاریخ کې هغه ورځ وه ،چې داسلامي امارت دډیرو ناخوالو څخه بریالي راووت او دډیرو معکوسو آندونو او اټکلونو خلاف ددې صف وحدت او دبیلګې یووالې ورځ شوه ،په همدې ورځ داسلامي امارت درهبري شورى غړیو او علماوو په خپل تدبیر او معقولیت سره هغه څوک داسلامي امارت دزعامت مشرتابه لپاره وړ وباله، چې داسلامي امارت بنسټګر فقید مشر امیرالمؤمنین رح په خپل ژوندانه کې دڅان مرستیال ټاکلی و او همدا یې دامارت دمشرتابه لپاره مناسب بللی وو.

دنوي زعیم محترم ملا اختر محمد منصور صیب تعیین دډیرو کړیو شومې هیلې شنډې او دډیرو مغرضو عناصرو نا درست ارمانونه یې په سیند لاهو کړل، مخکښ ژورنالست (رحیم الله یوسفزی) په خپله یوه تازه لیکنه کې کاږي چې :

((....د ملا عمر په نشتوالي کې، ملا منصور د هغه د نومولي په توګه د څو کلونو لپاره د طالبانو مشرتوب کاوه او د ۲۰۱۳ له اپرېل وروسته چې ویل کېږي ملا عمر مړ شوی و، ملا منصور په عملي توګه د طالبانو مشر شو. له هغې راهیسې د طالبانو د غورځنګ تر ټولو لوړ تصمیم نیونکې مقام یا"د رهبرۍ شورا" په مشوره، ټولې پرېکړې د ملا منصور له خوا کېدلې.

ملا منصور چې د طالبانو د پېچلو سیاسي چارو اداره کولو او همدار راز په افغانستان کې د بغاوت په اړه بېسارې تجربه درلوده، د طالبانو د غورځنګ د نوي'' امیر'' یا مشر د دندې لپاره یې د هر بل سیال په پرتله پرېکنده برتري درلوده.

له همدې امله د حیرانتیا وړنه ده چې"د رهبرۍ شورا" یو لوې اکثریت، ۱۸-۲۰ غړو د ملاعمر د ځای ناستي په توګه د ملا منصور ملاتړ وکړ. ظاهرا، د طالبانو"موازي حکومت" والیانو، د جګړې د ډګر قوماندانانو او نورو مامورینو د یو لړ مراسمو په ترځ کې چې په افغانستان او پاکستان کې ترسره شول، ملا منصور سره بیعت وکړ.

څرنګه چې ملاعمر په خپله ملا منصور د خپل مرستیال په توګه غوره کړی و، د هغه ملاتړي استدلال کوي چې د ځای ناستي د مقام لپاره تر ټولو مناسب کس دی. هغوی باور لري چې د ملا منصور لیرې کول او پرځای یې یو بل کس د "امیر" په توګه ټاکل به د طالبانو پوځي مباره کمزورې او جنګیالي به یې بې روحې کړي.

که څه هم د طالبانو پلوي مشر، روحانیون د ملا منصور او سیالې ډلې ترمنځ د منځګړیتوب هڅې کوي، د ملا منصور پلوي ډله استدلال کوي چې ملا منصور ته د بیعت کولو پروسه بشپړه شوې ده او بېرته نشي راګرځول کېدای. ....)) .

خو هغه کار چې اسلامي امارت یې له درز ،نفاق او تیت وپرک کیدو څخه وژغوره ،دنوې زعیم په صفت د (محترم ملا اختر محمد منصور صیب) ټاکنه د ه ،نوموړی چې یو تجربه کار مشر ،سنجیده او دپوره حلم او زغم څښتن دی، امید شته ، چې ژر به کړای شي، چې دمشرملاصیب رح له وفاته وروسته راپیدا شوي اختلاف ته دخپل تدبیر او فراست په رڼا کې دپای ټکی کیږدي او دمشرملا صیب رح په خولو تویولواو ستړیاوو تاسیس شوی اسلامي امارت دپخوا په څیر پیاوړی او هیواد شموله کړي .

حقیقتاً پدې حساسو شیبو کې چې مجاهدین له یرغلګرو سره په جهاد بوخت دي ،داجباري سولې او اجباري تنازل ته اړویستلوعوامل تر پخوا ډیر شوي او ځینې حلقې چې نه غواړې افغانستان دجهاد له لارې فتحه شي او داسلامي امارت بیرغ په ارګ ورپیبږي ،شپه اوورځ لا لهانده او سرګردانه دي ،چې کومه داسې دسیسه طرح کړي ،چې داسلامي امارت قیادت (خدای ج مکړه) دجهاد له پرستیژ نه را کښته او دلویدیځ پاله اونام نهاده سولې لپاره یې دغربیانو په خیمه کې پرېپال میز باندې له غلامو ارګ میشتو سره کښینوي او دخپلو هوسونو سره سمې پریکړې ته یې اړ کړي ،چې له نیکه مرغه نوي قیادت په خپله ړومبۍ پرانستونکې ویناکې ،پدې ټولوپلان شویو دسیسو دبطلان کرښه راکش کړه اوداچې داسلامي امارت لپاره دجهاد په مسیر ټاکلو او دسولې دخبرو په عبث ګڼلو او دیموکراسي دنجات لاره نه انګیرل او داسې نور.... دقدرمن منصور صیب هاغه له معنی ډکې جملې وي، چې دابعادو په عمق کې دانصاف خاند ورڅخه داسلامي امارت دنوي زعیم تګلاره او پالیسي معلومولای شي اودمخالفینو ټولو هغو ګوتنیونو ته غاښ ماتونکی ځواب ویلای شي، چې بې له تحقیق او تعمق څخه یې دنوموړي په باب انګیرولي !

همداسې هیښوونکیو لحظاتو کې چې داسلامي امارت نوی قیادت دسولې خبرې ،دمجاهدینو دبریا رمز نه، بلکې دفتحې اسرار په جهادي مسیر کې نغښتې بولي ،په لوی لاس دځینو استخباراتي کړیو او دجهادي صف دنا سنجیده او جفاکارو خلکو لخوا په مطبوعاتي ډګرکې نا څاپه دمحترم امیرالمؤمنین دوفات خبر نشرول او دځینو حلقو په نغوته دې دسیسې ته دومره هوا ورکول، چې آن واشنګټن ،لندن ،پاریس او دکابل واکمنان یې هم تاکید او توثیق ته وهڅیدل،په ډاګه دروان جهاد خلاف هغه پلان شوي توطئه او دسیسه وه، چې طراحانو یې غوښتل، څو یې پایلو کې دروان جهادي قوت او شدت څپې نیمګړې کړي او لاس ته راغلې

فتوحات سبو تاژ کړي، خو لله الحمد، نوي قيادت او دمشر تابه شورى په خپل متين هوډ او دبيعت په تجديد سره دا هر څه تس نس کړل او ددښمنانو شوم اهداف يې نيمه خوا کړل .

اوس چې اسلامي امارت له يوه تاريخي پړاوه تيريږي او کړنې يې دتاريخ حافظې ته سپارل کيږي، وبه کتل شي ، چې دې حساسې موضوع ته مو دکومو عينکوڅخه کتلې دي ، او کوم رجحان دې ته اړويستې يو، خو اوسني حالات او وضعيت ښيي، چې داسلامي امارت څخه پدې تاريخ جوړونکيو وختونو کې ځان مرورول ،يا پرخلاف يې علني موضعګيري کول او يا پرې داسې نيوکه کول، چې داسلام دښمنان همدا نيوکه دځان لپاره استدلال ګرځوي ، داميرالمؤمنين له روح ،دزړګونو فدايانو د سرو وينواو داسلامي امارت له سپيڅلو اهدافو سره ستره جفا او داسې لوی خيانت دی، چې الله تعالی به يې ددوئ درسوايي او شرم سبب وګرځوي،ځکه اسلامي امارت نه کوم شخصي ملکيت او نه دچا جايداد دی ،او نه يو کس دوه کسو ګټلی او تاسيس کړی ،ددې امارت سره نه يوازې دافغانستان دخلکو او طالبانو بلکې دنړۍ دمسلمانانو هيلې تړلې دي او دنړۍ مظلومان ورته دخپل نجات لپاره لارې څاري ،چې څوک دې لاره کې دشرعي نظام او ديرغلګرو دنسکوريدومخه ډب کوي اودشهيدانو وارث امارت له فتحې را ايساروي، دټولوهغو بدبختيو او بدمرغيو سره به مواجه کيږي ،چې له امله يې ددومره لوی امت دنجات مخه نيسي !

دنوې قيادت په مسؤليتونو کې ټول هغه مقاصد اواهداف راځي، چې له امله يې قدرمن اميرالمؤمنين رح په پرديسۍ کې خپل روح لايزال څښتن ته وسپاره او ترپايه داسلام پر احکامو او شرعي اصولو نه له چا سره سودا ته چمتو شو ،نه يې چاته سر ټيټ کړاوپه يوازې ځان يې ترپايه په خپلو زخمي منګلو کې داسلام بيرغ سپين هسک وساته !

ددې سربيره چې اسلامي امارت ،له ورپيښو ستونزو او ازميښتونو څخه دادی ورځ تربلې دنجات خواته روان دی او لږه مسافه يا واټن يې منزل مقصود ته پاتي ده ،دنوي قيادت په مسؤليتونو کې راځي، چې کومو طالبانو چې دتحريک له پيل څخه داسلامي تحريک او بيا داسلامي امارت دباغ او بڼ په پاللواو سمسورولو کې لکه ديوه زهير ماليار غوندې رغنده نقش لوبولی، دصف څخه ليرې دخفګان او نهيلۍ په حالت کې پرينښدي ،بلکې ددوئ سابقې ته په کتلواودماضي قربانۍ په پام کې نيولو سره يې راضي او دامارت ليکي پرې پياوړي کړي ،توڅوداسلام ددښمنانو ټولې دسيسې خنثی شي او داسلامي امارت پراخه جغرافيه دټولو افغانانو او مسلمانانو ګډ کور شي !!

د مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد (رحمه الله) ژوندلیک

د روان ۱۴۳۲ هـ ق کال د شوال المکرم د میاشتې په څوارلسمه نیټه د اسلامي امارت د رهبري شورا او د محترم امیرالمؤمنین د کورنۍ لخوا د یوې اعلامیې په خپرولو سره رسما ومنل شوه چې د اسلامي امارت مؤسس او زعیم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد له دنیا څخه رحلت کړی دی.

د مرحوم امیرالمؤمنین د وفات خبر په هیواد او درسته اسلامي نړۍ کې پراخ انعکاس له ځانه سره درلود ،دنړۍ له گوټ گوټ څخه مسلمانو پرگنو ، مجاهدینو ، دین پالو او دین ته متعهدو ډلو او افرادو د اسلامي امارت د زعیم په وفات خپگان ښکاره کړ، د نوموړي روح ته یې دعاگانې وکړې او د نوموړي د حسناتو او کارنامو په یادولو سره یې خپل عقیدت څرگند کړ.

څرنگه چې د عالیقدر امیرالمؤمنین د ژوند او ژوندلیک موضوع اوس یو گرمه خبري سوژه گرځیدلې ده دې لپاره چې د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد د شخصي ژوند او مشخصاتو په اړه د یو شمیر دروغجنو لیکوالانو ، تاریخ لیکونکو او مغرضو حلقو د غلطو تبلیغاتو مخه نیول شوي او په دې برخه کې لیکوالانو او ټولو عامو خلکو ته یو وضاحت رامنځته شوی وي د عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله ژوندلیک په لاندې کرښو کې درته تقدیموو.

زوکړه او نشأت:

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د مولوي غلام نبي زوی، د مولوي محمد رسول لمسی او د مولوي باز محمد کړوسی، په کال ۱۳۳۹ هجري لمریز کې چې له ۱۹۶۰ میلادي سره سمون خوري د افغانستان د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ د چاه همت کلي په یوه متدینه او علمي کورنۍ کې وزیږېد. د ملا محمد عمر (مجاهد) والد مرحوم مولوي غلام نبي صاحب هم په همدې خاکریز ولسوالۍ کې دنیاته راغلی او د همدې سیمې په مختلفو دیني درسونو او دائرو کې خپلې دیني زدکړې ترلاسه کړې، چې بیا په یاده سیمه کې د تدریس او اسلامي دعوت په چارو کې د زیار او مصروفیت له امله د خلکو په منځ کې د یو ښه علمي او ټولنیز شخصیت په توگه وځلید.

د ملا محمد عمر (مجاهد) له زوکړې دوه کاله وروسته د هغه والد صاحب د کندهار له خاکریز ولسوالۍ څخه د دې ولایت د ډنډ ولسوالۍ د نودې کلي ته ولاړ او هلته د خپل ژوند ترپایه د سیمې د خلکو د دیني ښوونې او روزنې په چارو بوخت ؤ ، نوموړی په ۱۳۴۴ هجري لمریز کال کې چې له ۱۹۶۵ میلادي کال سره سمون خوري په همدې سیمې کې وفات او د کندهار ښار د طالبانو په پخوانۍ مشهوره هدیره کې خاورو ته وسپارل شو .

ملا محمد عمر (مجاهد) د خپل پلار له وفات وروسته د پنځه کلنۍ په عمر له خپلې کورنۍ سره د کندهار له ډنډ ولسوالۍ څخه د اروزگان ولایت د دهراود ولسوالۍ ته ولیږدیده او هلته یې د خپلو ترونو هر یو مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه تر سرپرستي لاندې د ژوند لومړنۍ مرحله پیل شوه.

زدکړه اوتعلیم:

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) په اته کلنۍ کې د دیني علومو د ترلاسه کولو لپاره د روزګان ولایت د دهراود ولسوالي د شهرکهنه سیمې ابتدايي دینې مدرسې ته شامل شو. ددغې مدرسې سرپرستي هم د ملامحمد عمر (مجاهد) د تره مولوي محمد جمعه لخوا ترسره کیده او ملا محمد عمر (مجاهد) هم لومړنۍ دیني زدکړې له نوموړې ځخه پیل کړې.

د ملا محمد عمر (مجاهد) دواړو ترونو په تیره مولوي محمد انور د نوموړي په دیني روزنې او پالنې کې خاص رول ترسره کړ.

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د خپل شرعي تعلیم لومړنۍ او متوسطه دوره په همدغه مدرسه کې په بریالۍ توګه پای ته ورسوله او اتلس ۱۸ کلنۍ ته له رسیدو سره یې په افغانستان کې د مروجه لوړو شرعي زدکړو په تحصیل پیل وکړ، خو د شرعي لوړو زدکړو د تحصیل مرحله یې په کال ۱۳۵۷ هـ ش ـ ۱۹۷۸ م په افغانستان کې د کمونستانو د واک ته رسیدلو له امله نیمګړې پاته شوه.

کورنۍ:

له قبیلوي اړخه د ملا محمد عمر (مجاهد) تعلق د پښتنې قبیلې هوتکو په تومزي قوم پورې دی.

هوتک د پښتنې قبیلې یو لوی شاخ ، او هوتکیان د معاصر افغانستان په تاریخ کې د نومیالي اسلامي شخصیت حاجي میرویس خان هوتک په څیر اسلامپال، مدبر، ملي او جهادي اتلان لري.

سترغازي حاجي میرویس خان هوتک رحمه الله چې افغانان یې احتراما د میرویس نیکه په ویاړلي لقب یادوي په کال ۱۰۸۸ هـ ۱۷۱۲ م افغانستان له صفوي ظالمانه واکمنۍ ازاد ، او د افغانانو لپاره یې په کې د یوه خپلواک مقتدر اسلامي حکومت بنسټ کیښود.

د ملا محمد عمر (مجاهد) کورنۍ له مسلکي اړخه ټول علماء او د دیني علومو مدرسین دي. هغوی خپل ټول ژوند د الله تعالی د دین خدمت، د شرعي علومو تدریس او د مسلمانانو دیني اوفکري روزنې ته وقف کړی، له همدې امله یې په خپله سیمه کې خورا زیات مقبولیت درلود او په معنوي لحاظ د ټولنې تر ټولو باوقاره او اجتماعي حیثیت لرونکي اشخاص پیژندل شوي دي. د دا ډول علمي او روحاني کورنۍ په ماحول کې د ملامحمد عمر(مجاهد) پیدا ینبت او بیا د خپلو علمي او فکري مربیینو (پالونکو) ترمستقیمې پالنې لاندې د هغه نشونما په جهادي او فکري لحاظ نوموړي ته د دې صلاحیت وروباښه چې د افغاني ټولنې د نورو افرادو په منځ کې د یو مخلص، مجاهد ، زړه سواند ، با احساسه، اسلامي او ملي شخصیت په توګه راڅرګند او په خپلو جهادي او اصلاحي هڅو سره خپله ټولنه د فساد ، ظلم اوبې عدالتۍ او ګران هیواد افغانستان د حتمي تجزیې له شره وژغوري .

د مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) جهادي کورنۍ، ورونه او ترونه ټول مجاهدین او تر اوسه پورې یې د خپلې کورنۍ څلورتنه شهیدان شوي دي.

په افغانستان باندې د امریکایي یرغل په لومړۍ ورځ ۱۳۷۹/۲/۱۵ـ۲۰۰۱/۱۰/۷ د ملا محمد عمر (مجاهد) تره ملا محمد حنفیا لومړنی شخص وو چې د امریکایي یرغلګرو په بیرحمانه هوایي برید کې په شهادت ورسید.

جهاد او مبارزه:

مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر (مجاهد) د خپل ژوند دریمې لسیزې ته لا نه وو ور داخل شوی چې په افغانستان کې کمونستانو د پوځي کودتا له لارې واک ترلاسه کړ. دا هغه وخت و چې نور نو د ملا محمد عمر (مجاهد) په څیر د هیواد ټولو زده کوونکو ته د خپلو دیني زده کړو استمرار ناشونی ښکاریده؛ ځکه د ملحدو کمونستانو لومړنۍ مقابله د ټول هیواد په

کچه له علماوو، طالبانو، محصلینو او مسلمانو منورینو سره وه، هماغه ؤ چي ملا محمد عمر (مجاهد) هم اړینه وبلله چي خپلې لوړې ديني زدکړې نیمګړې پرېږدي او د خپل شرعي مسؤلیت د ترسره کولو لپاره له مدرسې څخه د جهادي جبهې په لوري مخه کړي.

هماغه و چي نوموړي خپل جهادي بهیر د روزګان ولایت د دهراود په ولسوالۍ کې د حرکت انقلاب اسلامي په تنظیم کې پیل کړ. په دغې ولسوالۍ کې له څه وخت تیرولو وروسته نوموړی د روزګان ولایت په کچه د یوه پیژندل شوي زړور جهادي شخصیت په توګه مطرح او د دغه ولایت په بیلا بیلو برخو کې یې د کمونیستانو په وړاندې په متعددو پوځي عملیاتو کې فعال رول ترسره کړ؛ هماغه ؤ چي نوموړي د دغه جهادي شهرت او په جهادي عملیاتو کې د موفقانه رول له امله په مجاهدینو کې دومره مقبول او ومنل شو چي کله په هغه وخت کې د دهراود په ولسوالۍ د مختلفو سیمو د مجاهدینو له لوري پراخ تعرضي عملیات ترسره کیدل نو ملا محمد عمرمجاهد په همدې عملیاتو کې د ټولو مجاهدینو په خوښه د مختلفو جبهاتو د مجاهدینو مشر او تعرضي قومندان وټاکل شو او ښه موفق عملیات یې ترسره کړل چي په همدي عملیاتو کې نوموړی په لومړي ځل زخمي هم شو ،نوموړي تر دریو کالو زیات وخت د خپلې سیمې د مجاهدینو سره د یرغلګرو روسانو او کمونستانو خلاف په ډیرو مخامخ جګړو کې ګډون وکړ.

دمرحوم ملا محمد عمر مجاهد د جبهې ملګري او مشران وايي چي ملا محمد عمر اخند په هغه وخت یعنې د جهاد په پیل کې سره له دې چي عمر یې کم وو خو د هر ډول مسئولیت او کار د ترسره کولو استعداد او صلاحیت یې درلود او د ډیر ښه صحت او قوت خاوند ؤ.

وروسته په کال ۱۳۶۲ هش ۱۹۸۳ میلادي کې له خپلو جهادي ملګرو سره د جهادي فعالیتونو د انسجام په غرض د کندهار ولایت میوند ولسوالۍ ته ولاړ او هلته یې د حرکت انقلاب اسلامي د تنظیم د مشهور جهادي قومندان فیض الله اخند زاده په جبهه کې د روسي یرغلګرو او د هغوئ د کمونستي تالي څټو په خلاف وسله وال جهاد ته دوام ورکړ. په کندهار ولایت کې هم په بې شمیره جهادي عملیاتو کې د نوموړي د موفقانه رول او په پوځي تکتیکونو کې د ښې وړتیا او شهرت له کبله د سیمه ییزو جهادي قومندانانو په کچه د وخت د جهادي تنظیمونو د پاموړ وګرځید او د مرحوم مولوي محمد نبي محمدي په مشرۍ د حرکت انقلاب اسلامي د تنظیم لخوا د مستقلې جهادي جبهې مسؤلیت ورته وسپارل شو.

له کال ۱۳۶۲هـ ش ـ ۱۹۸۳ م تر ۱۳۷۰-۱۹۹۱ پورې ملا محمد عمر (مجاهد) د کندهار ولایت د میوند، ژړۍ، پنجوایي او ډنډ ولسوالیو په مربوطاتو کې چې د شوروي قواوو په ضد د جهاد مهم مرکزونه وو او نږدې هره ورځ به یې مجاهدین له دښمن سره په جګړه بوخت وو همدارنګه د زابل په ولایت کې د شهرصفا او مرکز قلات مربوطو سیمو کې د کابل ـ کندهار په لویه لاره د روسي یرغلګرو په خلاف ډیر موفقانه عملیات ترسره کړل چي په ټولو هغو کې شخصا په مستیقمه توګه سهیم ؤ. د ملا محمد عمر (مجاهد) تر ټولو خوښه کړای شوې وسله د روسي جنګي شوبلو (ټانګونو) په ضد استعمالیدونکې خورا مؤثره وسله «R.P.G.7» توغندی و چې د مجاهدینو په مینځ کې به راکټ بلل کیده او ده یې په ویشتلو کې ځانګړې مهارت درلود، د یادوني وړ ده چي کندهار په ځانګړي ډول د میوند، ژړۍ او پنجوایي سیمي د کمونیزم خلاف جهاد کې هغه سیمي وې چې د روسانو د ماتې او شکست محوري نقطې بلل کېدې په دې سیمه کې د کندهار هرات په لویه لاره د کمونستانو دومره زیات ټانګونه او نورو وسایط تخریب شوي و چې د سرک پر یوه او بله غاړه دښمن د هغو سوځول شویو ټانګونو او پوځي وسائطو دیوالو نه وهلي و څو د مجاهدینو له بریدونو څخه ځانونه پرې وساتي.

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) له روسانو سره د جهادي عملياتو په مخامخ نښتو کې څلور ځله ټپي شوی و او په وروستي ځل ټپي کیدو کې يې خپله ښۍ سترګه هم له لاسه ورکړې وه.
ملا محمد عمر مجاهد د کندهار او همجوارو ولایاتو په سطحه د شوروي یرغلګرو او داخلي کمونیستانو په ضد د جهاد یو وتلی او مخکښ قوماندان پیژندل کیده، چې په خورا ډیرو جهادي عملیاتو کې يې ټاکونکې ونډه او رول درلود، دلته به د نوموړي د روس ضد جهاد مهال د ملګرو له قوله یو څو خاطرې او یادونې د بیلګې په توګه رانقل کړو:
۱ –د کندهار په ولایت کې د دښمن یوه خورا محکمه پوسته وه چې د بدوانو پوسته يې ورته ویله د دې پوستې سره دښمن په خورا حساس او حاکم ځای کې ټانګ درولی وو چې له انداخت کولو يې مجاهدین ډیر په تکلیف وو ډیرو مجاهدینو څو ځله کوښښ وباندې وکړ چې دا ټانګ وولي او مجاهدین يې له شره خلاص کړي خو له بیا بیا هڅو سره سره يې کوم مجاهد په ویشتلو بریالي نشو بالاخره د سیمې مجاهدینو له سنګ حصار نه د مرستې لپاره ملا محمد عمر مجاهد راوغوښت او همدا ټانګ چې د بدوانو د پوستي په ټانګ يې شهرت موندلی وو ملا محمد عمر مجاهد د خپل آر پي جي راکټ په توسط په نښه او له منځه یوور چې دا په هغه وخت کې مجاهدینو ته خورا ستره لاسته راوړنه وه.
۲ –له روسانو سره د جهاد په دوران کې د کندهار د محله جات په سیمه کې په یوه مخا مخ جګړه کې چې د کندهار یو تن بل وتلی او غښتلی مجاهد شهید ملا عبید الله اخند چې وروسته يې د اسلامي امارت د دفاع وزیر او د امریکا تر یرغل وروسته د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د نائب په توګه دنده ترسره کوله هم ورسره ملګری و، د دښمن دومره ټانګونه او موټر وسوځول چې په سبا ورځ له لیري نه کتونکو خلکو چې دا سوزول شوی کتار لید نو ګمان يې کاوه چې قوه اوس هم ولاړه ده، حال دا چې د قوي زیات موټر سوزول شوي او نور يې بېرته خپلو مرکزو ته په شا شوي وو.
۳ –د روس ضد جهاد په مهال د کندهار-هرات په لویه لاره د ژړۍ ولسوالۍ د سنګ حصار په سیمه کې د روسانو ټانګونه تیریدل ملا محمد عمر مجاهد چې ملا برادر اخند (چې بیا د اسلامي امارت نا ئب شو) هم ورسره و، د روسانو په قوه د برید لپاره یوازې د راکټ څلور ګولۍ (مرمۍ) ورسره وې دوی له همغو څلورو ګولیو سره د دښمن په کتار جنګ شروع کړ چې په ترڅ کې يې په همدې څلورو مرمیو د دښمن څلور ټانګونه وویشتل.
۴ –ملا برادر اخند چې له مرحوم ملا محمد عمر مجاهد سره په جهادي دوره کې نږدې پاتې شوی وايي چې ملا صاحب دومره زیات روسي ټانګان ویشتلي چې د کثرت له امله يې له ملګرو څخه شمیر ګډوډ وو چې ټول به څومره وو.
په کال ۱۳۷۱هـ ش، ۱۹۹۲ز کې د نجیب د کمونستي واکمنۍ له سقوط او په هیواد کې د تنظیمي جګړو له پیلیدو سره سم ملا محمد عمر (مجاهد) هم د نورو رښتینو مجاهدینو په څیر وسله له اوږې کوزه او په خپله جهادي سیمه کندهار ولایت، د میوند ولسوالۍ د سنګ حصار د ګیشانو کلي د حاجي ابراهیم د مسجد ترڅنګ يې یوه دیني مدرسه جوړه او په همدې مدرسه کې میشت شو او له ۱۴ ستونزمنو جهادي کلونو وروسته يې د خپلو څو تنو جهادي ملګرو په ملتیا د خپلو نیمګړیو شرعي زدکړو په پوره کولو بیا پیل وکړ.
دا هغه مهال ؤ چې د پلازمېنې کابل په شمول ټول هیواد تنظیمي بې هدفه جګړو په سرا خیستی ؤ، د ځینو تنظیمي جګړه مارانو د شخصي غرضونو او هوسونو د ترلاسه کولو له امله د مقدس جهاد سپیڅلي آرمانونه نیمګړي او د افغان مسلمان ولس د یو نیم میلیون شهیدانو پاکې هیلې همداسې تر پښو لاندې وې.

د فساد په وړاندې پاڅون او د اسلامي امارت تأسیس:

د کمونیستي رژیم له سقوط وروسته د دې په ځای چې اسلامي نظام تاسیس شي او په دې توګه د مجاهد ملت د کلونو کلونو ارمان پوره شي، خپل منځي جګړې پیل شوې، واقعي مجاهدین د یوې منظمې د سیسې له مخې ضعیفه او یا هم بیخي له صحنې وایستل شول، ځینو پخوانیو مجاهدینو هغه کمونیستان چې باید محاکمه شوي وای په څنګ کې ورسره ونیول او ځینو نورو په منظمه توګه د ولس په لوټلو، بې آبه کولو او د وطن په چور تالان پیل وکړ.

په دې توګه په درست هیواد کې د هرج ومرج یو داسې تور دوران راغی، چې شاید پخوایي افغانانو نمونه او بیلګه نه وي لیدلې، د مؤمنو هیوادوالو سر، مال او ناموس هره شیبه له ګواښ سره مخامخ و، د هیواد په لارو او سرکونو د خودسره، جاهلو او پست صفته ټوپکیانو ځنځیرونه او پاټکونه خپاره شول، چې هر یوه د خپل مزاج موافق له بې وسه هیوادوالو نه یوازې پیسې اخیستې، بلکې د هیوادوالو په عزت او ناموس یې هم صرفه نه کوله، د هیواد د ملي شتمنیو، مادي او معنوي پانګو، د جهاد د غنائمو او حتی د هیواد د ځنګلونو او کانونو داسې بې رحمانه چور تالان پیل شو، چې پخوا یې کله هم بیلګه نه وه لیدل شوې، مؤمن اولس چې څوارلس کاله یې جهاد کړی و نه تنها دا چې د جهاد ثمره یې د ضیاع له خطر سره مواجه وه، بلکې ورځنی ژوند یې هم له خطر سره مخامخ و.

د هرج ومرج د فتنې له امله ټولنیز فساد، قتل وقتال، چورتالان، ظلمونه، وحشتونه او د مسلمانانو رنځونه هره شیبه په ډېریدو و، چې دې حالت ربښتیني مجاهدین هغوی چې د افغان مؤمن اولس د سوکالۍ، ازادۍ او سرلوړۍ لپاره یې مبارزه کړې وه سخت ځورول.

ارواښاد ملا محمد عمر مجاهد چې دغه مهال له خپلو مجاهدو ملګرو سره د کندهار په میوند ولسوالۍ کې اوسیده، د نورو واقعي مجاهدینو غوندې د دې حالاتو لیدلو دی هم ډېر زیات اندیښمن کړی و نو موړي لیدل چې د کندهار - هرات په لویه لاره ګام په ګام پاټکونه جوړ شوي او ټوله ورځ د هیواد مظلوم مسافر، ښځې او سپین ږیري د بد اخلاقه ټوپکیانو په لاس لوټل کیږي، بې آبه کیږي او وژل کیږي، باید ووایو چې دغه مهال په کندهار کې پاټکونه دومره زیات شوي و، چې د هیواد تجارانو چې له هرات څخه به یې د کندهار د سپین بولدک ولسوالۍ د ویش باډر ته مالونه راوړل، ددې په ځای چې په عمومي لاره خپل مالونه انتقال کړي د ډېرو پاټکونو له امله یې له هرات څخه راوړي تجارتي اموال په میوند کې ښکته کول او د ریګ له لارې یې په دښتو کې په ډېرو تکلیفونو تر ویش پورې رسول تر څو د پاټکوالوله شره خوندي وي.

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله او دده مجاهدو ملګرو ته د کندهار ښار وضعیت هم ورمعلوم و، چیرته چې خود سره ټوپکیانو ښار کوڅه په کوڅه تر خپل منځ ویشلی و، د بیت المال ملکیتونه یې مسلسل غصبول او په نغدو پیسو یې پلورل او په دولتي ځمکو یې شخصي مارکیټونه جوړول، په دې سربیره یې تر خپل منځ همیشه جګړې کولې چې ترمنځ یې اولس ځپل کیده.

همدې بې پایه ناخوالو واقعي مجاهدین اړ کړل چې د فساد د ورکولو او د مسلمانانو د سر او مال د تحفظ په خاطر خپل وس وکړي، مجاهدینو تر خپل منځ مشورې او غونډې پیل کړې، ملامحمد عمر مجاهد او ملګرو یې خپله لومړنۍ غونډه د پنجوایي ولسوالۍ د زنګاوات په سیمه کې د سیمې له مشهورو او پیژندل شویو علماء کرامو سره جوړه کړه، د روس ضد جهاد په مهال د کندهار د مجاهدینو د عمومي قاضي مولوي سید محمد صاحب (چې په مولوي پاسني صاحب یې شهرت موندلی و) په مشرۍ د علماء کرامو دې غونډې ملا محمد عمر مجاهد ته وویل چې باید د فساد په ضد قیام وکړي او دوی ټول یې ملاتړي دي، له همدې غونډې څخه ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي تحریک اساس کیښود او د ۱۴۱۵ هـ ق کال د محرم الحرام ۱۵ نیټه د فساد او ګډوډۍ په ضد یې د مبارزې بنسټ کیښود.

د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ اسلامي تحریک د فساد د مخنیوي په خاطر مبارزه پیل کړه، چې د اولس او ربښتنیو مجاهدینو له پراخ هرکلي سره مخامخ شوه، لومړی یې کندهار ولایت او ورپسې یې د افغانستان زیاتې سیمې له بې بندوباره او فاسدو ټوپکیانو تصفیه کړې، هغه مهال چې د هیواد ډیرې سیمې د طالبانو تر تسلط لاندې راغلې وې د ۱۴۱۲ هق کال د ذوالقعدې میاشتې په ۱۵ مه نیټه د افغانستان د علماء کرامو یو لوی ټولې چې شمیر یې تر ۱۵۰۰ زیات و، په کندهار کې یې د یوې غونډې په دائرولو سره د ملامحمد عمر مجاهد امارت تائید او نوموړي ته یې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ، د ۱۳۷۵ هش کال د میزان میاشتې په شپږمه نیټه د افغانستان پلازمینه کابل هم د اسلامي امارت تر تسلط لاندې راغله چې ورپسې د افغانستان د ټولو مرکزي او شمالي سیمو په شمول د هیواد په ۹۵ فیصده خاوره د اسلامي امارت حاکمیت ټینګ شو.

د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت په افغانستان کې د شریعت په اساساتو ولاړ اسلامي نظام رامنځته کړ، له اوږده ځنډ وروسته یې یوځل بیا نړۍ ته د اسلامي نظام ژوندۍ بیلګه وړاندې کړه، هیواد یې له تجزیې وژغوره او هم یې د بې مسؤلیته کسانو نه د بیت المال اسلحې را ټولې کړې او یو بې مثاله امن یې راووستدا په داسې حال کې چې ټوله نړۍ د ملل متحد په شمول دغه کار ته بې وسه او وارخطا وه خو نړیوال کفري مستکبرینو دا شریعت او امارت ونه شو زغملی نو ځکه یې په وړاندې دښمنانه دریغ خپل کړ او بې ځایه بهانې یې ورته لټولې ترڅو یې په پای کې ورباندې په ګډه پوځي برید وکړ.

د ملا محمد عمر (مجاهد) قیادي شخصیت:

ملا محمد عمر (مجاهد) د یو قیادي شخصیت په توګه د ځانګړي طبیعت او سلیقې څښتن دی.

نوموړي د نړۍ د نورو چارواکو او لوړ رتبه مشرانو برعکس له ځان ښکارونې او تظاهر څخه کرکه درلوده، له اړتیا پرته یې خبرو کولو ته چنداني لیوالتیا نه ښوده، خو د ضرورت په وخت کې یې خبرې بیا ډیرې پخې، سنجول شوې او معقولې وې. د بیلګې په توګه په افغانستان باندې د امریکایې یرغل په پیل کې چې د امریکا یانو له لوري د اسلامي امارت د له منځه وړلو او په تبلیغاتي لحاظ د مجاهدینو د مورال کمزوري کولو لپاره امریکایې هڅې ډیرې ګړندۍ روانې وې او ټولې غربي رسنۍ، راډیویي او ټلویزوني شبکې ورته وقف وې.

ملا محمد عمر (مجاهد) د دغو ټولو شیطاني تبلیغاتي هلو ځلو په وړاندې په خورا مطمئنه او ډاډه روحیه سره په خپلو عام فهمه او ساده خبرو کې خپل ملت ته د اطمنان او ډاډ ورکولو داسې معنا لرونکی پیغام ورکړ: «الله تعالی په هرڅه قادر دی په الله تعالی باندې د امریکا او د یوه میږي (میږتون) د قدرت هیڅ فرق نشته امریکایان او د هغوئ ملګري دي دا خبره په غور سره واوري چې اسلامي امارت داسې نظام نه دی چې امیر به یې لکه ظاهر شاه (د افغانستان پخواني پاچا) غونډې روم ته ولاړشي او عسکر (افراد) به یې تاسو ته تسلیم شي، بلکې دا د جهاد منظمې جبهې دي.

که تاسو ښارونه او پایتخت لاندې او اسلامي حکومت رنګ هم کړئ زمونږ مجاهدین به وطنونه او غرونه درته ونیسي بیا به تاسو څه کوئ؟ بیا به لکه د کمونستانو غونډې په هرځای کې وژل کیږئ!

تاسې پوه شئ چې ګډوډي رامنځ ته کول اسانه ده خو بیرته د ګډوډۍ له منځه وړل او نظام جوړول خورا ګران کار دی، مرګ حق دی او هر چاته راځي نو چې د امریکا په ملګرتیا کې د بې ایمانۍ او بیغیرتۍ په حالت کې وي دا به ښه وي او که په اسلام کې له ایمانه سره د غیرت په حالت کې به ښه وي.

ښایي په هغه وخت کې د مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) په دغه عقیدوي وینا د ډیرو ښاغلیو پوره سرنه وي خلاص شوی، خو اوس چې د دغې نا انډوله حیرانوونکې معرکې له پیل نه قریب څوارلس کاله تیریږي او د امریکایانو په شمول د ناټو

ترون او د هغوی ټول ایتلافیان د ملا محمد عمر (مجاهد) د تش لاسو عقیدوي مجاهدینو په مقابل کې له ښکاره ماتې سره مخامخ دي، د نوموړي د هماغې تاریخي وینا په حقیقت به یې سرخلاص شوی وي.

دغه راز نوموړي د امریکایي یرغل په پیل کې افغان ولس ته د یوې راډیویي وینا په ترڅ کې یرغلګرو او د هغوئ ګوډاګیانو ته په اشارې سره وویل چې: «وسلې مرګ کولای شي ، خو مرګ ګرځولی نشي» یاده شوې جمله همغه مهال ځینو ته یو بې مفهومه ترکیب ښکاریده، خو دادی په تېرو دیارلسو کلونو کې د یاد مضمون عیني مصداق نړیوالو د سر په سترګو ولید چې یرغلګرو ځواکونو د خپلې پرمختللې ټیکنالوژۍ او وسلو په زور ډېر مرګونه وکړل خو له ځانه یې مرګ ونشو ګرځولی او په تیره لسیزه کې د ملا محمد عمر (مجاهد) په مشرۍ د اتلو مجاهدینو په لاس ووژل شول، ژوبل شول او شکست ته مجبور کړای شول،او دا یو عیني واقعیت دی چې اوس په پرمختللو وسلو او تجهیزاتو سمبال مغرور یرغلګر ځواکونه هم په افغانستان کې د خپلو زرګونو پوځیانو د مرګ ژوبلې ښکاره اعترافونه کوي.

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) نظر درلود چې تر ډیرو ویلو لړ عمل کول ارجحیت لري، د نوموړي ژوند له تکلفي تشریفاتو ډیر صفا او پاک و ، سادګي او بې تکلفه حالت یې د ژوند په ټولو اړخونو احتوا کړې وه، ساده لباس، ساده خوراک، بې تکلفه خبرې، بې تکلفه ناسته ولاړه یې فطري عادت و ، تکلف، متکلفین او متکلفانه کړه وړه یې هیڅ نه خوښیدل.

نوموړي قاطع والی، تدبر او اخلاص د کارونو د پرمختګ له اساساتو څخه باله او د ملګرو له منځه یې هغه څوک ډیر خوښیدل چې مدبر اخلاصمند او جدي به وو.

همدارنګه نوموړي له مشکلاتو ، مصیبتونو او کړاونو سره ښه ځان عادت کړی و ، د هر ډول لویې حادثې او مشکل پیښیدلو په مقابل کې یې وضعیت کاملا عادي و ، ویره او وارخطایي یې په زړه کې نه ورتیریده. د خوښۍ او مصیبت، کامیابۍ او ناکامۍ په مهال کې یې پرخپل ځان خورا ښه کنترول درلود او مطمئن به و .

د علماوو او مشرانو یې ډیر درناوی کاوه، سنګیني، وقار، حیاء، ادب، متقابل احترام ، خواخوږي، ترحم او اخلاص یې طبیعي خصلتونه و ، کلک عزم او په ټولو کارونو کې په یوه الله توکل او د هغه په مقدراتو ریښتونی باور یې د ژوند ځانګړې مشخصات و.

همدا لامل دی چې ملا محمد عمر (مجاهد) د خپلو لارویانو او مجاهدینو په زړه کې داسې محبوبیت پیدا کړی و چې د هغه تعلق نه په ظاهري منصب پورې و او نه په مادي امکاناتو پورې، د امریکایي یرغل په خلاف د جهاد په کلونو کې د هغه تر مشرۍ لاندې عام مجاهدین ماسوا له دې چې هغه مخامخ ووینې یوازې د هغه شفاهي او مکتوبي اوامرو ته په داسې احترام قائل وو ، چې د تعمیل لپاره یې آن د خپل سر په قربانولو هم باک نه کاوو.

د نړیوالو اسلامي قضایاو په اړه یې اهتمام:

ملا محمد عمر (مجاهد) د طالبانو د اسلامي تحریک د مؤسس او د مسلمانانو د یوه مشر په حیث د اسلامي امت د قضایاوو په اړه خاص اهتمام درلود .

د مسلمانانو د لومړي قبلې مسجد اقصی او د فلسطیني مسلمانانو له برحقې داعیې او د نړۍ په لر او بر کې له داسې نورو اسلامي قضایاوو نوموړي همیشه دفاع کوله او نوموړی له غاصبو صهیونستانو څخه د مسجد اقصی ازادول د هرمسلمان شرعي مسؤلیت ګاڼه.

مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي امت په درد دردمند مشر و ، او له مسلمانانو ورڼو سره اخوت، همدردي ، ایثار او همکاري یې یوازې شعاري نه بلکې عملا یې هم همیشه ثابته کړې وه .

عقيدوي او فکري انتماء:

ملا محمد عمر (مجاهد) په عقيدوي او فکري لحاظ د مسلمانانو د اهل السنة والجماعة د منهج لاروی او د حنفي مذهب مقلد و.

د خرافاتو او بدعتونو سخت مخالف و، د مسلمانانو ترمنځ يې مذهبي، فکري او تنظيمي اختلافات هيڅ نه خوښيدل. خپلو مجاهدينو او ټولو مسلمانانو ته په خپلو منځونوکې د اسلامي وحدت او فکري همغږۍ په ټينګولو توصيه او ټينګار کاوی، د مسلمانانو ترمنځ عقيدوي وحدت او يو والی يې د وخت تر ټولو اهم ضرورت باله، د قرآن او حديثو په رڼا کې د سلف صالحينو او ائمه مجتهدينو په نقش قدم رفتار کول يې د اسلامي امت د نجات يوازينی لامل باله

شخصي ژوند:

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) چې د ژوند زياته برخه يې د ديني علومو په زده کړه او مطالعه، جهاد، دعوت او د اسلام د لارې په خدمت کې تيره کړې د افغانستان د معاصرو چارواکو په جمله کې شايد تر ټولو نيستمن او د بيت المال له شتمنيو څخه نه استفاده کوونکی شخص وبلل شي؛ ځکه نوموړي نه د تيرجهاد په مهال له خپل جهادي نفوذ څخه په استفادې سره د خپل شخصي ژوند د برابرولو په اړه څه کړي او نه يې په افغانستان باندې د امارت د «۷» کلنې سرتاسري واکمنۍ په مهال کې، مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د وفات تر وخته نه کوم د اوسيدلو عادي کور په ملکيت کې درلود او نه هم د بهرنيو هيوادونو په بانکونو کې نغدي شتمنۍ.

په کال۱۳۷۸هش ۱۹۹۹م کې چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا له لورې په افغانستان باندې ظالمانه يو طرفه اقتصادي بنديزونه ولګيدل او په بهرنيو بانکونو کې د طالبانو د مشرانو د مالي حسابونو د کنګل کيدلو حکم وشو، مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د افغانستان د اسلامي امارت د امير په توګه د امارت تر ټولو لوړ رتبه شخص ؤ چې نه يې د افغانستان په داخل کې او نه له افغانستان نه بهر په کوم بانک کې نه په خپل شخصي او نه هم په مستعار نوم مالي حساب درلود.

د امارت د حاکميت په مهال چې د نوموړي استوګنځی د دښمنانو له لورې تر مرګونو بريدونو لاندې راغي او د فاميل د نږدې افرادو په شهادت سربيره د ګڼو نورو کسانو د شهادت لامل هم وګرځيده، نو د امارت ځينو چارواکو د نوموړي د حفاظت په مقصد د کندهار ښار په شمال لويديځ کې د باباصاحب د غره د کوتل لاندې سيمه کې چې نږدې خوا و شا يې کومه ولسي ابادي نه وه د نوموړي لپاره يو استوګنځی او د اسلامي امارت د مقام دفتر جوړ کړ، چې هغه هم د تصرف په لحاظ د بيت المال له عمومي ملکيتونو څخه ګڼل کيده نه د نوموړي شخصي ملکيت.

په کال ۱۳۷۵- هش ۱۹۹۶م کې چې کله د هيواد د يونيم زر علماوو او مخورو له لورې نوموړي ته د اسلامي امارت د امير لقب ورکړل شو نوموړي ددې په ځای چې د امارت د ورسپارلو له امله د خوښۍ احساس وکړي دومره وژړل چې خپل د اوږې لوې څادر يې په اوښکو لوند او د غونډې په پای کې يې حاضرو علماوو ته په خپلې تاريخي وينا کې داسې وويل: «اې علماوو! تاسو د خپل شرعي علم له مخې د حضرت رسول اکرم ص د وارثانو حيثيت لرئ، تاسو چې نن ما ته دغه درووند مسؤليت په اوږو را واچاوه په حقيقت کې د هغه د استقامت او انحراف مسؤليت ټول ستاسو په غاړه دی!

ای زموږ استاذانو درنو علماوو! که خدای مه کړه له موږ څخه د مسلمانانو په دې ستر امانت کې څه تقصير او انحراف پيښيږي د هغه سمونه او اصلاح ستاسو شرعي مسؤليت دی، تاسو به د خپل شرعي علم په رڼا کې دي طالبانو ته د استقامت او په حقه لاره د تللو حتمي لارښوونه کوئ، که چيرې له دې طالبانو څخه د اسلامي احکامو د تنفيذ په اړه کوتاهي يا انحراف

رامنځته کیږي او تاسو هغه وینئ او د اصلاح په اړه یې څه نه وایاست د هغې پړه به د الله په نزد ستاسو په غاړه وي او زه به د سوال ځواب په ورځ ستاسو ګریوان ته لاس دراچوم «.

طبیعت اوشخصي مزاج:

ملا محمد عمر (مجاهد) د خپلې خاموشي ترڅنګ یو ډول خاص ظرافت او خوش طبعي هم درلوده نوموړي په هیڅ باندې که څه هم په هر لحاظ تر ده کشر وي ځان لوړ نه ګاڼه، له خپلو ملګرو سره یې برخورد ډیر مینه ناک، صمیمانه، باشفقته او له متقابل احترامه ډک و، په مجالسو کې یې زیاتره د جهاد په اړه بیانونه کول.

له امریکایي یرغل وروسته

له امریکایي یرغل وروسته ستونزمنو امنیتي شرایطو او د دښمن له لوري سخت جدي تعقیب د مرحوم ملامحمدعمر(مجاهد) په معمولي وظایفو او د اسلامي امارت د زعیم په توګه د جهادي چارو په تعقیب او تنظیم کې کوم تغیر رانه ووست ،په دې وخت کې چې نوموړی په افغانستان کې په مخفي شکل اوسیده نوموړی خپله کاري ورځ د الله عزوجل په عبادت او د قرآن کریم په تلاوت پیلوله او د فرصت په مهال یې د قرآن کریم د بېلابیلو تفاسیرو او احادیثو مطالعه کوله، د یرغلګرو په خلاف د جهادي چارو مراقبت یې په ډیرجدیت سره کاوه، د جهادي او پوځي امورو د ترتیب او سمبالښت په غرض یې په معینه طریقه جهادي قومندانانو ته اوامر او توجیهات صادرول، د جهادي نشراتي منابعو او نړیوالو خبري رسنیو له تعقیب څخه یې د یرغلګرو خلاف جهادي بریاوو او نورو موضوعاتو جاج اخیست ، او له همدې لارې یې د هیواد او نړۍ له ورځنیو پېښو ځان خبراوه. دغه مصروفیتونه د نوموړي د ورځني ژوند اساسي مشغله وه.

نوموړي د اسلامي امارت د زعیم په حیث سره له دې چې د یرغلګرو تر ډیر تعقیب لاندې و او دده په سر یې لس میلیونه ډالر انعام هم ټاکلی و مګر هیڅکله له افغانستانه بهر ونه ووت تردې چې د همدې جهادي بهیر په اوږدو کې د ورپېښې شوي ناروغۍ له امله په حق ورسید. اناالله وانا الیه راجعون

د نوموړي د وفات اعلان د اسلامي امارت درهبري شورئ او د مرحوم د کورنۍ لخوا د ۱۴۳۲ هـ ق کال د شوال په ۱۴ نیته وشو.

مرحوم ملامحمد عمر مجاهد د اسلامي نړۍ په کچه یو محبوب رهبر و چې په وفات سره یې ډیر زړونه وردیدل او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه یې خلکو په وفات غمرازي ښکاره کړه.

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شورئ او د نوموړي د کورنۍ لخوا د مرحوم د وفات په مناسبت په نشر شوي اعلامیه کې راغلي دي: مرحوم ملامحمدعمر مجاهد چې دامریکا په مشرۍ د نړیوال کفري یرغل له ټول فشار او تعقیب سره سره په هیواد کې اوسېده او پر افغانستان د امریکایي یرغل له پیل څخه تر وفات پورې اوږده موده کې حتی د یوې ورځې لپاره هم له افغانستان څخه بهر پاکستان یا کوم بل هیواد ته نه دی تللی او له خپل میشت ځای څخه یې د اسلامي امارت چارې رهبرې کولې چې دنوموړي په دې ستر استقامت او له هیواده په نه وتلو کره شواهد او دلایل موجود دي څه موده وړاندې د ورپېښې شوي ناروغۍ له امله چې دناجوړۍ په وروستیو دوه اونیو کې یې سختي زیاته شوه په حق ورسید.

مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله اسلامي امارت د یوه ستر خوځښت په حیث په داسې ډول ودان کړی او روان کړی چې ترشا یې جوړ او محکم بنیادونه ، مخلص او باتدبیره ملګري او منظم تشکیلات پرې ایښي دي لهذا مجاهدین او ټول مسلمانان دي مطمئن اوسي،چې دا کاروان به د اسلامي امارت دنوي امیر تر قیادت لاندې ټول مسؤلین او افراد د الله تعالی په نصرت او دمسلمانانو په ملاتړ د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله له ارمانونو سره سم منزل مقصود ته رسوي ان شاءالله تعالی و ماذالک علی الله بعزیز والسلام

د ملا محمد عمر په اړه د حامد میر لیکنه

د ملا محمد عمر د ژوند او مړینې اصلي کیسه لا تر اوسه نه ده ښکاره شوې. دښمنانو یې د سر بیه ۱۰ ملیونه ډالر ایښې وه، مګر هغوی پر خپلو ډالرو او پر مختللې ټیکنالوژۍ ونه توانېدل چې د هغه ادرس مالوم کړي او نن د بندو دروازو تر شا یو د بل مخې ته اعتراف کوي چې د ملا محمد عمر د بندي کولو او یا په میزایل د ویشتلو خوب یې پوره نه سو.

د ملا محمد عمر ژوند د هغه د دښمنانو لپاره شکست و او د هغه مړینه هم د هغه د خواکمنو دښمنانو لپاره د شکست او ماتې اعلان!

د ملا محمد عمر د ژوند او مرګ پر نابشپړې کیسې د طالبانو پر راتلونکې شننه او تحلیل کول یو ناممکنه کار دی او ځان غلطول دي.

د پام وړ خبره خو دا ده چې امریکا ته ډېر مطلوب کس چې د تیښتې په حالت کې او د نړۍ مخې ته د نه راتلو په حالت کې بیا هم وتوانېد چې طالبان دومره قوي کړي چې د امریکا غونډې قوي هیواد هغوی سره د مذاکراتو لپاره تیاره سي؟

د امریکې د تینک ټینک بروکنګز انسټي ټیوټ له یوې نوې څېړنې سره سم له ۲۰۰۱ څخه تر اوسه، ۲۰۱۵ پورې د هغوی لپاره تر ټولو زیات ستونزمن کال وو، ځکه چې په دغه کال کې طالبان د افغانستان له جنوب څخه بیا تر شمال پورې په هر کونج کې ځانته ځای وموند او هلته پراخه سول.

یوه اړخ ته د افغانستان ځمکني حقایق دي او بل اړخ ته د ملا محمد عمر او طالبانو په اړه د ګنګوسو یو توپان جوړ دی، امریکا د ګنګوسو له لارې په نړیوالې میډیا کې پروپاګند کوي چې دوی جګړه کټلې ده، خو ملا محمد عمر یو ځمکني حقیقت جوړ سو او د امریکا په مخ کې یې مقاومت وکړ.

د ملا محمد عمر مجاهد ژوند او مړینه اکثره د ګنګوسو په مخ کې وه.

زه په دې اعتراف کوم، ډېر کلونه مخکې چې طالبان په افغانستان کې را پورته سول، ما ویل امریکا یې حمایت کوي، ځکه چې هغه وخت د امریکا د وزارت خارجې مرستیال رابن رافیل د طالبانو حمایت کوي، په ۱۹۹۵ کې د پاکستان لومړۍ وزیرې، بینظیر زما د غلط فهمۍ د لیرې کولو کوشش وکړ او د هغې وزیر داخله نصیر الله بابر ماته وویل چې پیپلز پارټي د طالبانو د حکومت حمایت د دې لپاره کوي

ځکه چې د شمالي ټلوالې والاوو په کابل کې د پاکستان پر سفارت برید وکړ او طالبانو د پاکستان د ګټو د ساتنې په خاطر وعده کړې وه.

د نصیر الله بابر په واسطه مې د ملا محمد عمر سره پیژند ګلوي وسول، نصیر الله بابر د برهان الدین رباني، احمد شاه مسعود، حکمتیار او رشید دوستم سره هم ښې اړیکې لرلې.

هغه د طالبانو او د شمالي ټلوالې تر منځ د جوړجاړې لپاره هلې ځلې کولې، تر څو په افغانستان کې امنیت راشي او د افغانستان له لارې تر کمنستان څخه د ګیسو د پیپونه وارد کړل سي.

د امریکې یوه شرکت، یونیکال غوښتل چې د طالبانو له لارې دغه پلان کامیابه کړي، مګر طالبان د چا د لاسه آله نه وو او نه دې ته تیار وو چې د لاس آله سي.

په ۱۹۹۶ کې طالبانو خپل یوځي قومندان ملا محمد عمر څخه امیر المؤمنین جوړ کړ، د ۱۹۹۶ د اپریل په میاشت کې رابن رافیل قندهار ته سفر وکړ، خو ملا محمد عمر په شمالي ټلوالې کې د خپلو دښمنانو د ویرولو په خاطر د رابن رافیل سره د یوه انځور اخیستلو ضرورت هم محسوس نه کړ، بلکې د هغه پر

ځای يې خپل معاونين د ملاقات لپاره ور وليږل.

د ۱۹۹۶ د سپټمبر مياشتې په ۲۶مه نېټه طالبانو کابل فتح کړ. د همدې کال د نومبر په ۶مې طالبانو په اسلام اباد کې له شمالي ټلوالي سره د مذاکراتو لپاره چمتووالی وښود او نصير الله بابر د يوه جوړجاړي پريکړې لپاره مسوده هم تياره کړې وه، مګر د نومبر په ۵مه د پوځ له خوا د بينظيرې حکومت ړنګ کړل سوا و په دې توګه دغه مذاکرات وځنډېدل او دواړه اړخونو يو بل ته د نيژدې کېدو موقع له لاسه ورکړه.

په نړيوالې ميډيا کې دا تاثر ور کول کيږي چې د پاکستان استخباراتي ادارې (آی ايس آی) طالبان سره منظم کړل او پاکستان ملا محمد عمر پټ کړی وو.

د طالبانو په جوړښت کې آی ايس آی هيڅ کردار نه دی لوبولی، بلکې په ۱۹۹۴ کې آی ايس آی د طالبانو د يوه بل ډير لوی مخالف ګلبدين حکمتيار سره ډيرې نيژدې اړيکې وې، له طالبانو سره ابتدايي اړيکې نصير الله بابر جوړې کړې وې، د هغه وروسته د لومړۍ وزيرې بينظيرې په غوښتنه د آی ايس آی مشر جنرال جاويد اشرف قاضي طالبانو ته دعوت ورکړ چې اسلام اباد ته سفر وکړي، خو ملا محمد عمر اسلام اباد ته د سفر څخه معذرت وغوښت او خپل يو څو ملګري يې اسلام اباد ته راوليږل. په دغه ملاقات کې طالبانو د آی ايس آی او حکمتيار تر منځ پر اړيکو اعتراض وکړ، له هغه وروسته پاکستان د طالبانو ښه حمايت پيل کړ.

ملا محمد عمر چې څومره موده پر کابل واکمن وو، هغه د پاکستان ګټې په پام کې نيولې، خو نه يې هم د پاکستان څخه او نه يې هم د سعودي څخه امرونه قبول کړل، که څه هم دغه يوازيني هيوادونه وه چې د دوی حکومت يې په رسميت منلی وو.

په ۱۹۹۷ کې د افغانستان د طالبانو يو پلاوی ته د امريکې د سفر دعوت ورکړل سوی وو، په همدې موده کې د عربو د يوې خيريه موسسې له لاري طالبانو ته داسي ترغيب ور کول سوی وو چې چين سره بايد د سينکيانګ ايالت د مسلمانانو په هکله مرسته وکړي، که داسي وکړي نو دوی ته به ډيره زياته ګټه وکړي.

د دې سازش په ناکامولو کې د پاکستان يوه ديني عالم مفتي نظام الدين شامزئي (وروسته کراچي کی شهيد کړای سو) او مولانا فضل الرحمن خليل ډير مهم رول ولوباوه.

څه موده وروسته په پاکستان کې د چين سفير لوشولين قندهار ته سفر وکړ او هلته ملا محمد عمر دغه سفير ته اطمينان ورکړ چې طالبان به د چين په خلاف د يوه سازش حصه هم جوړ نه سي.

بل اړخ ته د پاکستان او سعودي د حکومتونو له خوا طالبانو سره په اړيکو کې بی خوندي راغلې وه، د سعودي د استخباراتو مشر ترکي الفيصل د ۱۹۹۸ په جون کې او بيا د همدې کال په سپټمبر کې ملا محمد عمر سره دوه ملاقاتونه وکړل او غوښتنه يې وکړل چې اسامه بن لادن دې د افغانستان څخه وايستل سي.

ملا محمد عمر انکار وکړ، کله چې ترکي الفيصل پر ملا محمد عمر د فشار راوړلو هڅه وکړل، نو ملا محمد عمر يو صحرايي پښتون په توګه ورته داسي سختي خبرې وکړلې چې له کبله يې ترکي الفيصل باندې خولې را ماتې سولې.

په همدې موده کې د آی ايس آی مشر جنرال ضياء الدين بټ ملا محمد عمر ته وليږل سو، د ملاقات مقصد اسامه بن لادن وو، بټ هم ناکامه را وګرځېد.

ملا محمد عمر د اسامه په خاطر خپله واکمني په خطر کې اچولې وه، د ۱۹۹۹ د اګست په مياشت کې د ملا محمد عمر پر کور د يوه لوی باروړونکي موټر په واسطه چاودنه وسول، چې په ترڅ کې د هغه د يو زوی او ميرمنې په شمول د کورنۍ څلور غړي ووژل سول، ملا محمد عمر خپله هم معمولي ټپي شو، مګر د دې بريد وروسته د امريکا په اړه د هغه موقف کې نوره سختي هم راغله.

د همدې بريد په جواب کې اسامه بن لادن د امريکا د تجارتي مرکزونو او پنتاګون د بريدونو طرحه جوړه کړه، مګر ملا محمد عمر د دغې طرحې څخه بې خبره وو.

د ۲۰۰۱ د سپټمبر په ۱۱مه په امريکا د اسامه بريدونو نه صرف د القاعده او ملا محمد عمر لپاره بلکې د ټولې نړۍ د مسلمانانو لپاره ستونزې زيات کړل.

د همدې مياشتې په ۱۶مه جنرال پرويز مشرف د آی ايس آی مشر جنرال محمود احمد ملا محمد عمر ته وليږه او غوښتنه يې ځيني وکړل چې اسامه بن لادن دې له هيواده وشړي. ملا محمد عمر ډير سخت خفه وو چې اسامه بن لادن د هغه اطاعت ونه کړ، خو بيا يې هم جنرال محمود احمد ته د «نه» جواب ورکړ.

اوس د پاکستان او سعودي په شمول ټوله نړۍ د طالبانو په خلاف سره متحد سول، د همدې کال په نومبر کې د طالبانو د واکمني تر

ړنګېدو څو ورځې مخکې ما په کابل کې د طالبانو د وزیر داخله ملا عبد الرزاق څخه وپوښتل چې تاسو د اسامه بن لادن په خاطر خپله واکمني له لاسه ورکول غوارئ؟

هغه جواب راکړ چې د دوی مشر ملا محمد عمر ته تر واکمنۍ د افغانستان د خلکو عنعنات زیات مهم دي.

څو ورځې وروسته د طالبانو واکمني ختم سول، مګر طالبان ختم نه سول!

د طالبانو د نه ختمېدلو لویه وجه د هغوی طبقاتي رول دی، د نړۍ په نزد دا یو سخت دریځی مذهبي تحریک دی، خو په حقیقت کې دا د شتمنو قومي مشرانو، ظالم او مفسدو قومندانانو او جنګسالارانو په خلاف د عادي افغانانو او دهقانانو یو وسله وال تحریک دی، د دوی مشر هیڅ داسي څه نه لري چې د هغه پر ختمېدو دي ووېرېږي.

ملا محمد عمر په ۲۰۱۲ کې خپله تګلاره بدله کړل، هغه د شمالي افغانستان د تاجکانو، اوزبک، او هزاره ګانو سره اړیکي پراخي کړلې، د بامیانو، دای کنډي او غزني شیعه ګان یې هم له ځانه سره ملګري کړل او د ایران سره یې هم ښې اړیکي جوړې کړلې.

اهل تشیع او ایران سره د خپلي پالیسیو په بدلون دوی دا ثابته کړل چې د پاکستان او افغانستان د طالبانو تر منځ ډېر ژور فرق دی.

د ۲۰۱۵ د می په میاشت کې د طالبانو یو مهم پلاوي ایران ته سفر وکړ، چې د کابل حکومت وزیر داخله نور الحق علومي چې د شمالي ټلوالي نمایندګي کوي، خپل ژور خپګان څرګند کړ، که چیري طالبان ایران ته نه تلای، نو د افغانستان استخباراتو شاید د ملا محمد عمر د مړیني خبر نه وای راپورته کړی.

نور الحق علومي پخوانی کمونیستې پوځي جنرال دی او ډاکټر نجیب د حکومت په دوره کې د کندهار والي وو.

د کابل حکومت سره د مذاکراتو د پیلیدو باوجود د طالبانو د شریعت مجله پر علومي باندي ډېر شدید انتقاد کړی، ځکه چې علومي په بندي خانو کې د طالبانو پر بندیانو باندي تشدد او سختي زیاته کړې، د علومي د سخت دریځۍ او مشکوک چلند څخه طالبان په مذاکراتو کې هم ډېر محتاط دي او په مقابل اړخ کې د افغانستان ملي امنیت هم د مذاکراتو په اړه سنجیده نه ښکاري. نړیوال قوتونه چې په افغانستان کې د طالبانو او حکومت تر منځ مذاکراتو ته ډېره لیواله دي، باید په یاد ولري، چې په دغه مذاکراتو کې به د هغوی لپاره د څو وزارتونو په واسطه د طالبانو رانیول ډېر ګران کار وي. د طالبانو په کمزوري کولو او د داعش په تقویه کولو به کله هم افغانستان ته امن رانه شي، د ګنګوسو له لارې د میډیا جګړه ګټل کیدای شي، خو افغانستان په لیري پرتو کلیو او غرنۍ سیمو کې ځمکني حقایق نه شي بدلیدای. د ملا محمد عمر نوم او د طالبانو غرني او صحرایي جنګیالي به د کابل پیسه داره واکمنانو په مخ کې هر وخت ځمکني حقیقت جوړېږي او درد دوی خوبونه به حراموي.

دملامحمدعمر تر ټولو ستره لاسته راوړنه

لیکوال: یامیر زیارمل

په ۲۰۰۲-م زېږدي کال کې زه د طالبانو د نظام له پرزېدلو وروستی د لومړي ځل لپاره نوي افغانستان ته ستون شوم او خپل پلرني ټاټوبي کندهار ته مې ډېر په زړه پورې سفر وکړ. د لوی کندهار له سفر څخه وروسته، کله چې زه بېرته مسکو ته راغلم، سمدلاسه مې «طالبان په لنډ راتلونکي کې وسله وال پاڅون کوي» تر سرلیک لاندې لیکنه وکښله. په دې لیکنه کې ما وړاندوینه کړې وه، چې طالبان به ډېر ژر په تش لاس، خو ډک زړه د افغانستان د ګاونډیو په ګډون د نړۍ له پینځوسو سترو هېوادونو سره جګړه پیل کړي. هغه مهال ټولو افغانانو او نړیوالو داسې انګېرل، چې پر افغانستان باندې د امریکایانو او د هغو د ملګرو یرغل د طالبانو ټغر د تل لپاره ټول کړ او د هیچا زړه ته نه لوېدل، چې طالبان به وکولای شي یو ځل بیا سر پورته کړي.

ما خپله لیکنه څېنو رسنیو ته واستوله، خو ټولو په یوه خوله راته وویل، چې دا لیکنه نه خپروي. هغه مهال زه شپاړس کلن تنکی زلمی وم او په ښوونځي کې مې زده کړه کوله، نو ښکاره خبره ده، چې چا زما وړاندوینې ته په درنه سترګه نه کتل. د یوې رسنۍ پاژوال چلوونکي ما ته داسې لیکنی ځواب راولېږه: «زویه، کله چې په شونډو کې دې د مور شیدې وچې شي بیا هغه مهال داسې لیکنې وکاږه! طالبان هېر کړه، دوی نور نشته، هیڅوک او هیڅکله د دې زړورتیا نه کوي، چې په نړۍ کې له ټولو ځواکمن او غښتلي هېواد امریکا سره مخامختیا وکړي! خو ته لیکې، چې طالبان به یو ځل بیا وسله وال پاڅون وکړي او امریکایان به له افغانستان څخه وشړي! ته ماشوم یې او په نړیوال سیاست او پوځي چارو نه پوهېږې! هر کله چې دې ښوونځی ولوست او په پوهنتون کې دې زده کړې وکړې بیا راشه زه تا ته په خپله ورځپاڼه کې دنده او لوړ معاش درکوم، خو اوس ما ته نور داسې لیکنې مه رالېږه!». څو کاله وروسته ټولو د سر په سترګو ولیدل، چې طالبانو یو ځل بیا وسله په لاس واخیستله او له امریکایانو سره یې جګړه پیل کړه.

په ۲۰۱۰-م زېږدي کال کې ما «طالبانو د افغانستان په ټېریزه جګړه کې پای ټکی کېښېښاوه» تر سرلیک لاندې لیکنه وکړه. په دې لیکنه کې ما ټینګار کاوه، چې طالبان به ډېر ژر نه یوازې د افغانستان په پښتون مېشتو سیمو کې، بلکې د شمال په ګډون د هېواد په ګوټ ګوټ کې ولسوالۍ او آن ولایتونه تر خپلې ولکې لاندې راولي. په لیکنه کې راغلي وو، چې د افغانستان په اوږده جګړه کې لوی بدلون راغلی دی او خپله پخوانۍ بڼه یې اړولې ده. د لیکنې په یوه ځای کې ما داسې لیکلي وو: «د جګړه ځپلي افغانستان د څو لسیزو په پر له پسې جګړو کې نوی څپرکی پرانیستل شوی دی. طالبانو وکولای شول، چې د افغانستان په شمال کې ګڼ پلویان ومومي او په دې توګه دوی په ټېریزه جګړه کې پای ټکی کېښېښاوه. له دې څخه وروسته به په افغانستان کې د ایډیالوژیو جګړه وي او د شخړې هغه لوري به بریالی شي، چې تر ټولو لوړ مورال او پیاوړې ایډیالوژي لري.»

ما دا لیکنه د مخکنۍ په څېر څېنو رسنیو ته په دې هیله ورولېږله، چې دوی یې خپره کړي، خو بیا هم ټولو په یوه خوله راته وویل، چې دا لیکنه نه خپروي. د یوې خپرونې چارمن داسې ځواب راولېږه: «ستاسې له لیکنې څخه یوه نړۍ مننه، خو موږ یې نه خپروو. تاسې لیکئ، چې طالبان به د افغانستان په شمال کې، چېرې چې تاجکان، اوزبکان او نور ډېری دي، پراخې سیمې تر لاس لاندې کړي. زه افغانپوه نه یم، خو بیا هم ښه پوهېږم، چې دا ناشونې دي، ځکه چې طالبان پښتانه دي او هیڅکله د افغانستان په شمال کې یو لوېشت خاوره هم نه شي نیولای.

تاسي وایاست، چې د افغانستان شمالي بدخشان ولایت به د طالبانو نوې منځۍ شي او د جګړې نوی ډګر به وي. خو ټول خبر دي، چې بدخشان یوازینی ولایت و، چې د طالبانو د واکمنۍ په مهال د شمالي ټلوالې تر څارنې لاندې و. لنډه دا، چې تاسي د افغانستان په تېریز جوړښت نه پوهېږئ!». نن موږ ټول وینو، چې د افغانستان شمال د جګړې تر ټولو تود مورچل دی.

په ۲۰۱۴-م زېږدي کال کې ما «طالبان د مشر بدلولو ته چمتووالی نیسي» تر سرلیک لاندې لیکنه ولیکله. په دې لیکنه کې ما په نړۍ کې د لومړي ځل لپاره له لوړو پوهنیزو معیارونو سره سم اعلان وکړ، چې د طالبانو مشر ملا محمد عمر مړ دی (له دې څخه وړاندې یوازې څارګرو ادارو د طالبانو د مورال د کښته کولو لپاره بې بنسټه هر کال د ملا عمر د مړینې خبر ورکاوه). زما لیکنې ټول پوهان او څېړونکي هېښ کړل، خو بیا هم د دې پلا بې شمېرو رسنیو زما څخه هیله وکړه، چې د لیکنې د خپرولو اجازه ورکړم (تاسي دا لیکنه په روسي ژبه دلته لوستلای شئ: http://www.mgimo.ru/news/experts/document264196.phtm).

د دې لیکنې له لوستلو وروسته ګڼو افغانپوهانو او رسنیو هم زما څخه هیله وکړه، چې د ملا محمد عمر تر مړینې وروسته د طالبانو د غورځنګ د برخلیک په اړه لیکنه وکړم. ما هم «د ملا محمد عمر تر ټولو ستره لاسته راوړنه» تر سرلیک لاندې لیکنه وکښله، خو تر نن ورځې مې زړه دې ته نه ښه کاوه، چې خپره یې کړم، خو اوس کله چې طالبانو په رسمي توګه د خپل مشر مړینه ومنله، زه ستاسي پاملرنې ته د دې لیکنې لنډیز وړاندې کوم. په دې لیکنه کې هم ځینې وړاندوینې شوې دي، چې یو شمېر لوستوال به هک پک کړي، خو راتلونکی به دا په ډاګه کړي، چې زما انګېرنې څومره کره وې:

د ملا محمد عمر تر ټولو ستره لاسته راوړنه

له هراړخیزو او ژورو څېړونو او پلټنو وروسته زه دې پایلې ته ورسېدم، چې د افغانستان د طالبانو د اسلامي غورځنګ بنسټوال او د اسلامي امارت مشر ملا محمد عمر مړ شوی او یا وژل شوی دی. که څه هم چې زه په کره توګه د هغه د مړینې نېټه نه شم ویلای، خو داسې انګېرم، چې هغه یو کال مخکې د تل لپاره دې نړۍ ته سترګې ترلې دي. د ملا محمد عمر مړینه د افغانستان د تاریخ د یوه پېر پای او د بل پیل دی، چې نه یوازې د افغانستان، پاکستان، سیمې، بلکې د ټولې نړۍ پر سیاسي او پوځي چارو به ژوره اغېزه وکړي.

که ملا عمر په رښتیا هم مړ وي، نو دا خبره د طالبانو د سیالانو او تر هر څه لومړی د امریکایانو لپاره د ډېرې خوابدۍ او خواشینۍ وړ ده. له پټمنو لوستوالو سره به دا پوښتنه پورته شوې وي، چې ولې د پېژندل شوي غلیم مړینه به امریکایان او د دوی په لاس د کابل جوړه شوې بېواکه او کاواکه اداره خوابدي کړي؟! د دې پوښتنې ځواب به تاسي د دې لیکنې په لاندېنیو کرښو کې ومومئ.

د افغانستان او نړیوال پېښلیک څرګندوي، چې ټول هغه سیاسي غورځنګونه او ګوندونه، چې خپل مشر د لاسه ورکوي، هغوی یا په بشپړه توګه له منځه ځي او یا نوو بنسټ بایلي او بالاخره ماتې خوري. د بېلګې په توګه، کله چې په ۲۰۰۱ کال کې د شمالي ټلوالې ځینو غړو د باندنیو څارګرو ادارو په لارښوونه او څار بولندوی احمد شاه مسعود جهنم ته واستوه، دغه کرغېړنه ټلواله عملاً پر څوبرخو ووېشل وشوه او پخوانی نفوذ یې د لاسه ورکړ.

بله غوره بېلګه د عراق برغزی واکمن صدام حسین دی. د صدام وسله وال ځواکونه نه نوازې په سیمه ییزه، بلکې په نړیواله کچه ډېر ځواکمن ګڼل کېدل. خو له پلازمېنې بغداد څخه د صدام تېښته او بیا د هغه له اعدام څخه وروسته د عراق پخواني پیاوړي ځواکونه له منځه لاړل او ولسمشر صدام حسین د تاریخ د پاڼو یوه برخه شو، چې د هغه د کړو په اړه به قضاوت راتلونکی پښت او په الهي نیاوتون کې لورین الله کوي.

که ملا عمر مړ وي، نو موږ دا پایلنیوی کولای شو، چې طالبان د خپل مشر په نشتوالي کې هم په اټوماتیکي ډول په بریالۍ توګه خپلې سیاسي او پوځي چارې مخته بېولای شي او دا په خپل وار د دې ویندوی دی، چې ملا عمر شبکه ییز غورځنګ پنځولی دی، چې هیڅکله ماتې نه خوري، ځکه چې په دا ډول اداري جوړښت کې یو سړی، هر څوک چې هم وي، د غورځنګ یا ګوند پر ژوند ډېره اغېزه نه کوي.

د شبکه ییز جوړښت یوه ځانګړنه دا ده، چې د یوې شبکې د مشر او یا د ټولې شبکې نسکورېدل په ټولیزه توګه پر غورځنګ ډېره ناوړه اغېزه نه کوي. که د ملا عمر تر مشرۍ لاندې شبکه ورکه شي، د هغې ځای د بل طالبي مشر شبکه نیولای شي. د نوي مشر له مړینې وروسته د هغه ځای بل نیسي او دا لړۍ هیڅ پای نه لري.

که ملا عمر له یوه کال څخه ډېره موده مړ وي، نو موږ په ډاګیزه توګه ویلای شو، چې د هغه د چارواکي تر ټولو ستره لاسته راوړنه او ویاړنه داد شبکه ییز غورځنګ پنځول دي، چې د ده له مړینې وروسته هم ژوندی دی.

سیاسي شبکه ییز جوړښت یوازې د شلمې پېړۍ په ۹۰-مه لسیزه کې د سیاسي پوهنو د یوې څانګې برخې په توګه بېل شو. سیاسي شبکه ییز جوړښت تـه ډېره پاملرنـه پـه انګلیسي او الماني سیاسي ښوونځیو کې کېدله. په دې برخه کې ټولمنلي پوهان دغه دي: ر. کېلي، ر. رودز، د. مارش، ت. بورتځېل، ج. هاکنسون، ج. جوهانسون او نور.

کـه څـه هـم چـې د سیاسي شبکه ییز جوړښت په هکله ګڼ کتابونه او لیکنې شوي دي، خـو زمـا پـه انـد، د طالبانو شبکه ییز جوړښت ځینې ځانګړتیاوې لري، چې باید په ډېره ځېرکتیا وسپړل شي. یوه ځانګړتیا یې دا ده، چې د طالبانو مشران او تر ټولو مخکې ملا عمر له ځانښودنې ډډه کوي او خپل پلویان او لارویان دې تـه رابولي، چې د دوی لپاره نه، بلکې د ایډیالوژۍ لپاره سرښندنه وکړي.

په پای کې دا ډېروم، چې زه ډاډمن یم، که طالبان په خپل سیاسي شبکه ییز جوړښت کې بدلون رانه ولي او لکه اوس د یوه ځانګړي مشر پر ځای ایډیالوژۍ تـه لومړیتوب ورکړي، نو دوی به هیڅکله د شمالي ټلوالې په څېر په سیاسي او پوځي ډګرونو کې ماتې و نه خوري.

زېرې . . . زېرې

د ایمان زرینې غشي
چا لمر مخو ورولي
ار ګ له قهره
ار ګ له قهره
لکه کفر تور او شین دی
په بچویې جوړ ناورین دی
لمر پلوې یاره مخ ته دې ګلونه
غځوه د رڼا مزي
لکه ستا د څنو منځ کې
د تیارو په زړه کې لاره
خدای در کړی ښه تلقین دی
د برېښنا نیلی دې زین دی
تندریز هیبتي غږ دې
د خزان هدونه مات کړل
د آدم شمله ده لوړه
قیادت ته دې ملکو غاړه ایښې
د شیطان په لړمانه کې اور بلیږي
ته خوږه د تکبیر کړیکه
زه دې ژبه د ګړنګ شم
دغه زړه مې په واک نه دی
نه چې ستا په لور در ړنګ شم
د رحمان بابا په قول:
ملنګي د یار په در کې پیغور نده
اجازه ده!
چې زه ستا د در ملنګ شم !؟
****
غنمرنګه، غنمرنګه!
له غنمه ده راپیښه
د غنم کیسه به پرېږدو
نه چې بیا بیا زړونه بایلو
جنت هم درپسې پرېږدو
د نیمګړې دنیاګۍ کیسه راواخله
بس د هغې ښاپیرۍ کیسه راواخله
د واده په لومړۍ ورځ چې
ځناورو کړه په ښنه
چې پر هر یې په باچا پسې خندل
چې یې شونډې د زړګي په وینو سرې وې
چې یې ستر ګې په رڼو اوښکو لمدې وې
چې ملکو یې جنازه په اوږو بار کړه
چې ترې پاته شوی یو څو مهم سوالونه
زه رښتیا وم دهشتګره ؟
اې د غرب بشر پالانو!
زه حصه د بشر نه وم ؟
ښځینه حقوق غوښتونکو!
زما حق د ژوندون نه و؟
ها قرآن چې د حمزه وینې ترې ځار شوې
چې رخسار د پیغمبر پرې شهید شوی
ها د خدای خوږې خبرې
چې ملکې به صف صف ور سره تللې
چې یې ښځو ته ژوندون دی وربښلی
په رخسار کې د عثمان د وینو رنګ و
چې بشر ته یې سکون دی وربښلی
ولېم! وویشت په ګولیو ؟
ولې مو سرې لمبې ترې تاو کړې ؟
ولې مو کیښود انسانیت ته د پای ټکی ؟
ګنګوره ژبې مو پرې شه
ولې ګونګ یاست شیطانانو
ها زما سکنې وروڼه
ها غه ستا د ستر ګو خلې
ها د عزم لوړ لوړ څلي
راته وایه ها به څرنګه قانع کړئ
دامنې ؟
چې د قرآن شهیدې پاڼې به کړې هیرې
دامنې چې زما وینې کړې هدر
نه نه
نه

ثاني بت شکن

لیکوال: احمد ارشاد سعید

بامیان د افغانستان په مرکز کې د هندوکش د غرونو د لړې په لویدیځ او د بابا غره په شمال کې پروت ولایت دی چې د بحر له سطحې څخه د درې زره مترو په شاوخوا لوړ موقعیت لري.

یخ او واورین ژمی او نرم معتدل اوړی لري او د هیواد یو له هغو ولایتونو څخه دی چې قدیم او پخوانی تاریخ لري. په دې ولایت کې د بودا د دوو مجسمو او امیر بند یا د افغانستان لومړنی پارک شتون ددې ولایت په تاریخي والي دلالت کوي چې د زیاتو سیاحانو پام یې ځان ته را اړولی دی.

د صلصال لویه مجسمه چې ۵۳ متره لوړوالی او د (شمامه) په نوم بله وړوکې مجسمه چې ۳۸ متره لوړوالی لري د ۲۰۰۱ کال د مارچ په ۱۱ نیټه د افغانستان د اسلامي امارت له لوري له منځه ولاړې او په نړۍ کې یې یو ځل بیا هیر شوی ابراهیمي سنت راژوندی کړی. دې پیښې نړۍ و لړزول او د بودایي هیوادونو په شمول نوري کفري نړۍ ته یې دا ور وښودل چې افغانان د بتانو په وسیله د جمع شوي سرمایې تږي نه بلکې د اسلامي شریعت پالونکي دي.

دا پیښه د کفري هیوادونو په تقلید سره د اسلامي هیوادونو ځیني بې دینو اشخاصو هم و غندل او دا یې تاریخي آثارو ته نه پاملرنه او د هغوئ بې قدري وبلل. اوس هم د ځینو اشخاصو له خولې نه دا پیښه په پوره پیمانه غندل کیږي او د افغانستان اقتصاد ته په پاملرني سره دا یوه غلطه پریکړه گڼي. نه پوهیږم دا اشخاص له دینه ناخبره دي او که د دینه خبر دي خو دنیا پرستی. دومره تیر ایستلي دي چې دین یې ترینه هیر کړی دی. دا منو چې دا بوتان به تاریخي آثار وه خو د تاریخي آثارو نوم چا ورباندي کینبودی؟ هغه دین چې د کتاب نیمه او لا زیاته برخه یې د بوتانو او د اللهج نه بغیر إله جوړولو په رد کې راغلې، د هغه دین پیروان نن څنگه ددې ډېرو شتون د تاریخي آثارو تر نامه لاندي جائز گڼي؟ ددې ډېرو په وسیله پیسې لاسته راوړل آیا د بې حیایی او فحاشی په واسطه د پیسو لاسته راوړلو څخه لویه گناه نه ده؟ ایا دا نظریه د کپتالیزم له تصور سره چې د خلکو نه په هره لاره که په حلاله طریقه وي که په حرامه د پیسو پیدا کولو تقاضا کوي کوم توپیر لري؟

افغان ملت د بوتانو په ماتولو کې ډیر پخوانی تاریخ لري چې ددې تاریخ د سپسالارانو څخه یو هم لوی سپسالار فاتح او مجاهد شخصیت سلطان محمود غزنوي دی. ده رحمه الله ته هغه وخت د بت شکن لقب ورکړل شو چې کله یې د ۴۱۲ کال د ذی القعدې په میاشت کې د هند د گجرات نه وروسته سومنات نومي سیمي ته ځان و رساوه او هلته یې د هندوانو تاریخي بت چې هغه هم د سومنات په نوم یادیده په خپل لاس دړې وړې کړی. له دې ځایه فهمولای شو چې د افغانستان د اسلامي امارت د زعیم مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) په امر د بامیان د بتانو ویجاړول په اصل کې د اسلامي شریعت د تقاضا سربیره د سلطان محمود غزنوي پر قدم پښه ایښودل او د هغه په پله تلل دي. الله جل جلاله دې د تقوا ددې سمبول، ثاني بت شکن مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله قبر د جنتونو له باغچو نه یوه باغچه و گرځوي. قربان له هغې خاورې چې یو ځل بیا یې تاریخ ته د سلطان محمود غزوي رحمه الله بل ښکاره مثال وړاندي کړ. ومن الله توفیق

نیویارک

ملا عمـر او جـارج بـش د تـاریخ داسی دوه نومونه دي چې له تصادم څخه یـې د اور سـرې لمبـې پورتـه شوي ، د وینو ویالي ترې وبهیدي ، د ظلم داسی داستانونه یې ثبت کړل چې له امله یې تش په نوم مهذبو قدرتونو د تل لپاره خپل مخونه تور کـړل. د یـو لیـری پراتـه وطـن اوسـیدونکي ، د هغـوی مـذهبي اقـدار او ملي عنعنـات یـې پـه دې وجه تباه او برباد کړل چې پردې دي .

د آزادۍ په نوم یې د سولي او امن جـرړې و ایسـتلي ، مـوږ تـه هغـه ویروونکـي صـحنې او شـیبې بنـه یادي دي چې د امریکایی چینلونو پـر سـکرینونو بـه مـو کتلـي او اوریدلي چې یو دجال د مسیحا په بڼه افغانستان تـه رسیدلی ، د یـو انسان په پلمه په لکونو انسانان د هستۍ له صفحې څخه تري تم کوي .

دغـه کینـه او کرکـه دلتـه هـم ختمـه نشوه ، بلکې د زروي وسلو په بهانه یـې پـر بلـه ځمکـه د مرګونـو او وحشتونو لړۍ پیل کړه ، په داسی حال کې چې د افغانستان له غرو او رغو څخه د مظلومانو آه او فریاد لا اوس هم اوریدل کیږي. د امریکایي تاریخ پوه چارلس برډ پوه مقوله ده چې وایـي: د تـل پـاتي امـن لپـاره تلپاتی جګړه اړینه ده ، له ۱۹۴۵

ژباړه: موسی فرهاد

ملا محمد عمر او جورج بوش!

ليکواله: طيبه ضياء...

څخه نيولي، د عراق تربريده پوري امريکا نژدې د دوه سوه يرغلونو ارتکاب کړې.

مشهور ليکوال ګور وائډل د يوولسم ستمبر په اړه تنقيدي تأثرات په کتابي بڼه وليکل مګر پر خپريدلو يې په امريکا کې بنديز ولګيدی او بيا په جرمني کې چاپ شو .

د کتـاب تـر تصنيف وړانـدي يـو امريکـايي تروريسـت ټـم تـی ميـک وی پـه اوکلاهوما کې يوه لويه ملي ودانۍ په بم والوزوله ،(چې په امريکا کې د هغـه دا عمل د خپلو حقوقو دفاع وګڼل شوه) پر همدې موضوع ليکوال وائډل وليکل چـې د اسـامه بـن لادن او ټـم تيميکـوی د کړنـي تـرمنځ څـه تـوپير و ؟ خو تش په نوم د آزادۍ دعويدار امريکا پر هغه بنديز ولګاو ، حتی چې د امريکا پـه لويـه ورځپاڼـه (دي نيشـن) کې يې پر خپرولـو هـم بنديز ولګيـدی چې خپلـه ليکوال د يادې ورځپاڼي مرستيال هم وو .

وائډل پخپل کتاب کې ليکلي چې زموږ حکومتي پاليسۍ ثابته کړه چې پر کرکي ، نفرت او نا انصافي ولاړه پاليسي ده ، ځکه چې د اسامه بن لادن او ټم تيميک وی کړني يې په يوه تله ونه تللي .

حالانکه ميک وي هم د ملکي آزادۍ يعني د خپلو خلکو د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره قرباني ورکړه ، او د اسامه بن حمله هم د مسلمانانو د حقوقو د ترلاسه کولو پخاطر وه ، همدا وجه ده چې پـه اسلامي نړۍ کې د اسامه خواخوږي هيڅکله کمه نشوه .

خـو امريکـا دا موازنـه برداشـت نکـړه ، بلکـې د اسـامه بـن لادن حملـه يـې تروريستي عمل وباله او د ميک وي، دا ، نه .

ښاغلی وایډل په خپل کتاب کې وړاندې لیکي: چې امریکه د هیټلر تاریخ تکراروي ، او غواړي چې پر نړۍ خپله باداري په زور ومني .

ولسمشر بوش وايي ، د تروريزم پرضد جګړه د بدۍ پرضد جګړه ده ، او په اصل کې دا يو پوچ خيال دی . پکار دا ده چې د ميک وی او اسامه بن لادن کړنو ته په يوه نظر وکتل شي ، چې دواړه د امريکا د کړنو عکس العمل وبلل شي. ويلای شم چې د نړۍ ترټولو خطرناک ترهګر تنظيم پخپله امريکا ده .

د ملاعمر له مړيني سره د رواني پيړۍ د تاريخ يوه لويه برخه تړلې ده ، ما د خپلې ډايري پاڼې پلټلي ، پر څو داسې پاڼو ورمخ شوم چې د وينو په سياهي ليکلي شوي وي. يعنې د ډايرۍ دا برخه د داسې خونړيو جګړو له حوادثو ډکه وه چې په دې پيړۍ کې يې بيلګي موندل ناشونی کار دی. او دا د شمال ټلوالي په لاسونو ترسره شوي خونړۍ کارنامې وي.

د عفيفو ميرمنو او کمرعمره زلميانو له ابرو ريزي نيولي ، تر غير انساني وژنو پوري ، له هيڅ ډول وحشت څخه مخ نه دی اوښتی . او دا د ناقانونه وسلوالو له لوري ترسره کيدل .

دا پر هغه بد مرغيو برسيره وي ، چې د کمونيستي رژيم له لوري خو او شا يو ميليون کړل شويو ماينونو هم د خلکو د ژوند ډېوې پرلپسې مړې کولې. او په ميليونونو افغانان د وطن پريښودلو له لاسه کړيدل .

خو همدا د ملاعمر په مشرۍ طالبان وو چې د اختناق دغه حالت يې وررورو ختم کړ ، مګر امريکا د خپلې حملې د جواز لپاره همدغو طالبانو ته سخت دريځي ويل. په دې وجه چې خپلو افغان ميرمنو ته يې د بش له خوښۍ سره سمه آزادي ورکولو ته تيار نه وو .

طالبانو اوږدې ږيرې درلودې ، خو چونکه يهوديان نه وو ، د بش ځکه نه خوښيدل ، ښاغلی بوش ته يوازې يهودي لوی ږيرې د درښنت قابل دي او ورته سلام کوي .

د ملاعمر طالبان د امريکا له نظره ظالمان وو ، ځکه خو يې پريکړه کړې وه چې د تل لپاره يې بايد نيست او نابود کړي .

له همدې ځايه وه چې د بوش د ترهګرۍ بيلګې نړۍ په خپلو سترګو وليدلې ، په افغانستان کې يې ويالې د اوبو پرځای په معصومو وينو ډکي وبهولې .

هغه افغان ميرمنې چې د تل لپاره د غيرمحرم له نظره خوندي وي ؛ ولې بش د هغوی تلاشي اخيسته. د آزادۍ په نوم يې له هغوی نه د هغوی ماشومان ترې بيل کړل او کورونه يې په بمونو ورته وران کړل. او ميندې يې د تل لپاره د مرګي په خوب ويدې کړلې. او د امريکا د دې ترهګرۍ په وړاندې د «اُف» ويلو جرأت چا نشو کولای ، چې بيا به د تروريستانو په ليست کې ورګډيده .

د يولسم ستمبر پيښه په نيويارک ښار کې رامنځ ته شوه ، خو سزاء يې افغانستان ، عراق بلکې ټولې اسلامي نړۍ ته ورکول شوه. او همدا د مشر بوش ارمان و چې پوره شو. ځکه اوس په امريکا کې دا نه ختميدونکې جګړې ته بوش پاليسي نوم ورکول کيږي. اوس چې نړۍ په کوم اور کې سوځله کيږي ؛ د دې اصلي ماسترماينډ يا پلان ګذار ، بوش او د هغه حلقه ده .

نن چې خبر خپريږي د طالبانو مشر ملاعمر وفات شوی ، دا خبر نه دی ، بلکې خبر دا دی چې له افغانستانه د جارج بوش د پيل شوي ترهګريزي جګړې عمر ډېر دراز دی او مرګ نلري .

پای

دیوېشتمي پېړۍ امیرالمؤمنین وفات شو

استاد محمد زمان مزمل

ملا محمد عمر مجاهد چې افسانو ته په نړدې ژوند او جهاد یې یوویشتمه پېړۍ پیل کړه، د هغه مرګ تېره اونۍ د هغه نږدې دوستانو تسلیم کړه

هغه د نړۍ په تاریخ کې د تر ټولو لوی نړیوال ایتلاف سره د جنګ مشر و، بلکې هغه د یو قطبه نړۍ د مخکښې امریکا سره د مقابلې چلنج او جګړې ته په هغه سادګۍ او ایمانداری ننووت چې نن یې امریکا د پیل شوې جګړې پاتې او پیچلی پړاو په مري کې د آسیا د څواکمن هېواد چین په ثالثۍ حل یا هم بلې توطیې ته سپاري.

امیر المومنین چې د کږو او منحرفو مجاهدینو ټوپک شاهي یې په کابل کې ماته او نسکوره کړه او د یوه عرب مسافر پر سریې د یوه مناسب حل د نه میندلو او ناکامۍ له کبله خپل حکومت قربان کړ او افغانستان یې د نصاراو او کمزورو مسلمانانو هغې لوېې ایتلافي جګړې ته ټیله کړ چې بیا هم معلومه نه ده چې د یوویشتمې پېړۍ د دغه افسانه اي امیر المومنین ملګري به د دې درندې جګړې پاتې پړاو سرفراز او یا د تېرو مجاهدینو په شان په خپل منځ کې تکرار جګړو ته دروي؟

که څه هم سیکولران، کمونستان او غرب ته پناه وړونکي افغانان به د مرحوم امیر په هکله هر څه ووایي او ولیکي؛ خو هغه د افغانستان د تاریخ په حساس پړاو کې د امریکا د یو قطبه نظام د اشغال سره د ټکر او جنګ حماسه د تاریخ وروستی باب کړ.

موږ چې یوه ورځ هم د هغه په حکومت کې کار نه دی کړی، موږ چې د دې لوېې جګړې په اوږدو کې هغه یوازې او بې ملګری پرېښود، موږ چې د طالب اشتباوې او خپلې مشورې هغه ته په تکرار لیږلې وې نن یې په مړینه تر هر چا زیات خپه یو؛ څکه هغه زموږ د دغه دنیا بدلوونکي تاریخ یوه برخه و.

معلومه نه ده چې هغه په طبیعي مرګ مړ دی او که په توطیه مړ شوی؛ خو بیا هم که بهرني لاسونه پکې وي نو د امین د مرګ په هکله د خالص بابا هغه خبره رایاده شوه چې ویلي یې و، موږ به له شورویانو نه غچ اخلو!!

په همدې تریخ مناسبت د ملا صاحب کورنۍ او ملګرو ته د تسلیت مراتب وړاندې کوم. لوی خدای دې روان تریخ پړاو په داسې پایلو ښاد او ښادمن کړي، چې د ملا صاحب، ملت او د ټولو مسلمانانو ارمان پکې پوره شي او په افغانستان کې یوه دائمي سوله تامین کړي. آمین

داسلامي امارت دنوي امير دلومړۍ غږيزې وينا ارزښتمن پيغامونه

لیکوال : فکرِي مبارز

داسلامي امارت دنوي امير محترم ملااختر محمد منصور لومړنۍ غږيزه وينا دوه ورځې دمخه د رسنيو له لارې خپره شوه .
په دغه وينا کې ملا اختر محمد منصور حفظه الله په ډيره سړه سينه خبرې کوي ، او خبرې يې ټولې د زړه له تله او له اخلاص څخه ډکې ښکاري.
وينا د کاغذ له مخې نده او کوم تکلف يې پکې ندی کړی او د تجربې له مخې دغه ډول ويناوې زياتره وخت له زړه څخه وي.
منصور صاحب په دغه وينا کې څو مهم پيغامونه ورکړي دي :
۱. سره لدې چې دی د رهبري شورى غړی ؤ خو د نوي امير د ټاکلو په بحثونو کې دی شامل نه ؤ ، ابتدايي خبرې يې شورى ته کړې دي د عاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله د وفات خبر يې ورکړی او نور يې شورى پريښې ده تر څو په خپله خوښه له کوم فشار او د چا له لحاظ څخه پرته فيصلې وکړي .
۲. شورى ته يې ډاډ ورکړی چې دوی هره فيصله وکړه هغه به مني .
۳. د صف په يووالي او وحدت يې ډير زيات ټينګار کړی او دا يې وعده ورکړې چې د خپه ملګرو د خوشالولو لپاره به پوره کوشش کوي .
۴. په وينا کې يې داسې ښودلې چې دی د اسلامي امارت د صف د ماتيدا په خطر تر هر چا ښه پوهيږي او د هر چا په نسبت يې پايلو ته ښه متوجه دی .
۵. منصور صاحب دا جوته کړې چې که تاسې کومه د بدګومانۍ خبر اوری بايد تحقيق پکې وکړئ او بايد فوراً يې ونه منئ.
يقيناً دا ډيره مهمه خبره وه او په دې خبره يې د خپل ځان په اړه ټولې هغه اوازې او تورونه چې په دې وروستيو وختونو کې د کفري رسنيو له لوري نشر کيدل رد کړې.
۶. د سولې او مذاکراتو د ډنډورو رد .
منصور صاحب په خپلو خبرو کې د سولې او مذاکراتو وروستی ډنډورې د دښمنانو تبليغات وګڼل او دا يې جوته کړه چې مسلمانان او مجاهدين بايد دغه ډول اوازو ته غوږ ونه نيسي .
۷. مجاهدينو ته په اخلاص ، تقوی او توکل ټينګار .
۸. کار اهل کار ته سپارل .
۹. د مجاهدينو په لباس کې د هغو غلو ، اختطافګرو او قاتلانو په ضد د مبارزې ټينګار چې جهاد يې بدنام کړی .
۱۰. مجاهدينو ته له خپل ولس سره د ښه سلوک توصيه او د ولس د همکارۍ او په اهميت باندې يې ټينګار .
۱۱. ټول امور د اسلامي شريعت په چوکاټ کې سرته رسول ، او له دښمنانو سره له داسې چلند څخه ډډه کول چې اسلام يې منع فرمايلې وي او له اسلامي حدودو څخه تجاوز او تيری پکې وي .
د محترم ملااختر محمد منصور د وينا ياد شوي ټکي ډير ارزښتمن دي ، او که په عمل کې پلي شي نو د طالبانو تر منځ به يووالی لا پياوړی کړي .
د ټولو هغو ناخوالو مخه به ونيسي چې هم د اختلافاتو د راپيدا کيدو سبب ګرځي ، هم د ولس او طالبانو تر منځ فاصله پيدا کوي او هم د روان سپيڅلي جهاد د بدنامي سبب ګرځي

ریښتینی عمر!

عبدالوکیل صداقت

پر تاسو دې شاباس وي مرحوم قایده، چې تاسو د عمر له نوم سره پوره انصاف وکړ، تاسو د سیدنا عمر بن الخطاب رض عدالت ته ورته عدالت وکړ، تاسو د سیدنا عمر رضی الله په شان د بیت المال خیال وساته او په خپلو اولادونو مو مصرف نکړ؛ خو په جهاد او فلاحي کارونو کې مو بخل هم نه کاوه.

تاسو د سیدنا عمر په څېر د اسلام دا پریوتی بیرغ دوباره هسک کړ او د نړۍ مظلومو مسلمانانو ته مو د ازاد ژوند تېرولو درس وښود.

تاسو د سیدنا عمر په څېر د کفر او الحاد په مخ کې لکه فولادي دېوال ودریدئ او سر مو ورته ټیټ نه کړ، تاسو عمري اخلاق او عمري غیرت پیژندلی و، نوځکه خو د وخت د لوی متکبر بوش وعده مو شاته وغورځوله او یو الله ته مو سر ښکته کړ!

اوس ځکه خلک تا یادوي او ویاړ درباندې کوي، ستا په مرګ یې زړونه له ژونده تور دي، ستا په فراق یې اوښکې ....اه.........اوښکې نه ودرېږي.

نه پوهېږم غم دې ولې ورځ تر بلې لکه د غره په شان په اوږو رابارېږي.

د یوه افغان لپاره د چا په مړینه اوښکې تویول عجیبه خبره ده، ځکه دلته داسې ورځ نشته چې بمبار نه وي، مرګونه نه وي، د تنکیو ماشومانو او بې ګناه سرتورو مظلومانه شهادتونه او نورې ناخوالې نه وي؛ خو ستا مرګ ولې دومره ژور خفګان لري؟ ستا له اسلام سره بې دریغه مینې او په اسلام بې مثاله غیرت دی، چې ستا غم حد نه لري او نه ورنه مسلمان خلاصیدی شي!

ستا په مدحه کې دنیوي امتیاز نشته او ستا نوم اخېستل او تائید هماغسې جرم دی، لکه څنګه چې ستا په ژوند وو. د کفر ګوډاګیانو دې د فاتحو په غونډو هم بندیز لګولی دی.

خو ستا مینه وال بیا ددې پروا نه کوي. ستا د کلک ایمان او فولادي عزم په خاطر ګوتې سترې شوي، خو ستا حق لا نه دی اداء شوی. ستا ولس د ملي امنیت او زندان له ویرې پرته په ټول هېواد کې ختمونه کوي او دعاوې درته کوي، ستا ټولو ملګرو ستا په لاره د تللو عزم تازه کړ او د شریعت د نفاذ هوډ یې کړی، ته مه خفه کېږه!!!

ستا قوي اراده او شرعي موقف هماغسې تاند دی او ددې له پاره په زرګونو ځوانان قربانۍ ورکولو ته تیار ناست دي. تا به ویل چې امریکا دې خپل کار کوي او موږ به خپل. اوس به هم هماغه خبره ده او اوس به هم هغوی خپل کار کوي او موږ خپل! تا چې به ویل توکل محض پکار دی!

ستا خبره د کاڼي کرښه ده او چې توکل محض نه وي، د دې نړیوال کفر پر وړاندې ودریدل امکان نه درلود. تاسو وښوده چې اسباب، وسلې او افراد د توکل او کلک ایمان پر وړاندې بې وسه دي!

تا ویلي وو، چې په مورډ د انګریزانو، ظاهرشاه او امریکایانو دملتیا تورونه ولګیدل، خو وخت ټول غلط ثابت کړل او دپاکستان د غلامۍ تور به هم یوه ورځ درواغ ثابت شي.

هو تاسو رښتیا ویلي و. نن ثابته شوه چې تا په ۱۴کالو کې هر نوع تکلیف وګاله؛ خو د پاکستان خاورې ته داخل نه شوئ او ستا د لارې ملګرو د دې هېواد په زندانونو کې ژوند دلاسه ورکړ. تاچې به ویل دښمني او دوستي مې یوازې د الله لپاره ده او بس! خپله خبره باندې د مرګ تر ورځې ولاړ وئ. اسامه او ملګرو سره مو دوستي په لوړه بیه وپالله او د کفرغلامانو سره مو دښمني همدارنګه وپالله! اماته په دې اړه یوه کیسه رایاده شوه.

کله چې امریکا یرغل وکړ او د قیامت صغرى په شکل هر سړي د ځان ساتلو په لټه کې و او د مقاومت اولې ورځې وې او دافرادو اشد ضرورت وو.

نو اکبراغا چې پخوانی مشهور قمندان و او د امارت په وخت کې د مرحوم ملاصیب د ځینو خودسریو په وجه ممنوع الوظیفه ګرځولی و. هغوی هم د جیش المسلمین په نوم عملیات شروع کړه او رسنیو کې مشهور شو.

نو یو څه وخت وروسته مې اغا صیب ولید او راته یې ویل چې ((ملا صاب هم عجیبه سړی دی. ماورته خبر ورولېږه، راځه چې نور په شریکه مقاومت پیل کړو؛ خو ده راته په ځواب کې غرېز پیغام راولېږه ،چې زما هماغه پخوانی موقف دی او له دې سختو شپو کې به مې هم دوست-دوست او دښمن-دښمن وي))مانا د اصولو په سر اختلاف او دوستي کې قاطع و. نن ګورو چې ستا مخالفت بې څه نه و. هغه جناب اسارت او شکنجې ونه زغملې او اوس د اشغال له ادرسه سوله بدناموي؛ خو تاسو دا درونډ بار تر اخره وزغامه.

زړور قایده!

ستا له وفات نه وروسته هم ستا ځینې متزلزل ملګري، چې ته یې په ژوند وار وار زورولی وې او اطاعت یې نه کاوه ،یو وار بیا راټول شوي او دا ورته یوه زرینه موکه ښکاري.

هغوی چې د طالب له نومه بیزاره ول او دا ۱۴کاله یې یوازې تجارت ته ملا تړلې وه، نن له غربي رسنیو سره د قیادې شورا په نوم په ډاډه زړه مرکې کوي او ستا د وراثت دعوه کوي. دوی ګرېوان ته سرنه ټیټوي، چې ولې مو په ژوند لیارترې جدا کوله؟ولې مو د ټولې دنیا کفري لښکر ته یوازې پرېښود او ولې مو په سخته ورځ دده اطاعت نه کاوه، چې نن ستا د وراثت لپاره لکه د مګرمچ اوښکې تویوي.

قدرمن رهبره! ستا عظمت، کارنامې او ویاړونه دومره زیات دي، چې قلم یې له لیکلو عاجز دی، خو بیا هم باید ولیکل شي، چې ستاسو په شان د دنیوي ژوند نه بې نیازه شاهان له پېړیو وروسته یو پیدا کېږي. الله مو هغه دنیا ښایسته لره او الله دې قبر د جنت باغچه وګرځوه.

امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد

مجدد قرن

احمد فارسی

امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله رحمة واسعة ، امام عادل ، امیر با حکمت ، قائد شجاع ، رهبر متقی ، مجاهد مرابط وعالم با عمل و مجدد قرن خویش بود ,

وقتی نام این هستی بر زبان عام و خاص جریان پیدا کرد که افغانستان در آتش جنگ های خانمانسوز داخلی ، اختلافات تنظیمی ، فساد اخلاقی ، و خدا ناترسی تمام قرار داشت , هیچ افغان از پیامدهای این جنگ ها مصئون نبود , مردها در بیرون و خانم ها در داخل خانه همیشه در معرض تعرض های گوناگون گروههای مختلف جنگی قرار داشتند ,

گروههای مسلح تمامی سرحدات اسلام و انسانیت را عبور کرده بودند ، خون انسان در مقابل یک قرص نان ریختانده میشد ، خانه های مردم در حالی بر آنان ویران می شد که در نیمهٔ شب آنان در بستر خواب در داخل این خانه ها خوابیده می بودند ، پسران جوان شان به پوسته ها کشانیده می شدند و هر نوع وحشت و درندگی بر آنان روا دانسته می شد ، دختران جوان بخاطر دفاع از عفت و عزت خویش جان های شرین خودرا از دست دادند و بسیاری ها نتوانستند حتی این چنین دفاع کنند و در چنگال وحشیان مسلح قرار گرفته و گرانبها ترین و پر ارزش ترین داشته خودرا از دست دادند ,

این وقتی بود که جهان تماشاگر بود و افغان ها امید به زندگی را از دست داده بودند و هیچ مرجعی برای نجات بجز رحمت الهی وجود نداشت , همان بود که الله سبحانه و تعالی مجدد قرن را در لباس امیر المومنین جهت یاری مردم مظلوم فرستاد , این مجاهد شجاع و دلیر با دست خالی مقابله علیه این همه بدبختی ها را آغاز کرد و دیری نگذشت که نصرت های پیهم الهی نصیب حالش گردید و مردم به شکل افواج به این مبارزه پیوستند تا بالاخره شکل حرکت را بخود گرفت ,

در چنین حالات ناگوار و تقالید افغانی و در پهلوی اینهمه حاکمیت افراد مسلح و زورگوی بر مناطق مختلف کشور ، تقسیم ولایات و ولسوالی های کشور میان قوماندانان و تنظیم ها بعید به نظر می رسید که ملایی از مسجد خارج گردد و بتواند با اینهمه مشکلات دست و پنجه نرم کند و اقوام و طوائف مختلف را دورهم بر یک کلمه و زیر یک پرچم جمع کند , اگر لطف و مرحمت پروردگار ، حکمت و موهبهٔ رهبری ، ولایت و دوستی الهی ، و نبوغ تجدد در این شخص وجود نمی داشت هرگز انسان تصور این پیروزی ها و کامیابی ها را نمی کرد ,

درین شکی نیست که تغییر حالات مذکور و ایجاد یک صف واحد و مستحکم ، برپایی امارت اسلامی با مشکلات و دشواری های مواجه از داخل و خارج ، سپس مقابله با تمام دنیای صلیب وبردگان منتسب به اسلام با استفاده از پیشرفته ترین و مدرن ترین اسلحه وتجهیزات برای شخص عادی که از ولایت الهی و نبوغ تجدد خالی می بود ممکن نبود ,

مسلم است که این مبارزه و مقابله در چنین حالات از توان افراد جز مجددها آنانیکه نصرت الهی در هر قدم با ایشان است خارج است , علاوه بر این اگر ولایت و دوستی خداوند متعال شامل حال این رهبر و امیر نمی بود ممکن نبود که شخص عادی همچوکوه شامخ در مقابل این همه تهدیدات قرار گیرد و در این حالات دشوار و ناگوار چنان متصدی به احکام شرع باقی بماند که نه تنها دوست بلکه دشمن نیز انگشت حیرت به دندان باقی بماند ,

دنیا ، حکومت وقدرت با لذت و متاع آن نتوانستند اندکی از ایستادگی ، استحکام ، پایداری ، ثابت قدمی ، وفا به عهد و وعده با خالق و مخلوق این پیکر آهنین بکاهند , برای شخص عادی ممکن نبود که بخاطر حکم شرع که به گمان بعضی از ساده لوحان فرعی و ناچیز بشمار می رفت سر اطاعت به طواغیت جهان خم نکند و یا در مقابل پیشنهادات آنان تسلیم نگردد , تنها ولی خداوند متعال می تواند بخاطر حکم شرع از پیشنهاد کفار مبنی بر به رسمیت شناختن حکومت وی توسط همه جهان ، رفع قیودات و محاصره های اقتصادی وکمک های بی مقابل چشم پوشی کند و اینهمه را در مقابل احکام شرع ناچیز بداند ,

علاوه بر این ، بجز برای ولی خداوند متعال برای فرد عادی ممکن نبود که در این حالات دشوار نه تنها با جهان صلیب بلکه با منافقان داخلی با حکمت و تدبر مبارزه کند و صف مجاهدین را چنان واحد ، استوار و مستحکم نگهدارد که جهان اعم از دوست و دشمن از چنین نظم و اطاعت در تعجب بیافتد ,

و یکی از نشانه های ولایت امیر المومنین رحمه الله این بود که به وعده الهی که در حدیث قدسی می آید که هر که با ولی (دوست) خداوند متعال دشمنی کند او تعالی علیه وی اعلان جنگ می کند ، آنعده از دشمنان وی که خودرا مسلمان و مجاهد گمان می کردند مگر در دشمنی با امارت اسلامی در صف صلیب و دشمن قرارگرفته و علیه امارت اسلامی و شخص امیر المومنین پروپاگنده و تبلیغات کردند این وعده الهی شامل حال شان گردید و چنان ذلیل و رسوا شدند که همهٔ جهان شاهد آن گردید ,

بالاخره این مجدد قرن و مجاهد مرابط آنچنان عزیز و مردانه وار از این جهان رحلت کرد که حتی دشمن نیز نتوانست از این عزت و سربلندی که الله متعال به وی ارزانی فرموده بود انکار کند .

امیر المومنین رحمه الله رفت مگر نامش ان شاء الله تا ابد شامل کتاب مردانگی ، شجاعت ، عدالت ، استحکام ، پایداری و ثبات ثبت شد و ان شاء الله راهش توسط دوستان و همراهانش ادامه خواهد یافت و دشمن یکبار دیگر به یأس و نا امیدی مواجه خواهد شد ,

الهی روح امیر المومنین را شاد و راضی نگهدار و مسیرش را همیشه و جاودان داشته باش , دوستانش را عزیز و دشمنانش را ذلیل داشته باش ، و ما ذلک علیک بعزیز .



د ملا محمد عمر مجاهد دستر شخصیت په اړه،

زموږ اجتماعي مسئولیت

رائځئ چې د انصاف قضاوت وکړو

شهیدزوی

نړۍ چې له کومه نه په انسانانو اباده شویده پکې د عامو انسانانو تر څنګ ډېر ستر شخصیتونه تېر شویدي ؛ انساني تاریخ دوئ او د دوئ ټولې کارنامې او مثبت اړخونه په زرینو تورو لیکلي دي خو د دوئ لږ یا ډېر منفي اړخونه یې هم ندي هېر کړي .

همدا راز په نړۍ کې چې کوم مشهور خونخوار او سفاح خلک تېر شویدي هغوئ او د هغوئ ناکاره کړه وړه هم تاریخ ندي هېر کړي خو ور سره یوځای یې په هغوئ کې شته د هغوئ ځني غوره صفات هم له پامه ندي غورځولي چې همدا د انصاف غوښتنه ده.

څه دا منم چې د نړۍ ټول تاریخ مستند ندی اونه په تمامه معنی د اعتماد وړ دی تاریخ دافرادو، ولسونو او ملتونو د ښو او بدو په یادولو کې د ډېرو مبالغونه کار اخلي او په ډېرو موارد و کې تاریخ لیکونکي د مذهب او ملت د اختلاف پر بنسټ د تعصب ښکار کېږي نو ځینې واړه خلک او وړې کارنامې ډېرې لویې او دنورو ډېر لوی خلک او لوېې شاهکارئ هېروي.

نو تاریخ ته هغومره مرتبه او مقام ندي ور کول پکار څومره مقام او مرتبه چې ور کړل شویده خو داسې هم نده چې په تاریخ لیکلو کې یواځې د مبالغونه کار اخستل کېږي ؛ دلته ډېر ربښتیا ګویه خلک شته چې د هر ډول تعصب نه لری دي او یواځې حقایق او ربښتینې خبرې لیکي ؛ موږ د همدغسې خلکونه امېد لرو چې د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په اړه به د انصاف قضاوت وکړي ، ربښتیا به ولیکي ، حقایق به هیڅ پټ نکړي او خپل مسؤلیت به اداکړي .

دا نه څه اونه بل څوک ویلی شي چې ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله دې د ټولو افغانانو ترمنځ داسې متفق علیه شخصیت شي چې هر څه دې یې هر څوک مثبت وګڼي او د هغه د فکر ، پالیسۍ ، حکومت دارۍ ، دنني او بهرني سیاست ، کړنلارې او اډیالوژۍ سره دې هیڅوک هیڅ ډول مخالفت ونه لري .

هغه انسان و ؛ د هغه نه د سهوو او خطاګانو وقوع څه ناشونې یا بعیده نه وه ؛ هغه چې په ډېرو سختو شرایطو کې د هېواد د مشر حاکم په صفت د ملت خدمت کاوه او کابو دوه لسیزې یې دیو داسې غور ځنګ مشري وکړه چې له څو هېوادو پر ته یې تل ټوله نړۍ مخالفه وه او ۱۴ کاله یې د نړۍ په تاریخ کې د تر ټولو ستر غربي اتحاد سره په جنګ کې تېر شول نو کېدای شي چې څه سهوې او خطاوې به ترې شوې وي ؛ که

کومه داسې سهوه اوخطايې په ګوته شي چې هغه واقعاً هم سهوه اوخطاوي نودهغې سره په خپل وخت کې مخالفت ښکاره کول معقوله خبره ده خودهغه مثبتولويو کارنامو ته هم په منفي نظر کتل ؛ ستر ګې پرې پټول اوپه سترو اتلوليو اعتراف نه کول هم لويه بې انصافي ده .

دانصاف غوښتنه داده چې ټولومثبتو کارونو ته يې په مثبت نظرو کتل شي اوپه هرې اتلوالۍ يې ښه په ورين تندي اعتراف وشي .

هو ! لکه دهغه دنوم سره چې له ملا اومجاهد پر ته بل څه نشته همداحقيقت هم دی ، دار ښتيا وه چې هغه نه شيخ الاسلام و ، نه علامه و ، نه دکتور و ، نه چر ته دلوی پوهنتون ياجامعې استاذ و ، نه شيخ الحديث اوشيخ القرآن و ، نه لندن او واشنګټن ته تللی و ، نه يې آکسفورډ او کيمبرج ليدلی و ، نه مشهورمقرر و ، نه خبرلوڅ و اونه هم

نه يې پر اسلامي نړۍ دمسلطوځينو لاسپوڅو مکارو ، چالاکو او حيله بازو حاکمانو غوندې په ډېروژبو خبرې کولې ، هغه يواځې ملا اومجاهدو ؛ په افغانستان کې چې ددينې علومواوفنونو دزدکړو کومه ساده اوسپېڅلې طريقه رائج وه په هماغه ساده طريقې يې ددينې علومواوفنونوزدکړې کړی وې او پاتې ټول عمر يې په جهاد کې تېر شوی و چې همداده امتيازي شان اومعنوي ښايست و .

ولس فريبکاران اوچالاک ډاکټران ، قدرت طلبي او جاه طلبي انجنران

پر واک مين فريبکاران استاذان ليدلي وو اوددوئ ټول ظلمونه اووحشتونه يې مخې ته وو نو ځکه ور ته دده رحمه الله تعالی دژوند او کلام سادګي تر ټولو زياته داطمينان وړ وه ، او دده دينداري ، تقوی ، جهادي اهدافو ته وفاداري ؛ دشريعت په لار ښووونو استقامت او نا متزلزل قيادت دده دولسي محبوبيت تر ټولو اساسي اواصل لامل و ، او دده همدې امتيازي شان هغه داسلامي نړۍ لوی قائد وګرځولو ؛ دنړۍ ټول مسلمانان او جهادي حر کتونه ور ته دامير المؤمنين خطاب کوي اوپه کارنامو يې وياړي ، له وفات وروسته ،دهغه روح ته په لپولپو دعاګانې کوي ،دده رحمه الله تعالی په باب خپل نيک تاثرات نشروي او دده دهمدې يادو عالي صفاتوله امله لاهم دطالبانو لښکر دجهادي بهير مخکښان بولي؛ خپله همبستګي يې ور سره ښکاره کړه اوداسلامي امارت دنوي امير سره يې په ډېر لوړ احساس اولويې جزبې بيعتونه وکړل .

نو له شکه وتې خبره ده چې هغه په ټولې نړۍ کې رښتونې جهادي روحيه ؛داسلامي بهرني اودننې حقيقي شکل او اصل اسلامي حکمراني بيا راوژوندۍ کړه نوهغه ددې حقدار دی چې دعملي جهاد عملي اسلامي سياست اوحقيقي اسلامي حاکميت ددې زمانې مجدد وګڼل شي .

هغه په جهادي تنظيمونو کې ويشل شوي ټول مجاهدين په يوصف کې ودرول اونه بدلېدونکي اصول يې ور ته وضع کړل ؛ هېواد کې دروسانو پر ضد تر سره شوي څوارلس کلن جهاد نه وروسته دقوميت ،سمت او ژبې په نامه بل شوي اورونه يې مړه کړل او ټول افغانان، دهر قوم سره يې چې تړاو و اوپه هرې يې چې خبرې کولې ؛ دشمال وو، که دجنوب ،دختيځ وو ، که دلويديځ، داسلامي امارت ديوبيرغ لاندې سره راټول او دېر ديو په اشارو دبغض ، حسد او دښمنيووبل اورونه يې دتل لپاره مړه کړل چې دهمدې واحد صف دوحدت په بر کت مسلمانان سرلوړي شول ؛ جهاد کامياب شواودنړۍ دسترو زبرځواکونو نه جوړ لوی صليبي اتحاد دشکست تر سرحده ورسېد اوپه واحد صف کې ولاړ همدامجاهدين نن دټولې نړۍ دمسلمانانو نړيوال قيادت کوي .

هغه رښتونی مسلمان متوکل حاکم اودمحمود غزنوي حقيقي وارث ووچې په باميانو کې يې دبودا دمجسمې په نړولو دشرک بتکدې اودبهرنيانو دفحاشۍ اډې په ډېر جرأت له منځه يوړې ؛ ددې دپاتې کېدو لپاره يې نه دچا پيسې قبولې کړي او نه دمسلمانانودا زړور مشر دکوم ښکيلاکي ملک له تهديدنه ووېرېد .

هغه ربښتیا چې دمسلمانانو قدردان حاکم و ؛ نړۍ ته یې وښودله چې یومسلمان څومره دقدر وړ دی ؟! هغه دیوه عرب مسلمان مجاهد شیخ اسامه بن لادن رحمه الله تعالی څخه بشپړه ننګه وکړه اوپه دې اړه یې دنړۍ یوډول فشار ته هم سر ټیټ نکړ ؛ امریکایي فرعونیت ته یې غوږ منفي ځواب ورکړ ؛ دخپلې واکمنۍ نه تېر شو خوداسلام داصولونه تېر نه شو .

هغه چې دغربي زبرځواکونو ،نه وېرېدلو ، پرمسلمانانو دننګې خبره چې راغله دشرقي نېږدې زبرځواک روسې یې هم څه پروا ونه ساتله اوکله چې چیچین دمجاهدینو په لاس فتحه شو نوپه یوازې ځان یې دچیچین اسلامي حکومت په رسمیت وپیژندلو ؛ داهغه تاریخ جوړونکې کارنامه وه چې پدې سره یې دقفقاز دمسلمانانو تر څنګ دټولې سیمې مسلمانانو کې جهادي روحیات لوړ اودجهادي پاڅون او خپلواکۍ اخستلو ساه یې پکې پوه کړه .

امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی چې دکوم حرکت بنسټ کېښود او کابوتر دوه لسیزو یې ددې حرکت قیادت اومشري وکړه دې حرکت دډېرې سترې ناهیلۍ په حالت کې ولس اومسلمان ملت ته هغه بې ساري لوی خدمت وکړ چې چابه یې تصور هم نه شو کولای .

تاسې وګورۍ ! دتجاوزګرو روسانو په مقابل کې چې په شوي جهاد اوهجرت کې افغانانوسخت کړاوونه وګالل ؛سترې قربانۍ یې ورکړې یو نیم ملیون افغانان شهیدان شول او د افغانانو دمقدس جهاد او پکې د سترو قربانیو په نتیجه کې چې روسانو ماتې وخوړه نو دافغانانو او د نړۍ د ټولو مسلمانانو د هیلو سره سم دلته د عدل او امن نه ډک سوچه اسلامي نظام نافذېدونکی وخوله بده مرغه چې زموږ سر کښانو دې لویو قربانیو ته ونه کتل ؛د جهاد اهداف یې په نظر کې ونه ساتل او هغه څه یې وکړل کوم چې دنړیوال کفر ارمان و ؛ د قدرت په سر د څو حریصو څېرو د خپلمنځي اختلافاتو اوپه نتیجه کې یې په پلازمېنې اودهېواد په ګوټ ګوټ کې درامنځته شویوجنګونو له امله نه یوازې داچې دې نظام تحقق و نه موندلو بلکې دمسلمانانو قتل عام وشو ؛ کورونه یې لوټې لوټې شول؛ دکابلیانو په شمول په سونو زره هېوادوال بیا هجرت کولو ته اړشول اوپر دې غریب ولس د شر او فساد نه ډک یو داسې حالت راغلو چې دولتي نظم بیخي له منځه ولاړ ؛ پرهېواد طوائف الملوکي مسلطه شوه ؛ هر زورور به د خپلې قبضې لاندې سیمې باچا و ؛ دهرو دوه ښارونو تر منځ به دسر کونوپه سر د غلو او لوټمارانو په سونو پاټکونه وو ؛ افغان ولس د صحت او تعلیم په شمول دژوند د ټولو اسانتیاو نه بې برخې و او د هیچاځان ، مال او عزت نه وخوندي .

داخوظاهري اومادي تاوانونه وو ؛ معنوي تاوان خوبیا ډېر ستر و؛ په افغانستان کې په داسې خطرناکې خپلمنځي جګړې کې دجهادي ډلو داخته کېدو له امله د جهاد عظمت د خلکوپه ستر ګو کې راکم شو؛ دې ستر ، کامیاب اوتاریخي جهاد ته کمونستانو او نېشنلستانو د فساد خطاب وکړ ؛عام ذهنیت هم ترډېره حده له دوئ متاثر شو ؛ اسلام ته ژمنه ټوله حلقه اوپه ځانګړي ډول مجاهدین په نړۍ کې دیوې ناکامې ډلې په حیث وپېژندل شوه .

په افغانستان کې دروسانو دماتې سره سم دخلکو یقین ته پرېوتې وه چې نړۍ کې ټولې تیورۍ ، فلسفې او ګروهې ماتې شوې ؛ پر نړۍ دحاکمیت وار د اسلام دی او ټوله انساني ټولنه به ژغوري .

خوله بده مرغه چې کله تنظیمونه خپلو کې سره ښکرپه ښکر شول نو د اسلامي نظام په نوم داسې نظام رامنځته شو چې خلکو په هر نظام شکر وویست.

دا حالت به د هرې ورځې په تېرېدلو له بد نه بدتر کېدلو؛ افغانان داسې پر او ته رسېدلي ول چې په تاريخي لحاظ ترې د يوې سوبې تمه لرل خو ډېره لرې وه په خپل منځ کې ترې د سولې ټول امېدونه هم له منځه تللي وو نو ځکه دښمن فکر وکړ چې دا خلک ګونډې پراګنده شول او وحدت يې د تل لپاره له منځه ولاړ.

داهغه وخت وچې تر ټولو ستر ګواښ چې دافغانستان د تجزيې ګواښ و دښمنه نړۍ ور ته ستر ګې په لار شوه او ولې به نه وه چې په جنګ کې ښکېلو ډلو کې داسې لويې ناولې ډېرې ځېرې وې چې دهېواد ويش ته يې ښه په سپين ستر ګي خوشالي ښکاره کوله اوپه زړونو کې يې دا ګوړي اوشکرې ماتولې چې په واړه مساحت کې خو د ده په ځېربې سواده شيان چې ځوک يې په سړو کې هم نه شمېري، وزير کېدای شي.

هغه نړۍ چې افغانانو د روسانو د ستر شر نه ژغورلې وه پکې يوهېواد هم داسې نه و چې پدې حالت کې يې افغانانو ته لاس ور کړی وای او يايې ددې بد حالت نه د دوئ د راويستلو لپاره کوچنی اقدام يا فکر کړی وای.

داچې د ستر ګټل شوي جهاد نتايج او ثمرات ضايع کېدل نو په دې حالت د نړۍ مخلص مسلمانان سخت زوربېدل ځکه چې نه يوازې افغانانو ته بلکې د نړۍ ټولو مسلمانانو ته د افغان جهاد د نتايجو ګټل او ساتل مهم وو ؛ کله چې د روسانو له ماتې وروسته ځينې رهبران خپلو کې سره ونښتل د نړۍ لوی لوی علماء، دعات او خير خواهان د دوئ د روغې جوړې لپاره لاس په کار شول ؛ پدې لار کې هغوئ ډېر تکاليف وګالل خو په جنګ کې اخته اړخونو جنګ ونه درولو او نه پکې د جهاد د ثمراتو اودامت داجتماعي سترو ګټو دساتنې ځه فکر پيدا شو.

له هر لورې ناهيلي وه او دې غريب ولس هيڅوک داسې نه ليدلو چې دامېد ستر ګي يې ور اړولی وای اونه يې يو فيصد دا تمه لرله چې ګينې د دې ستر ناورين نه به يوه ورځ راووځي اويابه پدې هېواد کې امن ، ثبات ، دولتي نظم اونظام بياوجود ومومي .

په هېواد کې دننه هم لوی هجر تونه رامنځته شوي وو اوچاچې دهېواد نه بېرون هر هېواد ته د تللو توان لرلو ترې تللي وو ياترې تلل اودهېواد غريب خلک دبې کارۍ اوغريبۍ تر څنګ دبدامنۍ اوفسادنه ډک دې حالت سخت زورول ؛ له هر لوري ناهيلي وه اود ناهيلۍ نه ډک په همدې ستر حالت کې د ستر فراست څښتن ؛ د هېواد او ملت لوی غمخور ، رښتيني مدبر ، د همت غر او د جرأت ، حريت او د قربانۍ سمبول ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د خپلو څو ملګرو سره يوځای ددې ستر شر او فساد پر ضد په يو کلي کې توره په لاس ميدان ته راودانګل او چې دې کوچنۍ ډلې ته الله تعالی په لږې مودې کې په قندهار کې ستره کاميابي ور په برخه کړه نو د افغانستان ټول حق پالونکي علماء او د ديني مدرسو طالبان ور سره يو ځای شول ؛ د طالبانو تحريک ترې جوړ شو چې ټول مجاهد ملت يې تر شا ودرېدلو اوهر شوم پلان يې پوچ کړ ؛هره بده حيله يې په شا وتمبوله ؛هر بد نظر يې له بېخه وکاږه اوهره ناکاره اراده يې په نطفې کې خنثی کړه .

هو !همداملا محمدعمر مجاهدوچې دغوري ،غزنوي او ابدالي دجغرافيې داسې ساتنه يې وکړه چې تجزيه ماران يې تر تهران ، کولاب ، استنبول او ماسکو ورسول.

پر هېواد دژبني ، سمتي اوقومي تعصباتوراخپرې شوې ټولې تورې ورېځې دملي اوديني وحدت پاک نسيم له دوشنبې او تهرانه هم پسې وروا ړولې ؛ د افغانستان د ويش هره دسيسه يې له منځه يوړه او قومي تړون يې دسپېڅلې عقيدې په داسې تار سره وتاړه چې هيڅکله شلېدونکی اوخلاصېدونکې ندی.

که دښمنانو دافغانانو ددې ملي وحدت نه پرون انکار کاوه آيا نن يې کولای شي؟ تاسې وګورئ چې په شمال کې مجاهدين د اسلامي امارت په اطاعت کې ددښمن پر ضدپه کوم احساس جنګېږي او په کومه رشته سره تړلي دي ؟

دقدرت اوډالرو ورږوچې پرون بيا د تجزيې سندرې پيل کړې اوپدې دليل د اشغال د دوام خبرې کېدلې څنګه به يې تکراروي چې ملت په اتفاق دتجزيه کارو ټولې دسيسې عملاً ورشنډې کړې او د هېواد په لر وبر کې دهرې ژبې ،هرې سيمې اوهر قوم سره تړاولرونکي مجاهدين سره په يوه مزي او واحد اطاعت تړلي د اسلامي امارت تر اطاعت لاندې ددښمن پر ضد په پوره مېړانې جنګېږي اولويې لويې سيمې غونډې غونډې ولسوالۍ ددښمن دقبضې نه ازادوي اوستر بيسونه اوفوځي مر کزونه ترې نيسي .

افغانانويواځې هغه وخت خپل تاريخي ارزښت اومقام ساتلای چې کله يې دخپل ملي وحدت مظاهره کړېده او لاسونه يې سره ور کړي دي ؛ اتفاق واتحاد چې نه وي بيا خو تاريخ د پول پرانانو ،جنګ سالارانواو پاټک سالارانو کيسې ليکي .

د تنظيمي جګړو ، رقص مرده اودخپلوعفتونودساتلو په موخه د کابل ښار دمکرويانو ددريمو او څلورمو پوړونو نه لاندې ځمکې ته دخپلو ځانونو راغورځونکو عفيفوخويندو د ناموسونولوټېدلو هغه داستانونه خوندي کوي چې د کمزوري زړه خښتن يې لوستلای هم نه شي .

نوجاه طلبو ،ډالرو مينانوا ،دقدرت وږو او بې ارزښته خلکو چې په کوم وخت کې د دې مسلمان ملت د اسلامي ورورولۍ احساس دځپلو ؛ دتعصباتو خپرولو ، دملت دوېشلواود هېواد دتجزيه کولوله لارې زموږ تاريخ کې توربابونه ورزياتول ملا محمد عمر مجاهد په پوره جرأت اومتانت توره په لاس دهمدې بې وژدانوپه مقابل کې ميدان ته راووت ؛ افغاني تاريخ يې نه نړېدو ته پرېښود او نه يې خرابېدو ته نودا پر ځای خبره ده چې امير المؤمنين د جهاد اودافغاني تاريخ د عظمتونو وارث و .

له دې هيڅوک انکار نشي کولای چې د جهاداوافغاني تاريخ دعظمت وارث چې کله دخپلوملګروطالبانو اوملايانوسره يوځای توره پورته کړه او ميدان ته راووت نو ايله چمن ماليار وموند ؛ پر خزان وهلو څېرو دبهار تازګي خپره شوه ؛ هيلو بياغوټۍ ونيوې ؛ دارمانونوغوټۍ ګل شوې ؛ دجهاد نوم اومقام بيا احيا شو ؛ دبلالي اذان انګازو افقونه بيا راويدار کړل ؛ دممبر اومحراب آواز بيا خپل اثر ښکاره کړ ؛ ددينې لارښوونو پيروي عامه شوه ؛ داسلامي شعايروقدر داني پيل شوه ؛د اسلام ، ملت ،خاورې اوناموس نه ددفاع په خاطر قربان شويو سرونو قدر پيداکړ ؛د اسلام دحاکميت په هدف له نړۍ کوچېدليو روحونو ارزښت وموند ؛ هغو سرونو قيمت وګاټه چې د شريعت د نفاذ په کوښښ له تنو جداشول .

په افغانستان کې اسلامي نظام راتلل چې دټول مسلمان ملت ارمان وحاکم يې کړ او نړۍ ته يې داوښودله چې موږ چې د کوم نظام راوستلو لپاره قرباني ور کړېده په نفاذيې قادر يو اوپدې لار کې دچا خنډ کېدل نه منو .

هو ! د سترو قربانيوو په نتيجه کې دتېر جهاد ثمراتو تحقق وموندلو اودې بې چاره ملت ته داسې د امن او سوکالۍ نه ډک نظام ور په برخه شو چې په ټول عمر کې به افغانانو د خپل سر ،مال او عزت د خونديتوب داسې احساس نه وکړی لکه پدې نظام کې يې چې وکړ .

هماغه هېواد چې ورانډې يکې دهيچا پت نه و خوندي ؛ يکې به که يوې مېرمنې په ټول هېواد کې دتنها ګرځېدلو اراده وکړه بې له کوم کوچني خوف او وېرې به ګرځېدای شوه ؛ سره له دې چې په لويولاروبه په سونو کيلومتره لرې چرته دطالبانويو مرکز و خو له طورخم نه به دهرات پرلور دپيسو ډک موټر دمسلحو ساتونکو پر ته دړرپور په يواځې ځان روان کړی و اوپه خيال وخاطر کې به يې هم دا نه راتله چې ګيني څوک به يې پيسو ته دضرر رسولو اراده وکړي ؛ د اسعارو د تبادلې په بازارونو کې به صرافانو په خپلو پنډونو پنډونو پيسو څادرونه راخپاره کړل اوپه کامل اطمينان او ور ته د نقصان رسېدلو له وېرې پر ته به ترې خپلولمونځونو اونورو ضرورتونو ته تلل .

داسمه ده چې موږ له بل هر ولس نه زيات او ستر اتلان لرو او د هر يو اتلولي په خپل ذات کې ډېره ستره ده خو که د انصاف په نظر وکتل شي نو د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالى دااتلولي به زموږ په تاريخ کې بې ساري وي.

په افغانستان کې چې دا نظام ټولې کفري نړۍ اوخصوصا امریکا ته دمنلو وړ نه و نوددې نظام ، اسلام او مسلمانانو دله منځه وړلو په موخه د امریکا په مشرۍ کې لوی صلیبي اتحاد رامنځته شو ؛ دا دانساني تاریخ هغه تر ټولوستر اتحاد و چې د نړۍ بل یوطاقت یې هم مقابلې ته د راوتلو جرأت نه شو کولای او ټول ور ته تسلیم وو ؛ ددې اتحاد مقابلې ته راوتل خو ډېره لرې خبره وه هغه څوک چې اوس بریتونه تاووي ددې اتحاد دنوم په اورېدوبه یې لینگي رېږدل خو ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله ددې ستر اتحاد په مقابل کې د استقامت د غر په څېر میدان کې ودرید او د شرمونکې ماتې سره ددې اتحاد د مخامخ کولو پوره یې ددې پیل شوي جهاد قیادت وکړ چې دا یقینا د نړۍ په سطحه بې ساري اتلولي ده .

ددې فتحې تر څنگ دا هم ډېره مهمه ده چې په افغانستان کې چې د تېرو ۱۴ کلونو راهیسې د کوم جهادمشري ملامحمد عمر مجاهد کوله اودهمدې جهاد په برکت مغرور امریکا اوټول متحدین یې دسختې شرمونکې ماتې سره مخامخ شول نوڅرگنده خبره ده چې مکار دښمن به په تېرو ۱۴ کلونو کې دهغه دبدنامولو لپاره له حده زیاتې هڅې کړې وي خو هیڅ داسې څه ور سره نشته چې وربانديې یې بدنام کړي ؛ دښمن دهغه په اړه نړۍ ته دویلولپاره یواځې همدومره لرل چې هغه ترویریست (مجاهد) دی اودترویستانو (مجاهدینو) مشري کوي نوباید ووژل شي یا ژوندي ونیول شي .

نو داسلام او مسلمانانو دې ازلي دښمنانو چې خپل دې ستر دښمن کې داسې هیڅ ونه موندل چې وربانديې یې بدنام کړي داد افغانانولپاره د ډېر لوی افتخار خبره ده .

دنړۍ په تاریخ کې تر ټولو لوی اوپه مادي اوعسکري وسایلو تر ټولو سمبال اتحاد چې دوسایلو په لحاظ زموږد کمزور واودشمېر په لحاظ زموږ دلږو لښکرو په مقابل کې ماتې خوري داز موږلپاره بې حده لوی افتخار دی ؛ که څوک له دې افتخارنه انکار کوي ،یایې دبې ارزښته کولوهڅې کوي اویاهم خپل افتخارپر دی کوي دابه دخپل تاریخ سره نه جبر انېدونکی داسی جفاوي چې ملت به یې هیڅکله هم ونه بښي .

ددې فاتح لښکر سر لښکرچې دومره لوی شخصیت دی چې سره له کوښښونوېکې نه اشغالگر دښمن اونه هم لاسپوڅي داخلي دښمن څه دپام وړعیب پیداکولای شي نو همدامو دافتخاراتو افتخار دی اوهمدامودزرین تاریخ یومستقل ستر باب دی .

محترموافغانانو مؤمنو لیکوالانو ،څېړونکو ،ادیبانو اوعامومسلمانانو! راځئ چې دسمتي ، قومي ، تنظیمي ،ژبنیزو اونوروتعصباتوهنداري له ستر گو لرې کړو ؛دملا محمد عمر مجاهدرحمه الله تعالی دشخصیت په اړه دانصاف نه کارواخلو اوخپل تاریخي مسئولیت اداکړو .

دملاصیب د کومې پرېکړې یاخبرې سره دنظر اختلاف کېدای شي خودنظر داختلاف له امله دهغه لویې اتلولۍ اوشاهکارۍ له پامه غورځول به لویه اشتباه اوبې انصافي وي .

دنورو ولسونوډېر واړه خلک وي خوټول ور ته یولاس اویوه خوله شي نو ترې نومیالي جوړ کړي اوپه ډېروړو کارنامو یې اتلان کړي ؛ همدا دخلکودیووالي کمال وي چې دخپلو شغالانونه هم زمریان جوړولای شي ؛ موږ ته چې خدای داسې اتل راکړی چې دټولې اسلامي نړۍ حقاني علماء ،پوهان ،جهادي قائدین ، عام مجاهدین اوټول مخلص مسلمانان یې خپل اتل بولې ؛دیانت ، عظمت ، شجاعت ، متانت ،بصیرت اوکرامت ته یې سلام کوي او دعقیدت نه ډک خوراعالي الفاظ یې روح ته ډالۍ کوي نوهمدامو ددې وخت دی چې په کوردننه ټولې وړې خبرې شاته کړو اوڅرنگه یې چې اسلامي نړۍ غواړي همداسې یې له هېواده وباسو اونړیوال یې کړو .

هو ! هغه نړیوال دی او تاریخونه به یې نړیوال بولي ؛ د کوم مقاومت په نتیجه کې چې امریکا او متحدین یې مات او ټوله نړۍ یې له شرنه محفوظه شوه ، ددې مقاومت قیادت چې دملا محمدعمر مجاهد په غاړه و نوآیا هغه ددې حقدار ندی چې یاده ټوله نړۍ یې خپل اتل وبولي ؟

داخو هر دشعور ښښتن او دامریکادار ادونه خبر تن مني چې امریکا دټولي اسلامي نړۍ تر ټنګ دسیمې ګڼ شمېر نااسلامي هېوادونه هم قبضه کول او له ستوني تېرول غوښتل خوداچې امریکا او متحدین یې په افغانستان کې دسخت مقاومت سره مخامخ شول اودامقاومت تر ۱۴ کلونو اوږد شو ؛ ددې مقاومت په نتیجه کې ؛ چې امریکا او متحدی

یې د تاریخې ماتې سره مخامخ شول نو د افغانستان تر څنګ یې ټوله نړۍ له شرنه په امن کې پاتې شوه .

نوحقیقت دادی چې دټولي اسلامي نړۍ تر څنګ دسیمې نا اسلامي هېوادونه هم دملا محمدعمر مجاهد رحمه الله اودهغه دمجاهدینو ملګرو پوروړي ده .

څه امیدلرم چې پدې هېوادونو کې به ټول حق پالي اوانصاف خوښوونکي پدې حقیقت اعتراف وکړي ؛ که په ژوند نه وو دوفات نه پس به ددې پور داداکولو کوښښ وکړي اودانصاف غوښتنه به پوره کړي .

اوڅه پوره باورلرم چې تاریخ به دا یوه اتلولي هم هېره نکړي ؛ پدې اړه به سم قضاوت وکړي ؛ تاریخ به هغه رحمه الله د صلاح الدین ایوبي په څېر داسلام دستر واو نامتو اتلانو څخه وګڼي .

ستر احمدشاه بابا اومیرویس نیکه افغانان وو خو ټوله نړۍ مني چې تاریخي حیثیت یې نړیوال و ، دنړۍ په تاریخ کې قدرمن امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی هم داستقامت ، حق پالنې ، خداپرستی ، زړورتیا ، دیانت دارۍ ، په وعدو دوفا ، په خپلې حقې خبرې دټینګ ودرېدلو ، امانت دارۍ ، شریعت پالنې په خپل ولس دزړه سوي او ترحم ، دټول مسلمان ملت سره دخواخوږۍ ، بشر دوستۍ ، ددښمن په مقابل کې دمتین عزم لرلو اوبواځې دالله تعالی پر ذات دتوکل داسې زرین بابونه جوړ او راتلونکې تاریخ کې یې ځانته دومره لوړ ځای پرېښود ، چې دنړۍ په سطحه دستر ومسلمانو اتلانوغوندې به یې مسلمان ولسونه تر قیامته په تاریخ جوړونکو کارنامو وياړي .

پدې اړه پوره اطمینان دی چې تاریخ به هیڅ هم هېر نکړي خو دا اندېښنه شته چې په تاریخ کې ثبت شوي زیاتره شیان شاید راتلونکي نسلونه مبالغه یاخیالي کیسې وګڼي ځکه چې دادومره ډېرې کارنامې اوداد دومره ډېرې شاهکارۍ اواتلولۍ عادةً په یوانسان کې خلکو ته ناشوني ښکاري ، خوهغه چې عام انسان نه و ؛ ښښمن تعالی لوی عظمت او کرامت ور کړی و واقعیت به همداوي چې دادومره ښیګڼې ، اتلولۍ اوشاهکارۍ دهمده په وجود کې نغښتې او دهمده په لاس تر سره کړې وې .

نو ځکه وایو چې وفات یې داسې ستره حادثه ده چې باید ټول عالم پرې وژړي او خصوصاًموږ خو له ستر ګو داوښکو پر ځای وینې توی کړو . خو داچې ددې طبعي ستر غم سره د اطمینان نه ډک او د معنوي خوښۍ ډېرې لویې خبرې اواسباب هم شته نو دا غم یې پر ټولو مسلمانانو سپک کړی .

یو خوداچې امیر المؤمنین رحمه الله تعالی له نړۍ ستر ګې پټې کړې خو د صلیبي اتحاد له لورې د هېواد د اشغال نه وړاندې او د اشغال نه پس یې دښمن ته دیوې کوچنۍ لمحې لپاره هم سر ټیټ نکړ او نه یې په خپل عمر کومه داسې کوچنۍ خبره یا حر کت وکړ چې د افغانانو پر تاریخ تور ټکی شي بلکې هره خبره او هره کړنه یې تاریخ جوړونکې وه

کفري نړۍ خو کفري ده پر اسلامي نړۍ مسلط کابوټول حاکمان چې تاریخ شرمونکي دي نو دامیر المؤمنین دهمدې تاریخ جوړونکي شخصیت سره دنړۍ نه تلل دمسلمان ملت لپاره ډېره دخوښۍ اوافتخار وړ خبره ده .

دامیر المؤمنین رحمه الله په اړه ددښمن ناکامي هم دمجاهد ولس او ټول مسلمان ملت لپاره دډېر ستر اطمینان خبره ده .

هو ! هغه چې دهېواد نه دیوې ورځې لپاره هم بېرون وته وتلو خو بیا یې هم داخلي او خارجي دښمن سره له ټولو کوښښونو په ژوندي نیولو یا وژلو ونه توانېد ددښمن داناکامي او دخپل امیر په اړه ددې سترغم نه دمسلمانانو بچ کېدل د ټولو مسلمانانو لپاره دډېرې خوښۍ خبره ده.

اودنوي امیر ملا اختر محمد منصور صیب پر ټاکلو چې داهل الحل والعقد دشورې ټول غړي متفق شول اوبیاور سره دامارت ټولو لویو او وړو مسئولینو ،عامو مجاهدینو اومخلصوعوامو او آن دنړیوال جهادي تنظیم القاعدې دقیادت پورې په ډېر لوی جوش اوجزبې بیعتونه وکړل او د اختلاف درا پور ته کېدلو کومه احتمالي وېره چې وه الله تعالی یې کلي مخنیوي وکړ دابیادټول امت لپاره ترټولوزیاته دخوښۍ خبره ده او ددې دلیل دی چې داسلامي امارت دمشرانو دامیر المؤمنین په پرېکړو ډېر لوی اعتماد او اطمینان دی ؛ ټولو مشرانو د ملااختر محمد منصور په نوم په هماغه شخصیت اعتماد وکړ او خپل امیر یې وټاکلو کوم باندې چې امیر المؤمنین رحمه الله اعتماد کړی و او په ژوندیې خپل نائب جوړ کړی و.

امیر المؤمنین چې د ډېر لوی فراست څښتن و په خپلو ټولو ملګرو کې یې چې ملا اختر محمد منصور د خپل نیابت لپاره منتخبولو نو ترټولو زیات اهلیت اوصلاحت یې پکې لېدلو او وربانديې ترټولوزیات اعتماددرلودلو ؛د امارت داهل الحل والعقد شورې هم دهمدې زیات اهلیت اوصلاحیت درلودلو په اساس نوموړی خپل نوی امیر جوړ کړ چې سمدستي ورسره دامارت لویو او وړوټولو مسئولینو ،عامومجاهدینو ،دهېوادجیدو علماء کرامواودهېود عامو مخلصو مسلمانانو بیعتونه پیل کړل اوښه په دیني جزبې او کامیابۍ الحمدلله دالړۍ روانه ده .

مکار دښمن ددرز اچولو ډېرې هڅې وکړې اودنړۍ مسلمانانو ته دتشویش وراچولو او دولس دبې اعتماده کولو په موخه یې دخپلو غلامو رسنیو له لارې پدې اړه ډېر زیات پوچ تبلیغات کول او ویل یې چې دنوي امیر دټاکلوپر سر طالبان داختلافاتو ښکار دي ؛ ددښمن دټولو هڅوناکامي الله تعالی ټولې نړۍ ته ښکاره کړه اوټولو ته روښانه شوه چې دلته هیڅ اختلافات نشته او په لوړه اوټیټه کچه داسلامي امارت ټولو مسئولینو بیعتونه کړېدي.

ولس او ټول مسلمان ملت الحمدلله پدې خبرې مطمئن دی چې زموږ نوی امیر به هم د ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی په نقش قدم روان وي، دبهرني اشغال نه دهېواد اوملت ترآزادۍ اودلته دسوچه اسلامي نظام تر قائمېدلو به جهاد جاري ساتي هیڅکله به هم د خپل اصلي موقف نه تېر نه شي ؛ نه به د عالي اهدافو په سر د چا سره سودا وکړي ؛ نه به ددښمن اشغال ومني ؛ نه به خپل مسیر پرېږدي اونه به هم دښمن ته سر ټیټ کړي ان شاء الله تعالی.

ليکوال: محمد امين بسمل

طالبانو !

مه ورخطا کيږئ

لمړی مې يو څو خوږې او ترخې خبرې واورئ.

سمه ده، چې دمګړی غليمانو له هرې خوا په تاسو هر اړخيزې فزيکي او رواني حملې راوړې دی دوی غواړي ستاسو د کلونو کلونو سرښندنې په سيندلاهو او زموږ ګران افغانستان د خپلو ګوډاګيانو په وسيله تجزيه او نور هم خوار او زار کړي.

خو پام چې وارخطا نه شئ دا خو تاسو واست، چې د دری نيمو لسيزو د هرې خوا له جنګياليو څخه رښتيني، غښتلي او خورا اتل وځلېدئ ځکه چې:

- تاسو په خپل دين او ګران افغانستان مين ياست.

- تاسو د خپلې دينې فريضې له مخې د وروڼو قومونو يووالی غواړئ.

- تاسو واست، چې دآمو په څوکو مو د ګران او واحد افغانستان بيرغ ورپاوه.

- تاسو واست، چې ملي ناموس او فردي ناموس مو محفوظ کړ.

- تاسو واست، چې زموږ د کلونو کلونو بې خوبه، ستړي اوسرګردان ولس ته مو ارام او امن را وړ.

- تاسو ياست، چې له غصب، تجاوز او ځان پرسونې څخه کرکه لرئ.

- تاسو په ډېرو کمو امکاناتو ډېر څه کولای شئ.

- تاسو ته د وطن غرونو او راغونو، کليو او بانډو خپله غېږ پرانيستې پرې ايښې ځکه خو اولس دعدل او انصاف فيصلې په تاسو کوي.

- تاسو د وطن د مور هغه سرشار، سرښندونکي او نه وېرېدونکي زامن ياست، چې که خدای مه کړه وارخطا او يا د دښمن په لمسون سره جدا شئ نو هم به ځان، هم به ايمان او هم به ګران افغانستان له لاسه ورکړئ.

پوهېږم، چې زما په دې ليکنه به يو څو بې خبره کسان خوا بدي او ما به هم په آی. ايس.آی پورې تړلی وبولي.

په دې کې خو هيڅ شک نشته، چې جنرال حميد ګل د انګريزانو د شومو اهدافو د پوره کولو په موخه زموږ له خپلو وروڼو او زامنو مانا طالبانو څخه خورا بده ګټه پورته کړه همداسې بدې ګټې يې زموږ له هغو نورو خود فروشو مجاهدينو څخه هم پورته کړې وې خو پنجابيان په هغوی دومره توانېدلي وو چې، په اوو ۷ ښاخونو يې جلا او يو بل ته لکه بلا وساتي.

د کابل په وینو لړلې کوڅې یې شهادت ورکوي البته دا هرڅه دیوې لویې نړیوالې او تورې ستراتیژۍ له مخې روان وو.

پاتې دې نه وي، چې همدې جنرال حمید ګل د افغانستان په تېرو شرمېدونکو ټاکنو کې له هغه غبرګ عبد الله څخه ملاتړ کاوه، چې وېیل یې:

غټې غټې بمونه پرې وغورځوئ.

بیا هم خپلې لیکنې ته راګرځم کله، چې نړۍ خور دا ځیرونکی ځېټور حیوان په دې وپوهېد، چې طالبان په خپل دین او افغانستان مین خلک دي نو یې تورمخی پرویز مشرف د۲۰۰۱ز کال په نیمایي کې آلمان ته راولېږه او دآلمان صدر اعظم (ګرهاردشروردیر)هم د خپلو ملي ګټو د تحفظ لپاره د انګرېز له دې بدمخي اولوی جاسوس (پرویزمشرف) سره همغاړی شو چې په نتېجه کې یې سپینې ماښی د۲۰۰۱ز کال د سپټمبر په نهمه د (مسعود) د ټوپې له الوزولو څخه دوه ورځې وروسته په یوولسم د سپټمبر د نیویارک ډرامه راپورته او بشریت یې په شرمونو وشرماوه سیمې ته یې اورونه او جګړې راوړې او اوس خپله دتېښتې لار ورڅخه ورکه ده.

څه ښه یې ویلي دي چې:

ګربه میدان امدی می دانیم.

د یاد کال اکتوبر په اوومه نېټه انسان زېښبوونکو ځناورو زموږ د ګران هیواد په زخمي زخمی جګر خورا بې رحمانه او ظالمانه بم ورۍ ترسره او ایله په دوو میاشتو کې یې خپل تالي ځټې د مړ سترګي حامد کرزي په مشرتابه د ارګ زندان ته ورټېل وهل.

خو تاسو پیاوړو، په دین او ګران افغانستان مینو طالبانو خپل همت له لاسه ور نه کړ او د یوې نیمې لسیزې په پرله پسېو او خورا سختو جګړو کې مو د هیواد غلیمان په ګونډو او تېښتې ته اړ کړل خو اه، چې مکار دښمن یو ځل بیا د تورمخو پنجابیان وپه وسیله ستاسو د وارخطایي او بدنامي په موخه لمړی له پر دې پال اشرف غني سره پټې ګوتې خوږې او بیا یې د سولې جعلي پروسه په کار واچوله او په تاسو کې یې یو څو کسان یا په زر یا په زور د (مري) غونډې ته ورکش او نړیوالو ته یې وښوده، چې تاسو د کابل غبرګ سري او ټیټ سري ګوډاګي حکومت ته د تسلیمېدو په حال کې یاست دغه د انګرېز بچیان (پنجابیان) ستاسو د کلونو کلونو سرښندنه او اتلولي په سیند لاهو کول غواړي او غواړي، چې زموږ راتلونکي نسلونه ونه پوهیږي، چې مغرور او بدسترګي یرغلګران چا مات کړل همدا لوبه پاکستان د روسانو په خدمت کې هم کړې وه ځکه خو اوس له مسکو سره هر اړخیز تړونونه لري.

ګرانو لوستوکو ګرانو افغانانو!

سوګند یادم، چې په هیڅ یو سیاسي سازمان پورې تړاو نه لرم طالبان دې هم په خپلو لیکو اوتشکیلاتو کې زما نوم ولټوي که یې پیدا کړ نو بیا دې افغان ولس سخته سزا راکړي.

هدف مې دا دی، چې سازمانونه، ډلې او ټپلې مهمې نه بلکې هیواد اوخپلواکي مو مهمه ده نو راشئ خپل ګرېوان ته سرونه ټیټ او په هوش راشو په دې مانا، چې بې له سرښندنې تباه کېږو او د سرښندنې لمړي صفونه زموږ همدغو اتلو طالبانو نیولي، خو له بده مرغه، چې مشران یې تر سختو فشارونو او د پنجابیانو تر مستقیمو خطرونو لاندې دي.

لیکواله: حریا شملزی

وياړلی او ډاډمن وير

دا دالله تعالی قانون د چي هر انسان ته يي د دنيا ژوند د مرګ په بدل کي ورکړي حتی دنيا هم بلاخره د يو ورځې د زيوال په بدل کي رامنځ ته شوي يو ورځ به دا هرڅه لکه ژوندي موجودات, غرونه, ځمکه او اسمانونه لمنځه ځي ټول انبيا کرام, صحابه کرام, تابعين, ايمه مجتهدين, جيد علما او مشايخ چي دي دنيا ته راغلي نه هيريدونکي خدمتونه يي کړي او د اولسونو په زړونو يي پاچاهي کړي او دفراق تريخ وخت يي هم په خپلو احبابو ليدلي, دومره تريخ او ويرجن وخت چې يو ښځينه قلم يي له ليکلو عاجز وې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات ورځ څومره غمجنه, ويرونکي او له زغم نه وتلي ورځ و بيا د اسلام هر خليفه چې وفات شوي مسلمانان يي دردولي, ژړولي او په يو سخت امتحان کي غورزولي دي

زموږ د يوشتمي پيړۍ اتل او قهرمان بت شکن, د اسلام داعي, دجابر او ظالم کفر په وړاندي د ذلت سکوت ماتوونکي او د رسول الله صلی دالله عليه وسلم واقعې او متعهد وفا دار وارث, د ولا يخافون لومته لايم مصداق مجاهد, دوخت ولي الله, د غربي صليب پروري قوې ټيکنالوجي په وړاندي په تشو لاسو جنګيدونکي مبارز او دالله د دين د نصرت په تکل د ژوندانه تر هرڅه شوي اميرالمومنين د ټولي نړۍ د مسلمانانو واقعې امير, دکونډو او يتيمانو او درديدلو خويندو, ميندو او پلرونو د سر سايه, تکيه او د اميدونو يوازنۍ چراغ, په يويشتمه پيړۍ کي اسلامي سياست ته په ډيموکراتيکه او فاسد دورکي د اسلامي خلافت عملي نمونه ښونکي اميرالمومنين له قومې, ژبنې, سيمتې تو پير نه پاک اميرالمومنين د وفات او فراق ورځ به ولي غمجنه, ويرنه او ډارنه نوي کټ مټ هم داسي خواشينونکي ورځ ده لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او دهغه د يارانو او د اسلام دنورو خلفاو د مسلمانانو لپاره ملا محمد عمر مجاهد تش يو امير يا قايد نه و بلکي يوه بشپړه مفکوره او اسلامي نظريه و, دازادي او حريت رهبر و د الله تعالي په ځمکه د هغه د خوښ نظام پالونکي او پلي کونکي و, د رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه سنت مبارک جهاد في سبيل الله چي د اسلام مقدس دين يي د مکي او مديني له کوڅو نه ده همده په وسيله د نړۍ ګوټ ګوټ ان تر خراسان و اسپهان پوري رسولي همدغه مرحوم له اوږدي وقفې وروسته چي مسلمانان ټول د ماديات او عياشيو ښکار شول د کفر غلامې او اطاعت هيڅ ورته عار نه ايسيدي او افغانان چې د يو اسلامي نظام لپاره يي په ميلونو شهيدان ورکړي او دروسي او کمونيستي واکمنۍ مخه يي نيولي و او وروسته دخپل منځي جنګونو او قدرت غوښتني له وجي يي هيواد تر روس او بل هر کفري هيواد بدتر کړي و د جهاد نوم پيغور او وحشت و همدغه اميرالمومنين دالله تعالی امر جهاد او د رسول الله دغه وياړلي سنت ژوندي کړ او عملا يي د نړۍ کفري او طاغوتي نهضتونه او کليسايي واکمنان و پوهول چې اسلام د همت او غيرت دين ده, د اسلام هر اړخيز نظام د بشريت د ټولو حقوقو ضامن او مترقي نظام د او دالله د دين نصرت يي عملا او واقعا د اولسونو په زړونو کي ځاي کړ حتي په زرګونو انسانانو د الله د دين دنصرت په لاره کي ځانونه استشهاد ته اماده کړل ......هو اميرالمومنين دا ثابته کړه چي د الله د دين ننګه زموږ د نصرت او ثبات باعث ګرزي ...... هو اميرالمومنين موږته دا هم ثابته کړه چي عزت په ماديات , ساينس او ټيکنالوجي , قومي يا نظامې ځواک پوري تړلې نده بلکي يوازي دالله دين ته ځان تسليمول او په هغه پوره عمل کول که څوک د الله دين ته واقعا مخلص شې د ختمو

په کور کي به اوسي د دنيا له ټولو اسانتياو به بې برخي وي هيڅ يو پوهنتون اكسفورډ او اظهر به يې په سترګو نوي ليدلي كولاي شي چي د كفري روښن فكرانو د سردرد باعث شي او د ميلياردونو , تورو او سپينو مسلمانانو په زړونو حاكميت وكړي د نړۍ په ګوټ ګوټ كي يې په فراق ښځينه ما شومان په چيغو چيغو وژاړي او د هر مسلمان په دعا كي يې ځان ته ونډه لرلي وي دا كومه فزيكي يا علمي او مادي قوه نده بلكي يوازي او يوازي د الله سره ريښتوني مينه او له دين سره يې اخلاص او په عمل كي يې اجراده

ولي په دي ستر وحشتناك وير كي يو ستر او ډاډمن ويار تسليت او نيكمرغي نغښتي ده ...... هو طالب جانه دا يوه ستره الهي وركړه ده هر هغه زړه چي نن د اميرالمومنين په فراق ويني تويو او سترګي يې اښكي څڅوي كه د د كورنۍ ده كه د اسلامي امارت مشران , د سنګر طالبان دي . او يا عام مسلمانان دي اقلا دومره فكر دي وكړي چي موږ په يو يشتمه پيړۍ كي د كفر او فساد په پيړۍ , كي د نفسا نفسي په پير كي , د شرك او بدعت په پير كي موږ يو داسي امير درلودي له هغه سره مو بيعت كړي و د هغه په قربانو او حتي د سنګر په ملګرو كي يې شمار و موږ تر خپل اولاد ورته ګران و دا مو ستر ويار ده او ددي نه ستر او تاريخي ويار هغه داچي اميرالمومنين موږته په ميراث كي هغه نظام پري ايښي چي ميلينو ليترو وينو او د الله د واقعي نصرت بديل د اسلامي امارت , د شهدداو او غازيانو كاروان لايحه , د علماكرامو او حق علماو اجتماع چي د همدوي په وسيله موږ كولاي شو ځان د رسول الله په ويارمن امت كي شمار كړو او د الله تعالي هغه بندګان ځانونه وشميرو چي په قران كريم كي يې داسي تعبير كړي چي زه به يو قوم يا ټولي پيدا كړم دوي ب لماسر مينه لري او زه لدوي سره د الله په لاره كي به جهاد كوي او د ملامت كونكي ملامتي ته به غوږنه نيسي او بيا به زه ددوي په زريع د خپل دين ساتنه كوم راشي بيره وكړي , تعهد وكړي او قسم وكړي چي د اميرالمومنين دغه ويار او د تاريخ له ورقو ځان ونباسو او په اسلام او اسلامي امارت پوري ټينګ لاسونه ونيسو او د اميرالمومنين او صاف په ځان كي پيدا كړو له قوم پرستي , جهت طلبي , قدرت طلبي ځان وساتو د اقربا پروري او خيښ پالني په ځاي لكه اميرالمومنين مسلمان او مجاهد پروره شو يو په بل اعتماد وكړو د اميرالمومنين د كورنۍ , مخلصو ملګرو قدر وكړو او داميرالمومنين د زعيم په ټاكلو كي مشاورت وغواړو او كورنۍ ته زياته توجو وكړو ځكه اميرالمومنين پخپل ژوند كي هيڅ امتياز نده وركړي او د اختلاف په كلكه مخه ونيسو او خداي مه كړه ددغه ستر الهي ويار د بربادي او انتشار باعث ونګرزو موږ په خپل مشرتابه او رهبري شورى پوره اعتماد لرو ولي بيا هم داسي يو نقطه پري نږدو چي ددښمن دخوښۍ او د مسلمانانو د خفګان او اميرالمومنين د روح د نا ارامي باعث وكرزي كه موږ بيا تعهد وكړو او د الله دين ته مخلص شو دغه ويار لي وير او غم به مو حتما ددنيا او اخرت په سرلوړي بدليږي

الله تعالى دي اميرالمومنين په جنت كي د حضرت محمد مصطفي صلي الله عليه وسلم او شهدا و سره يو ځاي كړي دد كورنۍ او ملګري دي الله توفيق وركړي چي داغم او وير نه بلكي ويار او افتخار وبولي او د بريمن عزم د بريا لپاره متي را ونغاړي او د مشرتابه پوره پوره اطاعت وكړي له نوي مشرتابه او رهبري شورى نه مو يو هيله او ارزو ده هر هغه كس چي نفاق ته لمن وهي نور دي د الله لپاره له صف نه وشړي او يا دي فعاليت ور فلج كړي

د اسلامي امارت د لا بريا او بقا په هيله

خور مو حريا شملزۍ

پاو وقاره امیر

لطف الله خیر خوا

دوه زره لسم کال و. "جنګ" ورځپاڼه کې مې د جماعت اسلامي د یوه مشر کالم لوست. کالم کې یې د امارت پر مهال کندهار ته د خپل یوه سفر رویداد لیکلی و. د ده له قوله، چې موږ سفر ته ډېر تیاری نیولی و. زیرک او تجربه کار وفد مو برابر کړی و. دوه درې ورځې مو د ملاصیب لیدو ته انتظار وکړ. کله، چې د ملاقات شېبې راورسېدې، زموږ د پخو او خولورو سټو ارواوې والوتې.

وایي موږ د نړۍ د رهبرانو د تکلفاتو فکر کړی و، مګر ډېره ساده ودانۍ کې او ډېر ساده لباس کې یو معزز، مرعِب او چوپ انسان سره مخ شوو. وایي زموږ وفد، چې سخت متاثره و، نو زموږ پخو نطاقانو او خبرلوڅو هم خپلې خبرې منظمې ونه کړی شوې.

وایي موږ د نړۍ حسابونه ارزولي وو. په سیاستونو وغړېدو. ستراتیژۍ مو ورمخې ته کړې، د خبرو جریان کې ترخه هم راتله او خواږه هم، مګر د دې موقر انسان تندی نه په خوږه له خپل حالته بدل شو، نه په ترخه ګونځې شو. وایي کله مو چې خبرې پای ته ورسېدې، ډېر لنډ ځواب یې راکړ: ستاسو خبرې پر ځای دي، خو موږ دغسې فکر نه کوو. زموږ لار بېله ده.

د لیکوال تبصره داوه، چې څوک دین ته کار کوي، هغه باید د ملاصیب په څېر همغه ډول فکر وکړي، چې دین ته پرې کار کیږي، نه دا، چې زموږ د تنظیمونو په څېر د دین په نوم، د دین مخه ونیول شي.

استاد مزمل زموږ څو ملګرو ته یو مجلس کې وویل، چې زه په مجلسونو او ملاقاتونو کې نه داریږم، خو ملاصیب ته، چې ور تلم، پښو مې زور نه اخیست او هغه څه مې، چې ویل غوښتل سم مې ونه شو ویلی.

دغه رعب د هغه وقار برکت و، چې ملاصیب د یو غښتلي امیر په توګه درلود. د مسلمانانو د امیر په توګه د هیچا دربار ته ونه درېد. هغه خلک، چې په ډېره ناځوانۍ ملاصیب پر دیو ته منسوبوي، نه دي پوهېدلي، چې همدغه جنرالان د درانه ملاصیب په مخ کې لکه د ملازمانو ووتل نوتل. زه نه پوهېږم، چې کیسه به تر کومه سمه وي، خو د عوامي نیشنل ګوند مشر اسفندیار په یو ویډیو کې د "نصیرالله بابر" له قوله وایي؛ یوه ورځ مې ملاصیب ته د ډېورنډ کربښې خبره یاده کړه. وایي په یوه پټکه یې له کوره راوویستم!

د امت د وقار مجدد

د اسلامي امت تر منځ د ورورولۍ پولې د "سایکس بیکو" پولو نړولې وې او دي. داسې مهال، چې دې پولو واقعي بڼه نیولې او هر مسلمان ونامسلمان یې لکه عقیده داسې مراعاتوي. د دغو وضعي قوانینو نړول څه، چې وقتي مخالفت یې په نړۍ کې د یوه ستر جرم برابر دی، خو هغه څوک، چې "حدود الله" پېژني هغه پوهیږي، چې د کومو حدودو پایمال جرم دی او همده ته جوتیږي، چې د وضعي حدودو نړول څومره اسان دي.

په نړۍ کې د جهاد د ستر رهبر اسامه بن لادن پر ضد، چې نړۍ متحرکه شوه او د خپل امت د دفاع په تور یې نړۍ ته مجرم معرفي کړ، هیڅ جنرال دا نه شوه کولی، چې استکباري طاقتونو ته ان څه عذر وکړي، خو همدا د وقار ښتن او د فاء ځلی د حدود الله د ساتنې په پار په هسکه غاړه ودرېد او د نړۍ د بې ساري تبلیغ و پروپاګند تر منځه یرغه یرغه ووت.

هیچا ونه کړی شو، چې د ده په خاوره دې د هغه یمني الاصله مسلمان ویښته سپک کړي. ټولې نړۍ ولیدل، چې هغه د جهادي عظمت منار څېر ته هسک شو او چېر ته ونړېد! زه خو هغو خلک ته حیرانېږم، چې څنګه د غه د امت په مفهوم پوهېدلي امیر ته د محدودیتونو نسبت کوي. پولې نړول یا فیزیکي دي یا معنوي، چې د نړۍ هر محروم انسان ستا په خاوره د مصؤنیت او تایید احساس وکړي. هغه امت، چې خپله معنا یې یوازې تر کتابونو او درسونو منحصره وه، همداسې یو عزام انسان ته اړ و، چې دا معنا له کتابونو واقع ته راوباسي. عملا ولیدل شي او دا ښکاره شي، چې دا معنا قابلِ دید او تطبیق ده. هغه معنا، چې سایکس بیکو د مسلمانانو لاشعور ته غورځولې وه او ځینې خلک، چې د همدې نقشې په پلي کېدو پر امت مسلط شوي وو، هیڅ نه پوهېدل، چې دغه د وقار غر څنګه په دا زلزله رېزه فضا کې هم سوکاله دی.

په سیاست کې د اسلامي رموزو احیاء

د خلافت په نړېدو هغه نورمونه نړدې ورک ول، چې په اسلامي پېړونو کې کارېدل. لکه خلافت، امارت، امیرالمؤمنین، شریعت، اهل الحل والعقد، بیعت، سمع وطاعت، شرعي حدود، ولاء وبراء، جهاد...

دغه د وقار او ننګ ځلي یو ځل بیا واکمنې حلقې ته پور ته اصطلاحات ننویستل. له ۷۶ کلونو وروسته جهاد د یوې خاورې د واکمنانو بنسټیز کار و، بلکې داسې کار، چې تر سقوطه نورو کارونو ته ترې وزګار هم نه شول او سقوط هم داسې، چې بېر ته یې په هسک وربرابر کړل.

کله چې دی ودرېد.. کله چې ده غاړه نېغه یوړه.. کله چې ده په مستکبرینو ورمېړونه مات کړل.. خلک پوه شول، چې هر مهال ځان ګټل کیږي. خپل حق تر لاسه کیږي او هر مهال، چې اراده وي، ټینګار او تعهد وي هره ورکه پیدا کېدی شي او هره سخته اسانېدی شي.

هغو خلک، چې د خلافت د اعادې لپاره یې تحریکونه تاسیس شوي وو، دا مهال په طاغوتي کړیو کې ویلي کېدل. هغو تنازلاتو ته اړ شوي وو، چې هیڅ مسلمان ته یې الله جل جلاله او رسول اجازه نه ور کوي، هغه انسان خو لا پر ځای پرېږده، چې د خلافت د احیاء لپاره د یوه متعهد انسان په توګه میدان ته راوتلی وي.

دغه طبقه په طاغوتیانو کې ورننوتل او تازه تازه یې د ماتې ترخه تر ستوني ول، چې دغه د امت د قضایاو انسان د نړۍ حسابونه بدل کړل. خلکو ته یې وښووله، چې "پرېوتي" انسانان لار پرېږدي. پرېوتي مبارزین د خپلې مبارزې لپاره پر دي شرایط او ظروف مني. ورویې ښووله، چې موږ د خپلې مبارزې لپاره خپل شرایط ټاکو، موږ خپلو شرایط په خلکو منو او همغه څه کوو، چې موږ پرې ایمان لرو!

د ایمان او ثبات غر

د امریکایانو د یرغل پر مهال ملاصیب یوه خبره کړې. باور مو وشه، چې یو عالم زور په کې دی، یو اطمینان په کې دی، یو سکون دی په کې. وایي ملاصیب ته چا وویل، چې امریکایان وایي موږ اسمان نه نیم انچ شی ګورو. نښه رانه نه خطا کیږي. وایي ملاصیب وویل : دا دوی وعدې دي، مګر زموږ رب هم وعدې کړي، ګورو، چې د چا وعده حقه ده. دوی دې خپل کار وکړي، موږ به خپل کار کوو.

د امریکایانو د غورځو پرځو په اړه ترې یو بله مشهوره خبره هم روایت ده. د امارت اخرنیو شپو کې یې مجاهدینو ته وینا کوله، چې : امریکایان ټکنالوژي لري، وژل به کولی شي، خو مرګ نه شي دفع کولی.

یوه وینا، چې ما خپله اورېدلې او امریکایانو ته یې پر افغانستان د برید پر مهال په ډېره اطمیناني لهجه کړې وه. ور ته وایي دا نو شاهي نظام نه دی، چې تاسې راشئ، موږ به درنه لاړ شو. دلته مجاهدین دي، منظم قطعات دي، غرونو ته به درنه وخیژي، هسې به ځان هم خراب کړئ او موږ هم.

یو مشر، چې په مادي لحاظ دومره کمزوری وي، څه ډول دومره اطمینان لرلی شي، بې له دې چې خپلې عقیدې دومره ایمان او ثبات وربښلی وي. پرون یو مولوي صیب د شیخ حسن جان په حواله ویل، چې هغه به د ملاصیب په اړه ویل : د شرح عقاید او خیالي حافظ هم دومره کلکه عقیده نه لري، لکه ملاصیب.

رښتیا هم، چې د عقیدې ډېر شاګردان او استادان یې ایمان او ثبات کې شا ته پرېښوول. دغو شاګردانو او استادانو به کېدی شي په لسګونو کرتې په عقایدو کې د خلافت وامارت و ولاء وبراء درسونه ویلي او تدریس کړي وي، مګر دغسې به یې چا عملي کولو ته ملا نه وي تړلې، څه چې تصور به یې هم نه وي کړی.

رحمه الله رحمة واسعة، و أدخله فسیح جناته، و رزقه الفردوس الأعلی.

آمین

ملا محمد عمر مجاهد و مړ؛ خو

يوستر جهادي او اسلامي فکر يې تر شاړوندي پر بنسود

ليکوال: حماد نيازي

د يو پشتمي پېړۍ د جهاد مجدد، د يو پشتمي پېړۍ د سنگرونو اتل، هغه څوک چې روسته له سلو کلونو يې نړيوالو ته د شرعي نظام ژوندۍ نمونه څرگنده کړه، هغه څوک چې ټول اسلامي ملت ته يې د جهاد روحيه ورکړه، هغه څوک چې د صبر او استقامت سمبول وو، هغه څوک چې په خپله ټوله واکمنۍ کې يې د هيڅ ډول دنيوي امتيازاتو په پار تنزل ونه کړ، هغه شخصيت چې په تاريخ کې يې نوی باب جوړ کړ او د يوه مسلمان (اسامه بن لادن رحمه الله) لپاره يې ټوله واکمني دړې وړې کړه، هغه امير چې د حضرت محمد او ابراهيم عليهما الصلوة والسلام سنت يې راژوندي کړل او د بودا مجسمې يې رانسکورې کړې، هغه ستر امير چې د نړۍ ټولو مجاهدينو ورسره بيعت وکړ او د هغه په بيعت يې افتخار کاوه، هغه امير المؤمنين چې د ټول مظلوم اسلامي ملت سترگې ورپسې وې د خدای له قانون سره سم (کل نفس ذائقة الموت) د اجل داعي ته لبيک وکړ او له دې فاني دنيا يې د تل لپاره سترگې پټې کړې.

هو کې!

هغه څوک چې د فلسطين بورو ميندو، ورارو خويندو، گونډو ناوکيو او ببرسرو يتيمانو يې د راتلو لار څارله، هغه څوک چې د چيچنيا، بوزنيا، عراق، کشمير، فلسطين، بورما او ... د ټولې نړۍ مظلومو مسلمانانو يې تر ژونده هيلې تړلې وې او د ياعمراه سوې او مظلومانه کړيکې او چيغې يې وهلې له دې فاني دنيا ولاړ، ځان يې مرگ ته وسپاری.

نن چې د نړۍ د مظلوم اسلامي ملت له سره سايه لرې شوه، ټوله اسلامي نړۍ پسې غمجنه شوه، ټولې اسلامي نړۍ ورپسې د وېر تاندې او چيغې وکړلې، پر ټوله اسلامي نړۍ د غم ټغر خپور دی، هر مظلوم مسلمان داسې انگيري لکه زړه چې يې له کوگله وتلی وي، لکه ټوله نړۍ چې ورانه شوې وي او لکه...

امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ومړ، په مېړانه ومړ، داسې ومړ چې ټوله اسلامي نړۍ، په تېره بيا افغانان به يې تر قيامته په ژوند او مرگ سرلوړي گرځي او افتخار به پرې کوي.

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د رسول الله يو رښتينی امتي وو، داسې امتي چې د هغه صلی الله عليه وسلم په څېر يې په هيڅ ميدان او هيڅ وخت کې ډار نه دی کړی او نه يو قدم روسته شوی دی.

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله روسته له هغې چې د نړۍ کافرانو ورته راټول او يوموټي شول، د هغه اسلامي امارت يې راوپرزاوه او تقريبًا ۴۷ کفري، مجهز او په هر ډول عصري وسلو بار ځواکونو يرغل وکړ، په داسې سختو شرايطو کې لا هم ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له افغانستانه يو قدم

دباندي ونه ووت او دلته په داخل کې يې تر مرګه د مجاهدينو رهبري کوله.

شايد د مرحوم مجاهد دا تاريخي او شاهکارانه جرأت تاريخ مات نشي کړای.

مسلمان او افغان ملته!!!

په دې کې هېڅ شک نشته چې مرحوم ملا محمد عمر مجاهد له دې نړۍ د مرګ سترګې پټې کړې دي او بيا نه راځي؛ خو که مرحوم مجاهد له فاني نړۍ لاړ، نو تر شا يې داسې ځوک پرېښودل چې ۲۰ کاله يې د صبر، استقامت، ورورولۍ، خواخوږۍ او د جهاد سره د مينې درس ورکړ.

داسې ځوک چې اوس پر هر ځومره زورور دښمن ورزغستلای شي، داسې ځوک چې په نازکو سينو پورې باروت تړلای شي، داسې ځوک چې د مظلومو مسلمانانو چيغې يې په غوږو کې د تل لپاره انګازې کوي او په زړونو کې يې د انتقام جذبې راټوکيږي، داسې جذبې چې د ژوند ټول خواره پورې ورته زهر ښکاري، داسې جذبې چې ځان لولپه کوي؛ خو هدف ته يې رسوي.

مرحوم مجاهد تر شا هغه سترې هستۍ پرېښودلې چې ۱۴ کاله يې نړيوال کفر ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې، سپره امريکا يې له صفر سره ضرب کړه او لويه ناټو يې د برم او راج له هسکه برجه لاندې راوغورزوله. داسې هستۍ چې کفر ته يې داسې درس ورکړ چې بيا ځل به پر کوم مظلوم مسلمان لاس پورته نشي کړای، کوم مظلوم مسلمان ته به برګ ونشي کتلای او...

ملا محمد عمر مجاهد ومړ؛ خو په اسلامي ملت کې د جهاد مړ روح يې راژوندی کړ، ټولې اسلامي نړۍ ته يې جهاد وغزاوه، هر ځای يې د← مظلومانو کړېکې او اسوېلې واوريدل، د نړۍ پر سر يې ظالمانو ته ځمکه سره تبۍ کړه او پر ټولو ظالمانو يې د جهاد او انتقام کړۍ راتاو کړې. مرحوم مجاهد ومړ؛ خو تر شا يې داسې علماؤ پرېښودل چې عملاً يې هم د جهاد، خواخوږۍ، ورورولۍ او مصلحت درس ويلی دی او هم يې دين زده کړی دی.

داسې علماء يې تر شا پرېښودل چې هم علماء دي، هم سياست پوهان، هم مجاهدين، هم د مسلمانانو خواخوږي او هم د ټول اسلامي ملت لارښودونکي.

مرحوم مجاهد ومړ؛ خو جهادي فکر يې راژوندی کړ، هغه قراني اياتونه او هغه مبارک حديثونه يې عملي کړل چې د جهاد او د مظلومانو د انتقام په اړه رانازل شوي او را روايت شوي وو.

مرحوم مجاهد ومړ؛ خو د صحابوو رضوان الله عنهم اجمعين سيرت يې راژوندی کړ، د قيصر او کسری په څېر امپراتورۍ (امريکا او ناټو) يې راوپرزوله.

مجاهد ملته!!!

د مرحوم مجاهد رحمه الله په مرګ وېر مه کوئ، بلکې د هغه په مړينې مرګ وياړئ، فخر پرې وکړئ او د هغه د ارمانونو د پوره کولو لپاره متې راونغاړئ!!!

ان شاء الله برى زموږ دی او ذلت د کفر او د کفر د پلويانو په برخه دی.

ملا محمد عمر سره د داوود جنبش څو خاطرې

داوود جنبش

ملا محمد عمر ولاړ، خو ځانته یې په افغان تاریخ کې ځای پرېښود: دا چې دا ځای څه دی، غوره قضاوت به پرې هغه مهال شونی وي چې د اوسني پېر ترخې هېرې شي او د هماغه مهال نسل د ۱۳۵۷ کال د ثور تر کودتا وروسته ټول غمجن پړاو په سړه سینه وسپړي او څېړي.

ښایي د خبریالانو په ډله کې تر ما له مرحوم ملاصاحب سره ډېرې مرکې چا نه وي کړې. یو ځل مې پر ۱۹۹۶ کال چې د ېبل کلنتېن اداري پر خوست د کروز توغندیو برید وکړ، نیمه شپه له خوبه راویښ کړ او نظر مې یې واخیست او خپور کړ. نژدې پر هره مهمه پېښه یې تل زما ټیلیفونو ته ځواب ویلی او مرکې ته یې غاړه ایښې ده. آن ترپټېدو لږ وړاندې یې وروستۍ مرکه هم د ۲۰۰۱ کال په ډسمبر کې له ماسره وکړه او تر هغه وروسته یې بیا چا غږ وانهورېد.

د ۱۹۹۶ په اپریل کې چې کله ملا عمر د زرو روحانیونو د یوې ډلې له خوا «امیرالمؤمنین» و ټاکل شو، د لنډې کتنې له پاره مې د کندهار د والي په دفتر کې ورسره ولیدل او بنډار مو وکړ. تل ورو غږېده، غوسه یې نه کوله، جملې یې لنډې او ساده وې، په خبرو کې یې د نورو ملایانو خلاف د مذهبي متونو پر ځای ډېر کلیوال سمبولونه او معیارونه خوښول. یو ځل چې کله د اسامه بن لادن او امریکا ته د طالبانو د ګواښ پوښتنه ترې وشوه نو ده په ډېره ساده لهجه وویل: «... زموږ پښه په خپله پایڅه کې بنده ده«...

بل ځل چې کله ایران په مزارشریف کې د خپلو «ډیپلماتانو» د وژل کېدو په غچ کې لسګونه زره عسکر د افغانستان پولې ته راوخوځول، ملا عمر له هغوی نه د سرې سینې د غوښتلو ترخنګ وویل: «... نو که چېرې ونه شوه بیا به یې تر اصفهانه پسې واخلو«...

د تهران پر ځای د اصفهان یادول یوه تاریخي تداعي وه. ده غوښتل ایرانیانو ته د هوتکي شاه محمود دوران وریه زره کړي چې په اصفهان کې یې د فارس صفوي واکمنه ویرځوله او هلته یې ځان واکمن کړ.

البته د ملا عمر له نامه او له طالب غورځنګ سره د افغانستان د ولس او ټولنې ډېرې ترخې او غمجنې شېبې هم تړلې دي، چې زه پر هغو دلته غږېدل نه غواړم. یوازې مې د طالب مشرتابه له خوا د ملا محمد عمر د مړینې د رسمي تایید په پلمه دا څو ټکي له خپلو خاطرو څخه له تاسې سره شریک کړل.

د داوود جنبش له فیسبوک پاڼې په مننه

افتخار مو وم ...

سمیع خوربانی

انا لله وانا إلیه راجعون

کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفات شو خلکو په خاصه توګه حضرت عمر فاروق - له ډېره غمه نه باوروله، او نور صحابه یې هم له دې منع کول چا به چې د هغه صلی الله علیه وسلم په وفات ژړل، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه وروسته له دې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې وکوت چې وفات شوی، پاڅید او ویې ویل: {من کان یعبد محمدا فإن محمدا قد مات، ومن کان یعبد الله فإن الله حي لا یموت}. بیا یې دا ایت تلاوت کړ: (وما محمد إلا رسول، قد خلت من قبله الرسل، أفإن مات أو قتل انقلبتم علی أعقابکم ومن ینقلب علی عقبیه فلن یضر الله شیئا، و سیجزي الله الشاکرین) آل عمران.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وایي: په الله قسم لکه صحابه چې په اول ځل د ابوبکر صدیق له خولې دغه آیت اوري، بیا مو باور شو او زړه ته مو تسکین وغورځید.

دغه سخت الفاظ کارول د حضرت ابو بکر صدیق له خولې په دې معنا وه چې د پیغمبر وفات حق دی، لکه څنګه چې نور انبیاء په دغه حققه لار لاړ دي دغسې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم پر دغه لار ولاړ، بل دا چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل دین پوره کړ او ددې مخکې وړلو مسؤلیت د صحابوو پر غاړه و نو د مسؤلیت، تلقین، صبر او استقامت لپاره ابوبکر صدیق مسلمانانو ته دغه جملې وویلې، غوښتل یې چې د دغې غم پر ځای مسلمانان خپل مسؤلیت ته متوجه شي، همغه وو چې دغه کلمې د خلکو زړونو ته وغورځیدې او د غم پر ځای خپل مسؤلیت ته متوجې شول، تر څو د ټولو پر خوښه ابوبکر صدیق د مسلمانانو اول خلیفه وټاکل شو او د اسلام دین د قوي ایمان او قوت په زور په نړۍ کې خپور شو، پر دغه غټ غم صبر او بیا استقامت مسلمانان د کامیابۍ او بریالیتوب لورې ته مخ کړل.

نور نو مونږ ته پکار دي خپل راتلونکي ته پام وکړو، تیر غمونه شاته پریږدو او د خپل دین مسؤلیت پر غاړه واخلو.

مسلمانان باید د ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه مړینه خپله ناکامي ونه ګڼي، ځکه غم زیاتول مو ناکامی ته مخه کوي خو غم شاته پرېښودل مو د کامیابۍ سبب ګرځي، ځکه د یو انسان لپاره دنیا کې دوه مرګونه نه وي او هغه یو حق او راتلونکی وي. کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفات شو ابوبکر رضي الله عنه یې سر ته ورته کېنیناست په ژړا شو او ویې ویل: زما مور او پلار دې له تا ځار او قربان وي، الله ستا لپاره دوه مرګونه نه دي ټاکلي او هغه یو مرګ چې ټاکلی شوی دی تاته راغلی او ته وفات شوې.

هو! ملا عمر ومړ، نر ومړ، ازاد ومړ، غلام نشو، په مړینه یې ویاړ په کار دی، په نړۍ کې یې هېڅ پیغور ځان، کورنۍ او اسلامي امارت ته پرېنښود، نن چې د نړۍ مسلمانان د هغه په مړینه اوښکې تویوي ترې څرګندیږي چې ملا محمد عمر رحمه الله څومره د نړۍ مسلمانانو ته محبوب و. الله دې د جهادي فکر دغه مجدد رهبر حشر له نبیانو، شهداو صالحینو سره وکړي.

رحمه الله رحمة واسعة واسکنه فسیح جناته ورزقه الفردوس الأعلی. امین.

هغه أمير چې

په وفات يې ټول أمت په ماتم کې ډوب شو

ليکوال: قاري حبيب

له غزې تر برونای، له طنجې تر جاکارتا، له قفقاز تر کاشغره او له شام تر کندهاره نن د رسول الله صلی الله عليه وسلم أمت په يوه مشترک درد دردمن دی. فيسبوک، ټويټر او نورو د خواله صفحو د ماتم تور کالي په تن کړي، له هرې خوا سلګۍ دي، ويرنې دې، تسليتونه دي او د مغفرت دعاګانې دي، دا دعاګانې او ويرنې که د الفاظو او رسم الخط له اړخه سره بيلې دي، په پښتو، عربي، ترکي، فارسي، انګليسي، اردو، بنګالي، ازبکي، کردي، آزري او نورو مختلفو ژبو دي، مګر مطلب او محتوا يې يوه ده.

ټول د اسلامي امت مخلص او وياړمن رهبر ملامحمد عمر مجاهد ته د مغفرت دعاګانې کوي، نن د امت ټولې سلګۍ او ټولې اوښکې همدې وير ته وقف شوي دي، نن د افغان العرب، افغان الشيشاني او افغان الازبيک کورنيو ماشومان او تورې سرې د خپل هغه محسن په رحلت اوښکې تويوي چې دوی ته يې په سخته ورځ پناه ور کړې وه، دوی يې داسې مهال په غيږ کې ونيول کله چې ټولې دنيا وشړل، له دوی سره يې د عقيدوي رشتې خپلوي په ربښتيني معنی وپالله او ددوی لپاره يې خپل برحاله حکومت په داو کړ.

نن د ټويټر شبکه په مختلفو ژبو دې هيش تاګ په سر اخيستي چې
#صلاة_الغائب_على_الملاعمر_بعد_الجمعة

نن به د جمعې له لمانځه وروسته د اسلامي نړۍ په لر او بر کې د تکبير غږونه پورته شي، د المغرب له ساحله بيا د بحرالکاهل تر څنډو به د ملا محمد عمر مجاهد غائبانه جنازې وشي، د الله دربار ته به په مختلفو ژبو، له مختلفو سيمو او رنګارنګ ستر ګو څخه د اوښکو نذرانې او د مغفرت خواستونه وړاندې شي.

دا وضعيت موږ ته ثابتوي، چې موږ سره يو يو، زموږ د عقيدوي خپلوي رشته لا هم مضبوطه ده، استعماري کرښو که زموږ اجتماعي وجود سره بيل کړی خو زموږ روحونه لا هم سره تړلي دي او که څوک د ملامحمد عمر مجاهد غوندې د دغه ګډ وجود او عقيدوي خپلوي حقيقت په رسميت وپيژني او پالنې ته يې ربښتيني توجه وکړي، نو دغه پټ اتحاد نړيوالو ته رابرسيره کولی شي.

د ملاصاحب وفات ولې داسې په عالمي سطحه بدرګه شو؟

ملاصاحب خو د الازهر يا عليګړه کومه ډګري هم نه درلوده، ملاصاحب له خپلې ځيږې پښتو پرته په بله ژبه روان نه شوای غږيدای، ملاصاحب خو د کوم وتلي پوه يا نظريه پرداز په حيث هم نه پيژندل کيده، مګر له دې سره سره يې چې امت دومره دروند تلي، معلومه ده چې اوس مسلمانان ويښ شوي دي، اوس مسلمانان د هر حاکم کردار ته د دين او فطرت د مقاصدو له عينکو ګوري، اوس مسلمانانو ليکليو اثارو او تصنيفاتو ته نه بلکې عملنامې ته ګوري او د هر چا قامت د هغه د عمل په مقياس اندازه کوي.

په دې هيله چې مرحوم ملامحمد عمر مجاهد ته الله تعالی مغفرت وکړي او کرداريې د نورو لپاره د لارې مشال شي.

که ملامحمد عمر مجاهد نه وای راپاڅېدلی ..

قاري سعید

ـ د زرداد په پاټک به اوس هم انساني سپیان غپیدل.

ـ شفیع دیوانه به اوس هم کابلیان په دیوالو میخ کول.

ـ قمبرلنګ به اوس هم له کابلیو ښځو تیونه غوڅول.

ـ اسد مارخور به اوس هم د شاه شهید په کوڅو کې د جنسي داړه مارۍ لپاره ګرځیده.

ـ کومندان صالح به اوس هم د پاشمول په پاټک هراتي هلکان کوزول.

ـ تجارتي باربري موټر به اوس هم د عام سرک په ځای د دکندهار د ریګ په دښتو تر ویشه رسیدل.

ـ ګیلم جمو به اوس هم د شمال په خلکو سپرې خرخولې

ـ که ملامحمدعمر مجاهد نه وای تر اوسه به د کابل او نورو ښارونو ولاړ دیوالونه څه بلکې شاوخوا غرونه هم د جګړو له زوره نړیدلي وای.

ـ تراوسه به د جنګلک او سروبي بند د ملي زیربناوو په شان د کابل او نورو سیمو ټول ملي تاسیسات پرزه په پرزه او خښته په خښته ټوټه شوي، لیلام شوي او د لاهور او کارخانو په کباړیانو پلورل شوي وای.

ـ اوس به د کوڅه په کوڅه او کلي په کلي جګړې له زوره دلته انسانان نه وای پاتې، بلکې د جګړه مارو، پوډریانو او ټوپکیانو یو ځنګلي نسل به د افغانستان د مالکیت دعوه دار وای.

ـ اوس به افغانستان نه وای، بلکې د هزارستان، سیافستان، دوستمستان، زرداستان او مسعودستان په نوم به ګڼ مختلف پاټکستانونه اباد وی.

ـ که د ملا محمد عمر پاڅون نه وای اوس به موږ او تاسو د فیسبوک لیکلو په ځای په پوستو کې د چرسو په پخولو ورځ اړولی.

ـ که د ملاصاحب پاڅون نه وای اوس به موږ د خوارلس کلن جهاد، هجرت، جهادي ثمره، اسلامي نظام او داسې نورو خبرو په ځای په دې غم کې وای چې څرنګه د خپلو شهیدانو قبرونه راوسپړو تر څو د پاکستان د هډوکو له سوداګرو ورباندې د چرسو لپاره پیسې پیدا کړو.

او که د ملامحمد عمر مجاهد پاڅون نه وای ... نور به څه شوي وای؟ هیله تاسو خپل نظرونه راسره شریک کړئ .

د یووېشتمې پېړۍ اتل

لیکوال: طارق بدر

تخنیکر سټوډیو ته د ننوتلو اشاره راته وکړه، په مخامخ لوېه هنداره کې مې لونګۍ سمه کړه، ږیره مې بیا ږمنځ کړه، دغاړې کالر مې سم کړ، څادر مې په اوږه کړ، واسکټ مې ژر بدل کړ، خو واسکټ خوند نه کاوه، تور له سپینو جامو سره ښه ښکارېده، سټوډیو ته ننوتم، مېز ته نېغ ودرېدم، لاس کې مې تشې ورقې په مخته ایښې مېز کېښودې، په مخامخ لوی سکرین کې مې ستر ګې وګنډلې، له موضوع خبر وم، ځکه خو مې نن خپلې خپرونې ته را ببېره وه، نږدې دوه میاشتې مې یې خبر تیاوې خپرولې، فیسبوک، ټویټر، راډیو او تلویزون کې یې لاله وړاندې اعلانونه خپاره شوي و، خلکو به پرلپسې زنګونه راته وهل: بدر صاحب! «د یووېشتمې پېړۍ اتل» خپرونې ته په تمه یو، اعلانونه یې خوند کوي.

ما به یوازې مننې او کور وداني ور ته ویل، «د یووېشتمې پېړۍ اتل» خپرونه له ملي تلویزونه زما په کور به توب نوې شروع کېدله او په اعلانونو کې مې یې ټینګار کړی و، چې دې خپرونه کې به د «عصر عمر» له خپلو خلکو سره په ژوندۍ بڼه خبرې کوي، د بریا زارونه به وایي، د سختیو کیسې به کوي او د یووېشتمې پېړۍ اتل د لقب په اړه به یې احساسات پوښتو...
تخنیکر اشاره راته وکړه، چې ځان اماده کړم، دوه دقیقې وروسته خپرونه شروع کېږي، ده په ماوس کلیک وکړ، او په مخامخ تلویزون کې چې له لوی سکرین سره څنګه ته ایښی و، سپین بیرغ ورو – ورو په رپېدو شو، نرمه ترانه ور سره ورو – ورو لوړېده:

سر پورته کوه د خپلواکۍ بیرغه وریږه
څار مو کړې له تا تنکۍ ځوانۍ بیرغه وریږه څار مو کړې له تا تنکۍ ځوانۍ بیرغه وریږه!

وروسته په سکرین زما د خپرونې ځانګړی زیګنال پیل شو، عمري سرښندونکي له بمونو ډک موټرونه د کفارو په پنډ غالو ور ننباسي لوخړې پورته شي د تکبیر کړېږه وشي ور سره جوخت، د لمبو او لوخړو په منځ کې د امیر المومنین تیت انځور ښکاره شي چې په څادر کې نغښتی د طالبانو په بدرګه د کابل ښار کې روان وي، ترانه لوړه شي:

یې د عصر خلیل، یې د عصر عمر موږه لریو که بر، یو ستا پوځ ستا لښکر

د ترانې په منځ کې زما غږ د امیر المومنین له تیت انځور سره را اوږ شي:
»د یووېشتمې پېړۍ اتل!
په دې خپرونه کې د یووېشتم قرن، بې نمونې مشران درپېژنو، د باروتي ځوانانو وروستي غږونه اورو د دوی د کورنیو احساسات ګورو، او خپل موجود نسل ته د ناټو شرموونکي ماتې مخې ته ږدو!
د یووېشتمې پېړۍ اتل«!

د ترانې له ټیټېدو سره د کمرو ګروپونه ولګیدل، د لونګۍ شمله مې له شانه رامخکې کړه، په مخامخ لوی سکرین مې لیکلی متن پیل کړ:
»د ملي تلویزون درنو لیدونکو السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته!
نحمده و نصلي علی رسوله الکریم!
د یووېشتمې پېړۍ اتل، لومړی خپرونه مو د یووېشتم قرن اوسپنیز انسان، د زړونو فاتح او د دې عصر عمر ته ځانګړې ده!
ګرانو لیدونکو، په دې خپرونه کې په ژوندۍ بڼه د عالیقدر امیر المومنین تر کوره ځو، له دوی سره خبرې کوو، د ناټو پر وړاندې د مبارزې سترې ترې پوښتو، د زغم، ترحم او مشرۍ د بریا رازونه ترې پوښتو، د دې ستر انسان پر اطاعت ویاړو، ستاسې انتظار پای ته رسوو او دوه دقیقې وروسته به موږ د عالیقدر امیر المومنین له کوره په ژوندۍ بڼه ستاسې په چوپړ کې یو!
د سکایپ غږ مې را ویښ کړم، موډیم مې کمپیوټر کې بند و، سکایپ کې انلاین پاتې وم، د ملګري زنګ مې و، د دروند انسان، د بې جوړې مجاهد، د ستر رهبر عالیقدر امیر المومنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات، سوی پیغام یې راسره شریک کړه، زما خوب نیمګړی پاتې شو!
رب العلمین دې د عالیقدر امیر المومنین د یووېشتمې پېړۍ باروتي سرښندونکي همداسې سره متحد لري، او د ستر رهبر ټولې قربانۍ دې قبوله شي!

د مرحوم امیرالمومنین ملامحمدعمرمجاهدرحمه الله په یاد کې

زمونږ امیره زمونږ ګرانه مشره
فخر تاریخه قدردانه مشره
ډېرو زړګیو ته درد ورسېده
ستا له رحلت ستا له هجرانه

رب دې په خپله مینه ونازه وه
الله دې واړه جنتونه درکړي
رب دې پوره کړه ارزو ګانې دژوند
رب دې بې شماره انعامونه درکړي

منم چې هجر دې له درده ډک دی
څلور طرفته پریشاني خواره ده
سترګې لمدې دې مسکا کډه کړې
یوه معصومه خاموشي خواره ده

ددې مظلوم ملت دهیلو غوټۍ
دغوړیدلو په ارمان پاتې شوې
ګرانه دستا په شان دبل پسرلي
مړاوې په غېږ کې دخزان پاتې شوې

خودا یوه کیسه په فخر کوو
چې لوی خالق لرو ناهیلي نه یو
دهجرانونو او مرګونو سره
شکر بلد یو نازولي نه یو

داسې متل مونږ له پخوا نه اورو
چې دزمرو کور بې زمرو نه وي
خر پر خالات قیاسوو مونږ په دې
چې لال اکثره بې ایرو نه وي

رهبره ستا دژوند او مرګ فلسفه
تشریح کول زما دوس کار نه دی
دې ته پکار دی بل نسیم حجازي
زما په شان دهر یو کس کار نه دی

خو فقط دومره باید ووایمه
چې په رښتیا ثالث عمر وې ګرانه
ته دحریت او خپلواکۍ امام وې
ته دایمان او غیرت غر وې ګرانه

ته په یوه معنا دوخت بلال وې
ستا په اذان مسلم امت بیدار شو
ستا په برکت په مسلمان ملت کې
ویده احساس داخوت بیدار شو

Shahamat

د عاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله د وفات او نوي زعيم د ټاکلو په اړه
دستر جهادي شخصيت مولوي جلال الدين حقاني صاحب پيغام

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !

ديو سالم فکر او ديوې سالمي عقيدې په بنياد بايد دومره ووايو چې د عاليقدر اميرالمومنين رحلت د ټولې اسلامي نړۍ، اسلامي امارت او خصوصا د اسلامي جهادي تحريکونو لپاره لويه خاليګاه ګڼو او د مرحوم مخلصانه خدمتونه په تمام اسلامي امت باندي نه هيريدونکی احسان بولو . متعال خدای دي عاليقدر مرحوم ته د فردوس جنت اعلی مقام او کورنۍ ته صبر جميل او اجر جزيل نصيب کړي.

مونږ پوره مطمئن يو چې منصور صاحب په پوره غور او شرعي طريقه ټاکل شوی او د عاليقدر ملا محمد عمر رحمه الله کماحقه جانشين دی، مونږ د اسلامي امارت ټولو لويو او وړو مسولينو ته د نوموړي سره د بيعت او پوره اطاعت کامله توصيه کوو، د خپل ځان او د خپل طرف د مجاهدينو لخوا اډډ ورکوو څنګه مو چې د عاليقدر مرحوم اطاعت کړی همدا راز به ستاسي تر قيادت لاندي د اسلام د مبين دين هر حکم ته لبيک وايو .

داچې د دين د ښمنانو په مسلمانانو کي هميشه د داسي فرصت څخه بد ه استفاده کړې ده، لهذا د اسلامي امارت ټولو ملګرو ته مي ځانګړې توصيه ده چې خپل منځي اتفاق او اتحاد مضبوط وساتئ، هوش چي د د ښمنانو د منفي تبليغاتو ښکار نشئ! خدای مکړه د شلو کالو په قربانيو او خدمتو مو خاورې واوړي، - اعاذنا الله من ذلک - نه تنها داچې ا ختلاف به د افغانستان په مستضعف و لس باندي منفي اغيزولري ،بلکي د ټولې نړۍ مسلمانان د دې اختلاف ښکار کيدلی شي، لهذا خپل صفونه منظم او په اتفاق سمبال وساتئ، خپله توجه د شکست خوړونکي د ښمن پر طرف واړوئ ، په اخر کي درته د رب لايزال څخه اتفاق ،يو والی، محبت، اطاعت او د مبيني فتحې غوښتونکی يم، خوشاله او بريالي اوسئ !.

والسلام عليکم

الحاج مولوي جلال الدين حقاني